


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: پښتو قدوري

لیکوال ::شیخ احمد بن حسین رح

ژباړن :: جان محمد کاکړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

وماتوفيقى الابالله ط عليه توكلت واليه انيب

نه دی توقیق زمامګرپه مرسته داالله پرهمدغه الله می توکل کړیدی اوهم دده ولوری ته رجوع کوم له ډیروخت نه می په زړه کښی آرزودرلوده چه وګرانوپښتنو پلرونو، میندو، وړونو، خویندو، زامنواولوڼو ته داسلام دمقدس اودحضرت سرورکائنات فخرالموجودات محمد رسول الله (ص) د شریعت په دننه کښی څه ناڅه خدمت وکړم مګرله یوی خوادعلم دکمښت له کبله اوله بلی خوادهجرت دژوندکړاوونه د آرزوګانواوامیدونوپه پوره کولوکښی راته لوی خنډ وو، کلونه تیر شوه مګرخنډونه لاپرځای وه، اوس چه دصبراوحوصیلی کاسه ډکه شوه نودلوی اومهربان خدای (ج) څخه می د مرستی په غوښتلو دهمت ملاوتړل چه دقدوری مشهورکتاب په خوږه پښتوژبه ترجمه اوله همدی لاری نه خوږې پښتواوګرانوپښتنوته مصدردخدمت وګرځم ځوهغه وړونه اوخویندی چه دپښتوژبی لیك اولوست کولای شی اوداسلام دمقدس دین اومحمدی (ص) شریعت له حکمونو او رکنونونه بی برخی پاتی دی پوره ګټه واخلی. علماصاحبانوډیر کوښښونه کړیدی، هغه وخت چه کامپیوټر نه وواودچاپولوآسانتیا ډیره لږوه دقدوری مشهورکتاب ئې لاپخواپه پښتواودری تحت اللفظ ترجمه کړیدی اولدی لاری نه ئې مسلمه امت ته لوی خدمت کړیدی، الله سبحانه وتعالی دی اجرعظیم ددوی ورپه برخه کړی آمین یارب العلمین .

که په رښتینه ورته ځیرشونودابه ومنوچه ډیرلږلوستونکوله تحت اللفظی ترجمی نه ګټه اخستیده اوزیات شمیرلااوس هم بی ګټی پاتی دی. دخوښی اوخوشحالی نه ډك پیغام خودادی چه شیخ الاسلام الحاج مولاناصاحب محمد عبیدالله ایوبی قندهاری سلیمانخیل دګرانوپښتنو درداحساس کړی اووپښتنوته دخدمت په هکله ئې دقدوری مشهورکتاب د(عروس نوبهار) ترعنوان لاندی په ساده اوآسانه خوږه پښتوترجمه کړیدی، زه دده دترجمه شوی کتاب په خبریدو دومره خوشحاله شوم چه خپل دخوشحالی اظهاردقلم په ځوکه نشم بیانولای، نوله زړه له کومی ومحترم شیخ الاسلام الحاج مولانامحمدعبیداله ایوبی قندهاری سلیمان خیل ته دده دخدمت په بدل کښی له لوی خدای (ج) له لوی دربارنه اجرعظیم اودکتاب دهرتوری په بدل کښی دجنت ښادی غواړم اوالله (ج) دی ورڅه راضی شی آمین .

دمحترم شیخ الاسلام مولاناصاحب محمدعبیداله ایوبی دپښتو شوی قدوری (عروس نوبهار) لیکونکی ګرانه خوږه پښتوډیره ترټلی ده واملا، انشاء اوجمله بندی ته یی هیڅ توجه نده کړی چه لوستونکی بیاهم له مشکل سره مخامخ دی لکه څنګه چه ښایی هغسی ګټه نشی ورنه اخستلای، نورنه غواړم چه دلیکونکی په باب څه ولیکم، ځکه دنوموړی کتاب لوستونکی دصحیح اوغلط ثبوت دکتاب له لوست نه کولای شی، خدای مه کړه چه لیکو نکی زماپه رشتیاویلوراڅه ناراضه شی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت اوزمان تیریږی انسانان، پیریانان، حیوانان اونباتات زیږی بیالوئیږی بیازږیږی اوبیامړه کیږی بعضی لویوالی یازوږوالی ته هم نه رسیږی مړه شی مگرکتاب مرگ نلری ترآبده ژوندی پاته وی، څومره چه کتاب فصیح وی اودملغروپشان پاك اوصفالیکل شویوی نه یواځی په آسانی دافهام اومفهوم وړوی بلکه دراتلونکی دپاره دمثال نمونه هم وی، امیدلرم چه تاسودهمدغه کتاب لوستونکی دحق په ویاړ زمادنظرموافق اوسیٔ، نوراشی چه وهدف ته درسیدلوپه هکله خپلی هلی ځلی پری نږدو، خپل وړونه اوخویندی دجهل له توری کندی نه دعلم په رڼاښکلی کړو اوددغه میلی اواسلامی مقدس خدمت دپیاوړتیادپاره دخپلوخادمانو وړونـوملابنـد شو، څـوپـه گـډه سره پـه ډیره آسانـه اوپسته خوږه پښتو دغه دقدوری کتاب ترجمه او وخپلوگرانوپښتنووړونواوخویندوته ئې دسوغات په توگه وړاندی کړو.

الله وایی ته ئې غـواړه زه بې درکـړم

طـلب وکـړه جهد وکړه بیابې درکـړم

که څه هم زماسره دعلم ذخیره نشته توکل پرعلی الله اودلوی او مهربان خدای (ص) په مرسته اوتوفیق سره دقدوری دمشهورکتاب دپښتوپه ترجمه اولیکنه پیل کوم څولدی لاری نه وگرانوپښتنو او گرانی خوږې پښتوته خالصانه خدمت وکولای شم.

ولاړشـه وگـرځـه دریـاب نـه گـوهـر راوړه

مأیوس مشـه د عطاء دریاب ئې لوی دی

مهمه یادونه:

کله چه لومړی ځل پښتوقدوری دکمپیوترپه ذریعه ولیکل شوه دکتاب دچاپ په هلکه می دکتاب ټول متن دکمپیوټر پر فلاپی ډسکیټ (Computer Floppy Diskette) باندی له ځان سره له آمریکانه په پاکستان کښی کویټی بلوچستان ته یووړ، مخکی دکتاب دچاپ نه می یوځل بیاټول متن ولوست چه دلوست په لړکښی څه ناڅه نیمگړتیاوی دپښتوپه املاء کښی ولیدل شوی، څرنگه چه زما د رصختیـ ورځی لږ وې نودچټکی اصلاح په هکله می داعتما د وړ یوه افغان ورورته وظیفه وسپارل نوموړی په ځلور ورځوکښی املائی اصلاح وکړل، له بده مرغه دنه وخت په لروسره می ونکړای شوای چه یوځل ئې بیاملاحظه کړم، زما آشنا حمداله (صحاف) ته می وویل زما وخت نور پاته ندی زه بیرته آمریکاته روان یم ته دکتاب دچاپولودنده سرته ورسوه خوکله چه کتاب چاپ شی څوجلده آمریکاته راواستوه حمداله خان همداسی وکړل کله چه ماکتاب ولید دکتاب چاپ او صحافت ډیردقدراوستاینی وړ وو زه له حمداله (صحاف) نه خوش شوم او دده دپاره دخدای (ج) له لوی دربارنه رضائت اوبښنه غواړم آمین یارب العلمین

.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه چه آمریکاته راورسیدل دکتاب په لوست می پیل وکړ ومی موندل چه داعتماد وړ افغان ورور د املائي اصلاح په لړکښی ډیری نوری سهوی کړیوی لکه تکراردجملو، دلغاتوترمابین ډیره فاصله اوداسی نور، زه دغه افغان ته دخدای (ج) له لوی دربارنه دهدایت غوښتنه کوم.

دکتاب داصلاح، دکتاب سره دعلاقمندانودعلاقې، وخوږی پښتو اوگرانوپښتنوته دخدمت او محمدی (ص) امت ته دخدمت په اړوند دقادرمطلق (ج) په مرسته اوتوفیق دکتاب په دوهم چاپ می پیل وکړ، خوسوال می دادی چه ته؛ هو داغه ته ددغه کتاب لوستو نکی یازده کونکی به په پاك زړه اوپاك وجدان څه مرسته وکړې؟ خواست درته کوم چه دکتاب له لوست نه وروسته دامیدپه ډك زړه او د اوښکوپه ډکوسترگو دپرودگارعالم (ج) په لوی دربارکښی دحضرت سرورکائنات فخر الموجودات محمدرسول الله (ص) دمرحومه امت په حق کښی دزړه له کومی دیووالی اوبښنی دعا وکړې ایجاب اوقبول ئې حتمی دی.

یوځل بیایادونه کوم که موکومه سهوه یاغلطی په کتاب کښی لیدلی وی خپله اسلامی دنده پرځای کړې دمحبت نه په ډکه خوله داصلاح په هکله ښوونه راته وکړې

فسهل یاالهی کل صعب بحرمت سیدالابرارسهل

جان محمد(کاکړ) Jaan Mohammad

۲۷۱۲ گورنیاک ډایو Gorniak Dr. 2712

پارلین، نیوجرسی ۰۵۵۸۹. آمریکا Parlin, NJ 08859 USA

ومن الله توفیق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

ټوله ثناءوصفت ثابت دی خدای (ج) ته چه دده پاك ذات ته سیال په دنیااوآخرت کښی نشته اورب د ټولومخلوقاتودی، ثواب د آخرت چه جنتونه اونعمتونه دی خاص دپرهیزګارانودپاره دی، او درودااوسلامتیا(رحمت دخدای) دی وی پررا استول شوی دخدای (ج) چه محمد (ص) دی ، دغه رنګه دی درود او سلامتیا وی پر اهل بیت (د کور پر غړو) ددغه محمد (ص)، داغه رنګه دی درود او سلامتیا وی پر هغه کسانو چه د محمد (ص) سره ئی صحبت کړیوی او درود او سلامتیا دی وی پر ټولو ذکر شوو باندی .

قدوری معتبر کتاب شیخ احمد (رح) د حسین پلار د محمود زوی د جعفر لمسئ د عراق د مملکت د بغداد په ښار کښی د قدوری د کلی اوسیدونکی چه پر هیزګاره، خدای پرسته او لوی عالم وو د خپل کلی په نوم (قدوری) سره مشهور ووتصنیف کړیدی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاکی بیان

دطهارت (اودس) دواجب کیدلودلیل قول دالله (ج) دی چه دقرآن شریف د المآئدة دسورت پـه شپـږم آیت کښی فـرمایی :

﴿یاَیهاالذین امنوااذاقمتم الی الصلوة فاغسلووجوهکم واید یکم الیالمرافق وامسحوبرءوسکم وارجلکم الی الکعبین﴾ یعنی ای هغوکسانوچه ایمان موراوړیدی کله چه تاسی هڅه وکړی ولمانځه ته نوووینځی مخونه خپل اولاسونه خپل دڅنگولو سره اومسح وکړی پرخپلوسروباندی اوهمدارنگه ووینځی پښی خپلی دبجولکو(پړکیو) سره.

دیادونی وړده چه دمخ دوینځلواندازه دتندی دلوړی برخی څه تر زنی لاندی پوری اوږدوالی اودیوه غوږ دنرمۍ څه دبل غوږ تر نرمۍ پوری ئې پسوردی.

اودس (طهارت) فرض دی ولی مصنف (رح) واجب ذکرکړیدی، که څه هم دفرضومنکرکافراودواجب منکرنه کافرکیږی خودعمل په میدان کښی دواړه یودی، که څوك عمل دفرض یادواجب ونه کړی نوددوږخ سزابه وینی .

په اوداسه کښی ددرو(۳) اندامونوپریمنځل اودسرمسح کول فرض دی، که څه هم داودس فرضونه څلوردی ولی مصنف (رح) دواړه لاسونه پریوه اندام اودوی پښی پریوه اندام شمیرلی دی.

پریمنځل دڅنگلواوبجلکو(پړکیو) زموږدمذهب ددرو (۳) علماوو په نیز داوداسه په فرضوکښی داخل دی یعنی که ونه وینځل شی نواودس نه صحیح کیږی، علماءکرام زموږ دمذهب امام اعظم ابوحنیفه (رح) چه اصل نوم ئې نعمان دی، دوهم دامام صاحب شاگردقاضی القضات اولوی مجتهد ابویوسف (رح)، دریم دامام اعظم ابوحنیفه (رح) بل شاگردچه په مذهب کښی ئې ډیرلوی کتابونه تصنیف کړیدی لکه مبسوط، جامع صغیر، جامع کبیر، زیادات، هارونیات اوداسی نور، محمد (رح) دشیبانی (رح) زوی دی. امام زفر (رح) په پورته موضوع کښی زموږ ددرو(۳)علماوو دحکم مخالف دی، دده په نیز په اوداسه کښی دڅنگلو او بجلکو پریمنځل فرض نه دی. دسرپه مسح کولوکښی اندازه دنزلی فرض ده چه دغه نزله څلورمه دسرکیږی لکه څنگه چه روایت دی له المغیره بن شعبه (رض) نه چه په تحقیق سره نبی (ص) دیوقوم د حاجت رفع کولوځای ته راغی اوهلته ئې خپل حاجت رفع کړ (بولي ئې وکړی) بیائې اودس تازه کړاومسح ئې پرمبارکه نزله او پرهغوموزوباندی وکړه چه په پښوئې وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اودس سنتونه

ويمنځل ددواړولاسودی مخکی له هغه نه چه په کوم لوښی کښی لاسونه غوټه کړی لکه څنګه چه نبی (ص) فرمایلی دی هرڅوك چه ستاسونه له خوب نه راویښ شی ترڅوچه دری(۳) ځلی ئې خپل لاسونه وینځلی نه وی لاس دی په لوښی کښی نه غوټه کوی ځکه چه دغه انسان خبرنه دی چه دخوب په حال کښی ئې لاس دبدن دکومی حصی سره پروت وو.

بل سنت په شروع کښی داوداسه د بسم الله الرحمن الر حیم ویل دی، بل سنت دمسواك استعمالول دی، بل سنت په خوله اوپه پوزه اوبه لغړول دی، بل سنت دغوړومسح کول دی، بل سنت دږیری خلا لول دی، بل سنت خلالول د لاسونواودپښودګوتو دی، بل سنت دری(۳) ځله وینځل داندامودی.

یادونه : سنت هغه عمل دی چه رسول (ص) همیشه توب پرکړی وی مګریویادوه ځلی ئې پری ایښی هم وی، دسنت کول ثواب دی اوپرنه کولو ئې جزاشته.

داودس مستحبـات

داودس په شروع کښی نیت کول مستحب دی، بل مستحب دټول سرمسح کول دی، بل مستحب په ترتیب سره اودس کول دی پس شروع دی کوی په هغه اندام چه خدای پاك ئې په ذکرشروع کړیده او په ښی طرف، یعنی اول دمخ وینځل بیادښی لاس وینځل بیا دکیڼ لاس وینځل بیادسرمسح کول بیا راسته پښه وینځل اوبیا چپه پښه وینځل مستحب دی.

داودس مـاتـونکـو بیـان

هرهغه شی چه د انسان د هری یوی لاری څه ددوو لارو راووزی (د مخ یادشالار) لکـه باد ( ګـوز یا پسکیـ)، بولی، غول وینه، منی، ودی چنجئ، همدارنګه که دبدن دهرځای نه وینه زوی یاژړی اوبه راووزی اودراوتلی ځای نه تجاوزوکړی اوداسی حصی ته ورسیږی چه پرهغه باندی حکم دپاکـیـدو وی اودس ئې مات شو بل لمانځه ته به اودس نوی کوی، په بل عبارت که دغه وینه یازوی یاژړی اوبه دبدن له هرځای نه راووزی اوله راوتلی ځای نه بلی خواته تیری ونکړی نواودس نه ماتیږی، په ډکه خوله قی وهل هم اودس ماتوی، په خوب سره هم اودس ماتیږی یعنی که چاپریوه شی څنګ اچولی وو یائې شا ویوشی ته تکیه کړیوه اوویده وو که د څنګ یادشاتکیه ورنه لیری شی اودغه شخص غوزارشی نواودس ئې مات دی بل لمانځه ته به اودس نوی کوی، که ویده نه وو محضی ئې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگی پټې کړیوی چورت ئې وهی نواودس ئې مات ندی، که دغه شخص په پټوسترګو یاروښوسترګوله خوب سره عادت درلودی اوویده شوی وو نوبیائې هم اودس مات دی بل لمانځه ته به اودس نوی کوی همدارنګه غلبه پرعقل په سبب دبیهوښۍ اولیونتوب اودس ماتوی یعنی که څوك دنیشی یا کومی ضربی په وجه داسی بیهوښه شی چه دنراوښځی توپیرنشی کولای یالیونی وی دنراوښځی توپیرنشی کولای نوبی اودسه دی داغه رنګه په هرهغه لمانځه کښې چه رکوع اوسجده ولری قهقه خندا(په لوړآوازخندا) کول اودس په ماتیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغسل بـیـان

غسل پردری قسمه دی فرض غسل، واجب غسل او سنت غسل. فرض غسل هم دری(۳) ډوله دی دجنابت غسل، دحیض غسل اودنفاس غسل، په غسل کښی دخولی، پوزی اوټول بدن وینځل فرض دی.

یادونه : په غسل کښی ډیراحتاط پکاردی دبدن هرهغه ځای چه بی تکلیفه اوبه وررسیږی وینځل ئې فرض دی لکه دغوږو شپیلۍ دنوغار، دورځواوبریتوپوست، دږری مابین، دښځی دباندی فرج . لازم ندی چه ښځه گوته په فرج دننه کړی، همدارنگه که دښځی سراودلی نه وو نو د ټولو ویښتانو پریمنځل ئې فرض دی که ئې کوڅۍ اودلی وی نودکوڅیودبیخ لندول کفایت کوی ځکه دغسل دپاره دکوڅیوسپړل حرج اوتکلیف دی، کومی ښځی چه دسرټول ویښتان په کنډورولړلي وی اودغسل په وخت کښی محضی اوبه پرتویوی اوبه دویښتانوو بیخ ته نه رسیږی غسل ئې صحت نه مومی نوبیا دغسل دصحت دپاره دکوڅیوسپړل فرض دی، دغسل په وخت کښی که دچاغوږوالی په غوږوی یائې گوتمۍ په گوته وی ښورول ئې ضروردی څودغوږوالیوسوری اودگوتمۍ لاندی پوست ته اوبه ورسیږی اوغسل صحت ومومی.

دغسل سنتونه : ددواړولاسونووینځل تربندوپوری، استنجاوهل که څه هم نجاست موجودنه وی، که نجاست موجودوی هغه به له بدن څه لیری کوی، بیادی داسی اودس تازه کړی لکه دلمانځه دپاره چه ئې تازه کوی مگرپښی دی نه وینځی، بیادی دری ځله پرسراوټول بدن باندی اوبه توی کړی دغسل له ځای نه دگوښه شی اوخپلی پښی دی ووینځی، که په غسل کښی دښځی د ویښتانووبیخ ته اوبه رسیدلی نوخپلی کوڅۍ دی نه سپڼی .

فرض غسل : له آلت څخه دنریاله فرج څخه دښځی په اثر د شهوت په غورځنگ سره دمنی راوتل که په خوب کښی وی که په ویښه که په بی هوښی سره وی که دهوښ په حال کښی وی که دجماع په ذریعه وی اوکه دغیرجماع، که دتصوریاچرت په ذریعه وی یاپه کوم بله ذریعه وی فرض دی چه غسل به کوی، په بل عبارت سره که یوڅوك درند شی پورته کړی اومنی ورنه راووزی نوغسل پری نشته ځکه چه اثردشهوت نشته، همدارنگه که دنراو ښځی دسنتۍ ځایونه سره یوځای شی اودنردآلت سرترسنت شوی ځای پوری دښځی په آلت کښی پټ شی یادنارینه دخاص اندام سردژوندی بنی آدم که نروی که ښځه دلویو بولوپه ځای کښی ننوزی که منی ورڅه راووزی اوکه راونوزی، که دوی دواړه بالغ وی نوپردواړوغسل فرض دی که یوبالغ وی نوپربالغ باندی غسل فرض اوپرنابالغه غسل فرض نه دی، دغه رنگه دحیض اونفاس ترختمیدلو وروسته هم غسل فرض دی چه دحیض کمه موده دری ورځی اوشپی اوزیاته موده ئې لس ورځی اوشپی ده، که د ښځی نه دوینو تویدل تردرو ورځواوشپوکم وه یاترلسو ورځواوشپو زیاد وه نوداحیض نه دی بلکه استحاضه (مریضی) ده، دحیض په ورځواوشپو کښی ښځی ته حکم دی چه لمونځ به نه کوی، روژه به نه نیسی، قرآئت دقرآن کریم به نه کوی اودمیړه سره به جماع نکوی مگرمستحاضه (مریضی) ښځی ته ددی هرڅه اجازت شته خواودس به تازه کوی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجب غسل : کوم کافرچه مسلمان شی اودکفرپه وخت کښی داسی حالت ورباندی راغلی وی لکه پرمسلمان چه غسل فرض کیږی هغه لمبیدلی نه وی یالمبیدلی وی خوپه شرعی طریقه نه وی لمبیدلی نوغسلورباندی فرض دی .

هغه غسلونه چه رسول الله (ص) سنت ګڼلی دی

دجمعی دورځی غسل دجمعی دلمانځه دپاره، ددوو(۲) اخترو د لمونځونودپاره، دعرفات دورځی غسل چه څوك په عربستان کښی دعرفات پرځمکه وی اودحج اودعمری داحرام دپاره.

دمذی او ودی پرراوتلوغسل نشته بلکه ددواړوپه راوتولوسره اودس ماتیږی، مذی هغه سرښناکه سپینی اونرمی اوبه دی چه دنراوښځی دساعت تیری په وخت کښی دذکرڅخه دنراوله فرج څه دښځی راوزی شهوت نه په مرکیږی اوغسل نه دی پرواجب . ودی هغه خټه اوبه دی چه دنریاښځی نه تربولو وروسته بیله شهوت نه راوزی.

په کومواوبواودس غسل اودجامووینځل روادی

دآسمان په اوبو(دباران په اوبو) دشیلی په اوبو، دچینی په اوبو د څاهانوپه اوبو، دسند په اوبو، دویالې په اوبو .

طهارت (پاکی) په هغه اوبوسره نده رواچه په نښتځلو سره له ونی یامیوی څه راووزی لکه د انګورو یا اناراوو داسی نورومیوڅه چه را ووزی، پرکومواوبوچه بل جنس غلبه وکړی (بل جنس ډیرپه ګډ شی) لکه خاوری، ریګ، شربت، شیدی، دباغلی اوبه، دزردکو اوبه، ښوروا، دګلابواوبه چه اصل اوبه له خپل طبیعت نه واوړی پاکی په روانه ده .

پاکی اوطهارت روادی په هغه اوبوچه یوپاك شی په ګډ شی او یو صفت له صفتوڅه داوبووربدل کړی لکه دسیل اوبه، د ګردماجو اوبه اوهغه اوبه چه زمی، زعفران اوصابون په ګډ شویوی .

که په ولاړواوبوکښی نجاست ولویږی اوبه که لږوی اوکه ډیری وی اودس یاغسل په کول روانه دی ځکه چه نبی علیه السلام امر کړیدی چه ولاړی اوبه دی له نجاست نه وساتلی شی اوفرمایلی دی چه څوك دی په ولاړواوبوکښی بولی نه کوی، د جنابت غسل دی نه پکښی کوی، همدارنګه رسول الله (ص) فرمایلی دی هرڅوك چه له خوب نه ویښ شی ترڅوچه خپل لاس ئې دری ځلی وینځلی نه وی د اوبوپه لوښی کښی دی نه غوټه کوی ځکه چه دغه شخص خبرنه دی چه زمالاس له بدن نه چیرته ویده وو. که په روانواوبو کښی مرداری (نجاست) ولویږی په هغه سره اودس تازه کول غسل کول اونوره پاکی په رواده ترڅوچه اثردمردارۍ په دغه اوبوکښی معلوم نشی، خوپه روانواوبوکښی تاثیر د مردارۍ نه پاتیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حوض او څاه د اوبو بیان

یودومره لوی حوض چه په یوه څنډه کښی ئې مرداری ولویږی اودمقابلی څنډی اوبه پلاس سره وښورول شی که مرداری ونه ښوریدل نودمرداری په مقابله څنډه کښی اودس اوپاکی رواده ځکه چه معلومه شوه چه دمرداری تاثیرومقابلی څنډی ته نه دی رسیدلی، داغه رنګه مرګ دهرهغه خزنده یاالوتونکی چه وینه نه لری اوپه اوبوکښی ژوندکوی اوبه نه په مرداریږی لکه غوماشه ، مچ، مچی، لړم، چونګښه اوداسی نور، اوهم مرګ دهغه خزند ګانوچه په اوبوکښی ژوندکوی اوبه نه په فاسدیږی لکه ماهی، مار، چونګښه، چونګاښ اوداسی نور.

استعمال شوی اوبه : هغه اوبه چه یوځل استعمال شویوی دوهم ځل دبی اودسۍ دلیری کولو د پاره ئې استعمال روانه دی مستعمل شوی اوبه هغه دی چه یوځل اودس په تازه شویوی یاغسل په شویوی که څه هم دغه اودس یاغسل ثوابی وی .

دحیوان دپوستکی بیان

هرهغه پوست که دحلال حیوان وی لکه پسه، غویی، اوښ اوکه د مردارحیوان وی لکه ګیدړه، شغال، لیوه اوداسی نور، چه پوخ شی نوحلال شی اولمونځ پرروادی، ځکه انسانان له دغو پوستکو نه پوستین، پوستینچه، بوټونه، کمربندونه اونورډیرشیان جوړوی که دغه حیوانات مړه شی نو ویښتان، هډوکی، ښکرونه، نوکان اوپلې ئې چه غوړنه وی پاك دی مګردانسان اوخنزیرپرپوست لمونځ روانه دی اودخنزیر(سرکوزی) هیڅ شی حلال ندی نواستفاده هم نه ورڅه کیږی .

دڅاه داوبوتفصیل

که په څاه کښی مرداری ولویږی نوضروردی چه ټوله اوبه له څانه راوکښل شی اوڅاه وچ شی چه حلال شی، کله چه نوری اوبه له چینونه وڅاته راشی نومعملومه خبره ده چه پاکی اوحلالی دی. که په څاه کښی موږك یاچوغکه یاوړوکی سورسری چوغکه یا توردلی (کوچنی تورمرغه) یاکربوړی مړشی وروسته دمړه شی له راایستلونه به له شلو(۲۰) نه تردیرش (۳۰) سلوغوپوری اوبه له دغه څاه نه راکاږی، تفاوت په تعدادکښی دسلوغوپه ظرفیت د سلوغوتعلق لری یعنی که سلوغه لویه وی نوحکم دشلو(۲۰) سلوغودی که سلوغه وړه وی نوحکم ددیرش(۳۰) سلوغودی. همدارنګه تفاوت په تعدادکښی دسلوغوحکم دواجب اومستحب هم قبلوی یعنی شل(۲۰) سلوغی اوبه راکښل واجب اونوری لس (۱۰) سلوغی اوبه راکښل ئې مستحب دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هریوله پورته ذکرشوی حیواناتویاالوتونکونه له څاه نه ژوندی راوایستل شی نوڅاه مردارنه دی بلکه حلال دی داوبوراایستلوته ضرورت هم نشته، لیکن که موږك زخمی وونوپه وینوئې ټول څاه مرداریږی، دغه رنګه که موږك دپیشوله ویری نه په ځغاسته وو اوڅاته ولویدی نوواضح خبره ده چه موږك بولی کوی نوبیادڅاه اوبه ټوله مرداری شوی.

که په څاه کښی کوتره مره شوه یاچرګه مره شوه یاپیشومړه شوه له څلویښت (۴۰) نه ترشپیته (٦۰) سلوغوپوری دی اوبه راوایستل شی، که په څاه کښی سپی یاخنزیر ولویدی وروسته له هغه نه چه له څاه نه مړیاژوندی راوایستل شوټوله اوبه دی له څاه نه را وایستل شی، که انسان په اوداسه وو په څاه کښی ولویدی او له څاه نه ژوندی راوایستل شونودڅاه اوبه پاکی دی مګرکه بی اودسه وو نو څلو یښت سلوغی اوبه دی له څاه نه راوایستل شی، که دغه انسان جنب وونوبیادی ټوله اوبه له څاه نه را و ایستل شی او څاه دی وچ شی، نورحیوانات لکه پسه، هوسی، شغال، ګیدړه اوداسی نورکه وڅاه ته ولویدل اوله څاه نه ژوندی راوایستل شوه نوحکمونه ئې په لاندی ډول دی:

١ . که ددغه حیوان پسخورده پاکه وه لکه دانسان نوڅاه پاك دی ۲. که ددغه حیوان پسخورده مرداره وه لکه دشغال، ګیدړی او داسی نورنودڅاه اوبه مرداری دی ټوله اوبه دی راوایستل شی، که پسخور ده دحیوان مکروه وه لکه دپیشونودڅاه اوبه هم مکروه دی مستحب ده چه لس سلوغی اوبه دی له څاه نه راوایستل شی، که پسخورده دحیوان مشکوکه وه لکه دخره نودڅاه اوبه هم په شك کښی دی ټوله اوبه دی راوایستل شی اوڅـاه دی وچ شی .

له څاه نه داوبوراایستل دمیانه سلوغی په شمارسره اعتبارلری یعنی سلوغه به نه غټه وی اونه به وړه وی، که دچټکوالی په خاطرغټه سلوغه استعمال شی نولومړی دی په میانه سلواغه سره اندازه شی چه څومره میانه سلوغی په یوه غټه سلوغه کښی ځائیږی، دمثال په توګه که د دوو(۲) میانه سلوغو اوبه په یوه غټه سلوغه کښی ځای شی نودشل (۲۰) سلوغوپه عوض کښی دی په غټه سلوغه سره لس (۱۰) سلوغې اوبـه راوایستل شی.

که په څاه کښی مړحیوان پیداشو، حیوان دی له څاه نه راوایستل شی اوودی کتل شی که دغه حیوان پړسیدلی ووياشوړیدلی وو نو ټوله اوبه دی له څاه نه راوایستل شی، دلته دلوی او واړه حیوان توپیر نشته خوڅاه دی وچ شی، اوکه وڅاه ته ډیری چینی (چشمی) ورخلاصی وی امکان دوچیدوئې نه در لودی اودڅاه وچیدل هم واجب وه نوهغه اندازه اوبه دی راوایستل شی چه دمرداریدوپه وخت کښی په څاه کښی موجوده وی چه تعین اواندازه ئې پر دری (۳) ډوله کیدلای شی اول دڅاه اوبه دی په یوه لکړه سره اندازه کړی (ژوروالی داوبودی معلوم کړی) اودڅاه پسوراواوږدوالی دی هم معلوم کړی بیادی په دغه اندازه سره بل ځای نژدی غار کړی له لومړی څاه نه دی اوبه راباسی پدغه غارشوی ځای کښی دی اچوی کله چه دغه غارشوی ځای ډك شونوڅاه پاك شو .

دوهم په یوه لکړه سره دی دڅاه اوبه اندازه کړی (ژوروالی داوبودی معلوم کړی) بیادی چابك لس (۱۰) سلوغی اوبه له څاه نه راوکاږی په همهغه لکړه دی دڅاه اوبه اندازه کړی چه معلومه شی چه په لس (۱۰) سلوغوسره دلکړی په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندزه څومره کموالی کیږی، لکړه دی دهرلسو(۱۰) سلوغوپه اندازه نښانی کړی کله چه دآخری نښانی لس سلوغی اوبه راوایستل شوی نوڅاه پاك شو، په بل عبارت سره وروسته دڅاه داوبوله اندازه کولونه په راایستلو سره داول لس (۱۰) سلوغودلکړی په اندازه نیم گز تفاوت دی نو د لکړی له اولی نښانی نه بیادلکړی ترڅوکی پوری پرهرنیم گز یوه نښانه اوټولی شل (۲۰) نښانی وی نوتعداددسلوغودوه سوه ته رسیږی یعنی چه دوه سوه (۲۰۰) سلوغی اوبه را و ایستل شی د څاه زړی اوبه ټولی ختم شوی او څاه حلال شو. دریم موجودوالی دداسی دووکسانودی چه دنوی اوزړواوبوښه توپیرکولای شی اوبه دی په دوامداره توگه له څاه نه راایستل کیږی هرکله چه دغو دووکسانو وویل چه زړی اوبـه خـلاصی شوی نـوڅـاه حــلال شو .

له محمدنه چه دحسن(رح) زوی دی روایت دی چه له څانه دی له دوه (۲۰۰) سلوغونه تردری (۳۰۰) سلوغوپوری اوبه راوایستل شی نوڅاه حلال دی یعنی دوه سوه سلوغی واجب اونوری سل سلوغی مستحب دی، مگرعلماء (رح) وایی چه امام محمد(رح) فیصله پرغالبه څاهانودبغدادکړیده چه د بغداد په څاهانوکښی تردوه سوه سلوغی بالااوبه نه وې، پس په هغوڅاهانوکښی چه اوبه ئې تردری سوه سلوغی ډیری وی څوك دی دامام محمد(رح) پرقول فتوی نه ورکوی، ولی مقادیرپه عقل نه معلومیږی، شك نشته چه دامام محمد(رح) قول وعواموته ډیره آسانی ده نولدی کبله په خزانة المفتین کښی ذکرشویدی چه فتوی پرقول دامام محمد (رح) ده، دغه رنگه بحررائق اوشرح الوقایه وایی چه په قول ددوو کسانوچه دنوی اوزړواوبوتوپیرکولای شی عمل وکړل شی، په هدایه کښی هم وایی چه دغه مذهب وفقه ته نژدی دی.

کـه پـه څـاه کښی مـړحـیـوان پـیـدا شـو

که په څاه کښی مړموږك یامږه چرکه یاداسی بل حیوان پیدا شو اوڅوك خبرنه ووچه کله دغه حیوان وڅاه ته لویدلی دی اودغه حیوان نه پړ سیدلی وواونه شوړیدلی وو، هغه کسانوچه ددغه څاه په اوبو ئې اودس یاغسل کړیوی په پاکواوبودی خپل اودس یا غسل نوی کړی اودیوی ورځی اویوی شپی لمونځونه دی بیرته را وگرځوی اوهرهغه شی چه ددغه څاه اوبه وررسیدلی وی بیرته په حلالواوبو ومینځی اوڅاه دی پاك کړی، امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی که حیوان پړسیدلی وویاشوړیدلی وونووروسته له اودس یاغسل نوی کیدونه دی د درو(۳) ورځواودرو(۳) شپولمونځونه را وگرځوی مگرامام ابویوسف (رح) اوامام محمد(رح) وایی که دغه حیوان پړسیدلی یاشوړیدلی وی یانه وی ترڅوچه ثابته شوی نه وی چه کله دغه حیوان څاه ته لویدلی وودلمونځونوراگرځول نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسـان او حـیـوان پـسخـورده

پسخورده دانسان اودآس اودهرهغه حیوان چه دغوښوخوړل ئې روا وی پاکه ده، پسخورده دسپی او دخنزیراوڅیرونکوچارپایانو لکه لیوه، زمری، شغال، پړانگ اوداسی نورومرداره ده، پسخورده د پیشو، دکوڅه گنښتی چرگی یاچرگ، دهغه ځیرونکومرغانوچه غوښی ئې نه خوړل کیږی لکه ټپوس، کارگه پکه باښه اوداسی نوراودهغه حیوانانواوخزندگانوچه په کوروکښی ژوندکوی لکه موږك او مار مکروه ده، پسخورده دخره اودغاتری مشکوکه (په شك) ده، که څـوك دلمانځه پروخت داودس کولودپاره اوبه پیدا نه کړی دخره یاغاتری په پسخورده اوبودی اودس وکړی بیادی تیمم ووهی او لمونځ دی وکړی، که اول تیمم ووهی بیاپه دغه پس خورده اوبواودس وکړی صحیح دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تیمم بیان او احکام

تیمم دپاکۍ اوطهارت لوی رکن دی چه په آیت اوحدیث سره ثابت دی دقرآن کریم دسورت المـآئدة په شپږم آیت مبارك کښی الله (ج) فرمایی﴿فلم تجدواماَء فتیموا صعیداطیبا﴾ یعنی که مو اوبه پیدانه کړی نوپرپاکه ځمکه تیمم وکړی، رسول الله (ص) فرما یی﴿التیمم طهورالمسلم مالم یجد الماء﴾ یعنی تیمم مسلمان لره پاکی ده ترڅوچه اوبه ئې نه وی پیداکړی، که یوڅوك مسافروو یادښاراوکلی نه دباندی وتلی وو داودس تازه کولودپاره ئې اوبه پیدانه کړی اومسافه په مابین کښی دده او دښار(مسافه په ما بین کښ دده اوداوبو) یو(۱) میل یاتریومیل هم اضافه وه یائې اوبه وموندلی خودغه شخص ناروغه وو ویریدی چه استعمال د اوبوبه ناروغی ورزیاده کړی یاویریدی که دجنابت غسل په اوبو وکړی یخنی به ئې مړکړی یابه ئې ناروغی ورزیاده کړی نوپه پاکه خاوره دی تیمم وکړی، په تیمم کښی نیت فرض دی اوپه اوداسه کښی نیت مستحب دی، په خوله نیت کول داسی دی (نیت کوم له زړه داخلاصه تیمم وهم په پاکه خاوره چه بی اودسی رانه لیری شی اولمونځ راته رواشی) که تیمم دقرآن دتلاوت دپاره وی نو داسی دی ووائی(نیت کوم له زړه داخلاصه تیمم وهم په پاکه خاوره چه بی اودسی رانه لیری شی اوتلاوت دقرآنکریم راته رواشی)، تیمم دوه واری د دواړو لاسونوخپړی اوګوتی پرپاکه خاوره وهل دی چه په اول ځل به په دواړولاسونومخ مسح کوی اوپه دوهم ځل به ښی لاس دکڼ لاس په خپړه اوګوتو اوکیڼ لاس دښی لاس په خپړه اوګوتوسره مسح کوی خو د دواړولاسوڅنګلی په مسح کښی شامل دی، تیمم که دباوودسۍ دلیری کولودپاره وی اوکه دجنابت دلیری کولودپاره وی فرق ئې نشته ددواړودپاره دغه تیمم دی، په نظردامام اعظم ابوحنیفه (رح) اوامام محمد(رح) تیمم په هرهغه شی سره روادی چه دځمکی له جنس نه وی لکه خاوره، ریګ، ډبره، ګچ، اهاك رانجه، زرنیخ او داسی نور، مګر امام ابی یوسف (رح) وایی چه تیمم بیله خاوری اوریګ نه په بل شی روانه دی، همدارنګه امام شافعی(رح) وایی چه یواځی او یواځی په خاوره روا دی ځکه چه الله (ج) فرمایلی دی ﴿صعیدا طیبا﴾ دطیب معنی پـاکه اوامام شافعی(رح) وایی چه د صعید معنی شنه کونکی دوښو نوپرښرنه اوترخه ځمکه تیمم روانه دی.

دتیمم ماتونکی : ټول هغه څه چه اودس په ماتیږی تیمم هم په ماتیږی، برسیره پرهغه که چااوبه ولیدلی اوپراستعمال داوبو ئې قدرت وموندہ تیمم ئې مات (ضایع) شو.

هغه څوك چه دلمانځه په اول وخت کښی داودس اوبه نشی موند لای اوامیدکوی چه ترآخروخت پوری به اوبه پیداکړم نومستحب ده چه لمونځ ترآخروخت پوری وځنډوی، که ئې اوبه وموندلی نو اودس دی وکړی اولمونځ دی وکړی که ئې اوبه ونه موندلی نو تیمم دی وکړی، ترڅو چه اوبه ئې نه وی موندلی ټول لمونځونه دی په دغه تیمم وکړی که فرضی وی اوکه نفلی وی، مګرامام شافعی(رح) وایی چه هرفرضی لمونځ ته به علیحده تیمم کوی . تیمم روادی وجوړاوروغ ته که څه هم مقیم اوپه ښارکښی وی، که یوه جنازه دلمانځه دپاره حاضره شی اومتصرف دجنازی بل څوك وی که لمونځ کونکۍ ویریدی که دجنازی دلمونځ دپاره داودس په کولومشغول شی دجنازی لمونځ ورنه تیریږی نودتیمم کول ورته روادی، همدارنګه که څوك داخترونوولمانځه ته حاضرشوباوودسه وو او ویریدی که په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس کولومشغول شی ټول لمونځ ورنه تیر یږی نوتیمم دی وکړی اوپه لمونځ کښی دی شریك شی، هرهغه لمونځ چه عوض نلری اوپرپاته کیدوئې ویره وی تیمم ورته روادی لکه د جنازی اواخترونولمونځ، هرهغه لمونځ چه عوض لری که څه هم قضاء کیږی تیمم ورته روانه دی، همدارنګه که څوك د جمعی لمانځه ته حاضرشواوویریدی که په اودس کولومشغول شی لمونځ ورنه تیریږی، تیمم دی نه کوی خپل اودس دی تازه کړی که ئې دجمعی په لمانځه کښی ګډون کولی شوپه لمانځه کښی دی ګډون وکړی که ئې ګډون نشوای کولای نودماپښین څلوررکعته فرض دی وکړی، همدارنګه که دوخت تنګی وه او د اودس په مشغولادلمانځه وخت تیریدی نوتیمم دی نه کوی بلکه اودس دی وکړی اودلمانځه قضاء دی راوړی .

دامام اوبوحنیفه (رح) اوامام محمد(رح) په نظرمسافرچه په بار کښی ئې اوبه هیری شویوی تیمم ئې وکړاولمونځ ئې په وکړ د لمانځه وخت لانه وو تیرشوی چه اوبه ورپیاد شوی نولمونځ دی نه راګر ځوی مګرامام ابی یوسف (رح) وایی چه لمونځ دی راوګرځوی پرتیمم کونکی غوښتنه داوبونشته ترڅو غالب ګمان ئې نه وی چه اوبه وده ته نژدی دی بلکه تیمم دی وکړی اولمونځ دی وکړی که څه هم ورو سته له لمانځه نه په وخت کښی اوبه پیداکړی دلما نځه راګرځیده ورباندی نشته، داحکم په صحرا کښی دی ولی چه غالبه په صحراکښی اوبه نه وی مګرپه آبادوځایوکښی طلب داوبو واجب دی، که ئې ګمان غالب شوچه دلته اوبه شته یعنی په یوه علامه سره لکه شنی ونی نوتیمم ورته روانه دی، تر څوچه طلب د اوبوبه کوی.

## پر موزو باندی د مسح بیان

درسول الله (ص) په قول اوفعل (سنت) سره مسح پرموزوباندی روا ده، له هرهغه بی اودسی نه چه اودس کول پرواجب وی یعنی که پرچاغسل واجب وی نومسح پرموزو ورته روانه ده، له حضرت امام حسن بصری (رح) نه روایت دی چه ما اویا (۷۰) کسان اصحا بان (رض) لیدلی دی چه ټولو پرموزو مسح روابلله اوعمل ئې په کوی، حضرت امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی ماهغه وخت جواز دمسح پرموزوباندی ورکړچه ماته دورځی درڼاپشان حدیث ورسید همدارنګه امام اعظم صاحب (رح) وایی زه ویره دکفرپرهغه چالرم چه پرموزوباندی له مسح نه وی منکروی، دموزواغوستل او مسح پرکول یواځی د اودس دتکمیل نه وروسته شرط نه دی بلکه داودس دتکمیل نه مخکی ئې هم اغوستلای شی اوورپسی دی نوراودس وکړی، داچه قدوری (رح) کامل طهارت لیکلی دی مقصد ئې جنابت دی یعنی که څوك جنوب وو لازم به اول اودس بیا غسل کوی، وروسته دموزواغوستل اومسح کول ورته روادی دمسح شروع له بی اودسی نه وروسته ده، دمسح مدت پرموزو د مقیم دپاره یوه شپه اویوه ورځ ده، که په دغه یوه شپه اویوه ورځ کښی ئې اودس مات شونوداودس نوی کولوسره بیادپښو وینځل نشته بلکه پرموزومسح کول شته، همدارنګه دمسح مدت ومسا فرته وروسته له بی اودسی نه دری ورځی اودری شپی دی، د مسح کولوترتیب دلاس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوندوګوتو او ورغوی سره دموزو پر ښکاره حصه له پښې له ګوتونه ولوړخواته ترپنډۍ پوری دلاس کشول دی چه دګوتوخطونه پرموزه ولویږی خودلاس ګوتی به سره موښتی نه وی بلکه خلاصی به وی نوپه دغه ترتیب به دښی پښی موزه په ښی لاس سره اودکیڼی پښی موزه په کیڼ لاس سره مسح کوی، پرموزوباندی مسح کول لږترلږه د لاس په مابینی دروګوتوسره فرض ده یعنی که دغه مسح په دووګوتووشی نو فرض ئې پرېښوده اومسح صحیح نه شوه . هغه بوټ چه دپښی بجلکی پټوی دموزی حکم لری، یعنی غاړه لرونکې بوټ اوموزه یوشان دی، که دیوی پښی موزه ډېره څیری وی چه دپښی دری وړی ګوتی یا د درو وړوګوتوپه اندازه پښه ورڅه معلومیږی نو د دواړوپښوپرموزومسح نه صحیح کیږی، که لږ څیری وی بیا مسح پررواده . لکه څنګه چه مخ کښی هم ذکرشوه پرچاچه غسل واجب وی (جنوب وی) مسح پرموزو ورته روانده، په یوه حدیث شریف کښی چه روایت یی نسائی اوترمذی کړیدی ذکرشویدی چه صفوان دعسال (رض) زوی وایی رسول الله (ص) موږ ته امروکړچه تاسی مسافریاست دری (۳) ورځی اوشپی خپلی موزی مه کاږی بلکه مسح پرکوی، مګرکه څوك جنوب شی هغه به موزی کاږی اول به اودس اوبیابه غسل کوی وروسته به موزی په پښوکوی او مسح به پرکوی .

دمسح ماتیدونکی : هرهغه عمل چه اودس په ماتیږی مسح هم په ماتیږی، برسیره پردغواعمالوکه دمسح مدت پوره شی یا موزه له پښی نه وایستل شی مسح ماتیږی، کله چه مدت دمسح پوره شو او شخص په اوداسه وونوموزی دی له پښووباسی پښی دی ووینځی نوراودس تازه کول نشته بیرته دی موزی واغوندی مسح دی ورباندی وکړی اولمونځ دی اداکړی، که څوك مقیم وو موزی ئې په پښو کړی اومسح ئې پروکړه دمسحمدت یوه ورځ اویوه شپه پوره شوی نه وه په سفر ولاړی نودغه مسح هم مسافرشول مدت ئې دری ورځی اودری شپی دی، امام شافعی (رح) وایی چه دغه مسح مسافر کیدلی نشی بلکه دمقیم مسح دی ختم کړی بیا دی دسفرمسح په سفرکښی وکړی .

که څوك مسافروواومسح ئې کړیوه یوه ورځ اویوه شپه یااضافه ترشپی اوورځی ورباندی تیره شوه مقیم شونومسح ئې هم مقیم شول اومدت ئې هم پوره شولازم ده چه موزی له پښونه وباسی که ورځ اوشپه نه وه ورباندی تیره شوی نوموزی دی نه وباسی مدت دمسح دی پوره کړی بیادی موزی وباسی

که چاموزی په پښوکړی اوبرسیره ئې جرموقی په پښوکړی مسح پرجرموقو رواده (جرموق هغه لوی بوټ دی چه دموزودساتلو د پاره برسیره پرموزواغوستل کیږی) . مسح پرجرابوهغه وخت رواده چه دجرابوښااوخواڅرمن ګنډلی وی یائې تلی له څرمنی وی، امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی هغه جرابی چه نه ئې تلی له څرمنی وی اونه ئې ښااوخواڅرمن ګنډل شویوی مسح پرروانه ده مګر یاران (رح) وایی چه مسح پرجرابورواده چه جنسیت ئې داسی سخت وی چه پښه ترمعلومه نه شی اوبه جذب نه کړی اوبیله کشك اوتناب نه پرپنډیوموښتی وی . مسح پرلنګوټه، پرخولۍ ، پر بقره (بوغره) اودستکلوباندی روانه ده، که دبدن کوم ځای زخمی یامات وی اوترل شوی وی داوداسه په وقت کښی دهغه خلاصول یازخم ته داوبورسیدل تاوان ولری نومسح لازم اوپرراوده، که زخم جوړنه وو او پنډکې ورڅه ولویده بیرته دی پنډکې پرکښیږ دی که ئې ترل غوښتل بیرته دی وتړی بلی مسح ته ضرورت نشته هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکنۍ مسح کافی ده، مګرکه زخم جوړشوی وو اودغه شخص په اوداسه وو مسح باطله شوه یواځې هغه ځای دی ومینځې نوی اودس تازه کول نشته.

## د حیض بیان

که څه هم بیان دحیض دی دنفاس احکام ورسره مل دی، مصنف (رح) ځکه عنوان دحیض ورکړچه حیض ډیرواقع کیږی، ډیری میندی اوخوندی دپښتو او دری لیك او لوست نشی کولای دحیض نفاس اواستحاض له احکامونه بی برخی پاته دی، که څه هم بعضو په وړکتوب کښی سه پاره، قرآنکریم، پنج کتاب او شروط الصلوة لوستی دی چه په هغوی کښی ددغه احکاموبیان نشته اوس چه لوی ښځې شویدی له یوی خوامحرم ښوونکې نه لری او له بلی خواښونکې دشرم اوحیاپه سبب تفصیلی ښوونه نشی کولای اونه هم زده کونکې دشرم او حیا په سبب تفصیلی پوښتنه کولای شی، له نیکه مرغه ننۍ میندو او خوندود پښتو او دری سواد ترلاسه کړیدی کولای شی په ډیره آسانی سره دغه پښتو قدوري نه یواځې د ځان ښوونکې وګرځوی بلکه بی خبرو میندو او خوندوته دی هم ښوونه وکړی .

حیض هغـه وینـه ده چـه دبالـغی ښځې داولاد دجـوړیدولـه ځای (رحیم) نه راوزی، دحیض کمه مده دری ورځې او دری شپې ده که دوینی راوتل تردرو (۳) ورځو او درو (۳) شپو لږ وه نو دا حیض نه دی بلکه استحاضه (مریضی) ده، ډیره مده د حیض لس (۱۰) ورځې اولس (۱۰) شپې ده، که له لسو (۱۰) ورځو او شپو وروسته هم وینه را وتل نو دا هم حیض نه دی بلکه استحاضه (مریضی) ده، ښځه چه دحیض په مدت کښی له رحیم نه سری، ژړی اوسپیری اوبه راوتل ووینی هغه ټول حیض دی، کله چه خاص سپینی اوبه را ووتلی نو حیض خلاص شو، حیض له حـایضی ښځې نه لـمونځ ساقطوی یعنی ښځه به دحیض په مدت کښی لمونځ نه کوی کله چه له حیض نه پاکه شوه نو د لمونځونو قضاء هم ور باندی نشته همدارنګه ښځې ته دحیض په مدت کښی روژه نیول حرام دی خو کله چه له حیض نه پاکه شوه او د روژی میاشت هم تیره شوه نو بیا به د روژو قضاء راوړی، که د ښځې روژه وه حیض ورته راغی روژه ئې ماته شوه ترروژه مات پوری روژه ساتل حرام دی، کله چه له حیض نه پاکه شی ددغی ورځې دروژی قضاء به راوړی همدارنګه که دروژی په میاشت کښی ښځه په حیض کښی وه دورځې په مابین کښی له حیض نه پاکه شوه تر روژه مات پوری دی امساك وکړی او هم دی ددغی روژی قضاء راوړی، کومه ښځه چه په حیض کښی وی مسجد ته دی نه داخلیږی او د خدای پر کور (بیت الله) دی طواف نکوی، د میړه سره دی یو ځایوالی نه کوی حایضه ښځه او نفاسه ښځه یا کوم څوك چه جنب وی د قرآن کریم لوست دی نه کوی، هر هغه څوك چه بی اودسه وی قرآن شریف ته دی لاس نه وروړی (جنوب، حایضه، نفاسه) دری واړه بی اودسه دی قرآن شریف ته لاس وروړل ناروادی، مګرپه یوه پاك ټکری یاکوم بل پاك شی سره ئې نیول روادی، که د حائضی ښځې د وینو بهیدل د لس (۱۰) ورځو او شپو نه مخکی ودریدل ترڅو چه غسل ئې نه وی کړی یا پوره دیوه لمانځه وخت نه وی تیرشوی دمیړه سره وطی (یوځایتوب) کول ناروادی، ځکه چه دحیض وینه کله کله ودریږی او بیا بیرته جاری شی نو باید د وینی کامل دریدل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غسل یا د لمانځه په یوه مکمل وخت تیریدلوسره وپیژندل شی، امام محمد (رح) فرمایلی دی چه ښځی ته دلمانځه دیوه وخت تیریدلو نه مخ کښی دتیمم په وهلو سره د میړه سره یوځای کیدل روادی مګرپه دغه تیمم سره لمونځ ورته روانه دی له ښځی سره دحیض په وخت کښی دنارینه یوځای کیدل لویه (کبیره) ګناه ده چه علاج ئې په توبه او خیرات سره کیږی، همدارنګه که دښځی د وینی بهیدل پرلسمه ورځ ودریدل نو له غسل نه مخکی د میړه سره یو ځایوالی ورته روادی ځکه چه حیض له لس ورځونه زیادنشته مګرغسل ته انتظارکول مستحب دی.

پاکی د دوو وینوچه په مابین کښی د دوو وینوراشی هغه لکه جاری وینه یعنی ټوله حیض ګڼل کیږی چه په عربی (طهرمتخلل) ورته ویل کیږی، دطهرمتخلل په باب ډیرقولونه اواختلافات شته چه د فتاواوو په کتابوکښی ئې په تفصیل سره ذکرشویدی، په ټولو کښی دحضرت امام ابی یوسف (رح) قول آسانه دی چه فرمایی که میانګړی پنځلس ورځی ووفاضل ګڼل کیږی یعنی مخکنی او وروستنی وینه سره ګډیږی، که ترپنځلس ورځوکم ووهغه فاضل نه دی، که تردرو ورځوکم ووهغه په اتفاق سره فاضل نه دی بلکه ټوله پرله پسی وینه ګڼل کیږی، مګرامام اعظم ابوحنیفه (رح) وایکه طهر(پاکی) دری ورځی یااضافه تردروورځووی هغه فاضل دی، ولی امام ابی یوسف (رح) ئې فاضل نه ګڼی که څه هم لس ورځی وی، په کتابوکښی ذکرشویدی چه امام اعظم (رح) وقول ته دامام ابی یوسف (رح) رجوع کړیده اوډیرفقها(رح) هم دامام ابی یوسف (رح) قول تائیدوی . کم مدت دپاکۍ پنځلس ورځی دی ډیرمدت ئې پای نه لری ځکه چه دښځوطبیعتونه مختلف دی بعضی ښځی له عیال زیږولونه وروسته په میاشتومیاشتو پاکی وی، ترڅوچه وینه ښکاره کیږی ښځه به هم لمونځ کوی اوهم به روژه نیسی که څه هم کال یادوه کاله یابالاتیرشی، کله چه د ښځی دبولوله ځای نه وینه په بهیدلوشروع وکړی که دغه دوینو بهیدل له درو(۳) ورځواوشپونه کمه وه یاله لسو(۱۰) ورځواوشپو نه زیاده وه استحاض (مریضی) بلل کیږی پس داستحاض دوینو حکم دپوزی دوینوحکم دی یعنی نه دلمونځ پریښودل شته نه د روژی خوړل شته اونه له خاوندسره دیوځایوالی پرهیزشته ولیکن هرلمانځه ته به اودس نوی کوی، که امیدواری ښځی دری ورځی یالس ورځی له بولوله ځای نه دوینوبهیدل ولیدل نومریضی یا استحاضه بلل کیږی، همدارنګه که کومی ښځی شپږورځنی د حیض عادت درلودی اوپه یوه میاشت کښی دوینوبهیدل ترشپږ ورځوبالاشونوترلسوورځوپوری دی نه لمونځ کوی اونه دی روژه نیسی، که پرلسمه ورځ دوینی بهیدل قطع شوه نوټولی لس ورځی دحیض دی که دوینی بهیدل ترلس ورځوبالاشوه د اوو(۷) ورځونه وروسته ټول استحاضت دی، داښځه به له اوو(۷) ورځونه وروسته دلمونځونواوروژو قضاء راوړی، همدارنګه که دښځی نفاس ترڅلویښت (۴۰) ورځوتیرشی هغه مرض دی، که ځوانی نجلکۍ ته دحیض سره سم دوینی دبهیدلوناروغی ورپیښه شوه نودامام اعظم اوبوحنیفه (رح) په مذهب اودامام محمد (رح) په مذهب اولی لس (۱۰) ورځی ئې دحیض اوپاتی شل (۲۰) ورځی ئې د استحاضت (مریضی) دی، که دغه نجلکۍ لنګه شی نفاس ئې څلویښت ورځی اوشپی دی متباقی ورځی اوشپی ئې مریضی (استحاضت) دی، مګرامام ابی یوسف (رح) وایی چه حیض ددغی نجلکۍ دلمونځ اودروژی په حق کښی دری ورځی اوشپی دی چه کمه مده دحیض ده اودطلاق دعدی په حق کښی دحیض مدت لس ورځی اوشپی دی، مستحاضه ښځه یا هغه څوك چه بولی ئې همیشه بی اختیاره څڅیږی یائې له پوزی نه همیشه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینی څاڅی یائې همیشه بی اختیاره ګیډه بهیږی یائې همیش بی اختیاره بادجاری وی یاکـوم زخـم وی چه وینه ئې نـه دریږی د هـروخت لمانځه ته دی اودس نوی کوی اوپه دغه اودس دی دهغه وخت ټول لمونځونه چه خوښ ئې وی که فرض وی که سنت وی که نفل وی اداکړی، ددغومعذورکسانوجامی که دلمانځه په وخت کښی مرداری شی باك ئې نشته مګردبل اودس نوی کولوپه وخت کښی به هغه مرداری جامی وینځی، امام شافعی(رح) وایی چه دهر لمانځه دپاره به جدااودس نوی کوی یعنی دوه فرض لمونځونه په یوه اودس نشی اداکولای، کله چه دلمانځه وخت تیرشونوددوی اودسونه هم باطل شوه، دبل وخت د لمانځه دپاره به اودسونه نوی کوی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نـفاس بیـان

نفاس هغه وینه ده چه وروسته دکوچنی له زیږیدلونه دښځی له رحیم نه رابهیږی، کومی وینی چه له امیدواری ښځی نه راوزی او هغه وینی چه دکوچنی دزیږیدلوپه وخت مخکی دکوچنی تر راوتلوله ښځی له رحیم نه راوزی استحاض (مریضی) ده، هم به لمونځ کوی اوهم به روژه نیسی، که له ښځی نه دلمانځه پروخت مخکی دکوچنی ترراوتلووینه جاری شوه دغه لمونځ به کوی که ئې اودس کولای شو اودس دی وکړی کنه تیمم دی وکړی لمونځ دی په ولاړه یاپه ناسته یاپه پروتی یاپه اشاره سره اداکړی که دلمانځه وخت ورنه تیرشوددغه لمونځ قضاء به راوړی، کم مدت دنفاس حد (اندازه) نلری ولی ډیر مدت ئې څلویښت ورځی دی که له څلو یښت ورځونه زیادشی نواستحاضه ده، بعضی ښځی که څه هم له نفاس نه پاکی شی بیاهم دوی د نفاس څلویښت ورځی پوره کوی نه دالله (ج) لمونځ کوی اونه ئې روژی نیسی چه دبی علمۍ اوبی خبرۍ نتیجه ده، څرنگه چه دنفاس کم مدت معلوم نه دی نو هر کله چه دوینی جریان ورك شو ښځه به غسل کوی اودخپل پروردگارعالم عبادت به په ښه شوق اوزوق سره کوی. که دښځی دلنگون نه وروسته دوینی بهیدل ترڅلویښت ورځوبالاشوه اوپخواهم داښځه لنگه شویوه دنفاس عادت ئې شل یاپنځه ویشت یا دیرش ورځی وو نواوس به هم دپخوادعادت سره دنفاس ورځی حسابوی، غسل به کوی له عادت وروسته چه هرڅوورځی تیری شویوی دهغوورځو دلمونځونو او روژو قضاء به راوړی متباقی ورځی استحاض دی، که ددغی ښځی عادت دنفاس نه وو نونفاس ئې څلویښت ورځی دی، حضرت امام ابوحنیفه (رح) او امام ابی یوسف (رح) وایی که ښځی دوه بچیان وزیږول نفاس ئې له لومړی بچی دراوتلووروسته شروع کیږی، امام محمد(رح) اوامام زفر(رح) وایی چه ددغی ښځی نفاس له دوهم بچی له را وتلووروسته شروع کیږی، څلورواړه امامان موافق دی چه ددغی ښځی نفاس دعدت دتیریدوپه باب ددوهم بچی دراوتلو وروسته شروع کیږی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له نجاست نه د پاکۍ بیان

نجاست دوه قسمه دی یونجاست حکمی دی بل نجاست حقیقی دی، حکمی نجاست لکه بی اودسی یاجنابت چه ترحقیقی نجاست قوی اوډیردلمانځه مانع دی ځکه مصنف (رح) اول دحکمی نجا ست بیان وکړ، اوس دحقیقی نجاست لکه بولی شراب، ګنګی او داسی نوروبیان کوی. حقیقی نجاست پردوه قسمه دی اول مرئی نجاست چه وچ شی په سترګولیدل کیږی لکه ګنګی، خوشایی اوداسی نور دوهم غیرمرئی هغه نجاست دی چه وچ شی په سترګونه لیدل کیږی که څه هم رنګ ئې معلو میږی لکه شراب بولی، منی اوداسی نور. پرلمونځ کونکی واجب دی چه نجاست له خپل بدن اوله خپلوجامو اوله هغه ځای نه چه لمونځ پرکوی لیری کړی، امام اعظم اوبوحنیفه (رح) اوامام ابی یوسف (رح) وایی چه دنجاست لیری کول په اوبو اوپه هرهغه بهیدونکی مائع سره چه امکان دلیری کولو د نجاست ولری روا دی لکه سرکه، دګلګلاب اوبه (عرق ګلاب)، دصابون اوبه او داسی نور، مګرپه شیدوسره د نجاست لیری کول روانه دی، یاران رحمة الله تعالی عنهما وایی که موزه یاغاړه لرونکې بوټ په حقیقی مرئی نجاست سره ولړل شی وروسته له نجاست له وچیدلونه دی دغه موزه یابوټ په ځمکه پوری ومښل شی چه نجاست ورنه لیری شی لمونځ دی ورسره اداکړی، منی چه حقیقی غیـر مرئی نجاست دی که موزه په ولړل شی اودغه منی لانده وه موزه دی ومنځل شی چه منی ورنه لیری شی، که منی پرموزه باندی وچ شوه نومنی دی له موزی نه وګرول شی کله چه منی له موزی نه لیری شوه لمونځ ورسره روادی، مګرامام شافعی (رح) وایی منی پاك دی که لانده وی اوکه وچ وی پریمنځل دموزی واجب ندی، که هنداره یاتوره یابل نورانی جنس په نجاست ولړل شی دپاکیدوپاره په ځمکه سره مسح کول کفایت کوی ځکه چه نجاست نه په ننوزی او دباندنی نجاست په مسح سره لیری شو که ځمکه په نجاست ولړل شی اودغه نجاست په لمرسره وچ شی نښان (اثر) دنجاست ورك شی نوپرهغه ځمکه لمونځ روادی، مګر تیمم پرروانه دی ځکه چه دتیمم دپاره پاکه ځمکه په قرآن سره ثابته ده چه قول دخدای (ج) دی ﴿فتیممو صعیدا طیبا﴾، د ځمکی پاکی وروسته له وچیدونه په حدیث سره ثابت ده قول د علیه السلام دی ﴿ زکواة الارض یبسها﴾، که بدن یاجامی په غلیظ(قوی) نجاست سره ولړل شی لکه وینه، ګنګی، بولی شراب اوداسی نور اومقدار دنجاست یودرهم یاتریوه درهم لیږ وی اولمونځ کونکی دغه نجا ست نه وی لیدلی لمونځ وکړی لمونځ ئې صحیح دی، که مخ کښی له لمانځه دغه نجاست ووینی بیالمونځ وکړی نولمونځ ئې مکروه دی، که مقداردنجاست تریوه درهم بالاووکه څه هم لمونځ کونکې له نجاست نه بی خبره وی لمونځ ورسره روانه دی، که ئې لمونځ ورسره کړیوو بیرته به ئې راګرځوی، که دجاجامی په خفیف نجا ست ولړل شوی لکه دهغه حیوان بولی چه غوښی ئې خوړل کیږی لکه دپسه بولی یادوزګری بولی یادغویی بولی اوداسی نور، ترڅوچه څلورمه حصه دهغه جامی نه وی لړل شوی لمونځ ورسره روادی، که څلورمه حصه یا اضافه ترڅلورمی حصی دهغه جامی لړل شویوه نوبیالمونځ ور سره روانه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکوالی له هغه نجاست څخه چه وینځل ئې واجب دی پردوه (۲) قسمه دی، اول له جامی څخه لیری کول دهغه نجاست چه په سترګوئې جنسیت معلومیږی لکه ګنګی، خوشایی اوداسی نور په اوبو سره پاکول دی ترڅوچه جنسیت، رنګ او بوی ئې پرجامه پاتی نه شی، مګرکه دپاکۍ دپاره تودی اوبه او صابون استعمال شواودنجاست اثرورك نه شونوباك ئې نشته جامه پاکه شوه او لمونځ ورسره روا دی، دوهم له جامی څخه لیری کول دهغه نجاست چه وروسته له وچیدونه ئې جنسیت په سترګونه معلومیږی په اوبو سره پاکول دی ترڅوچه دویځونکی یقین شی چه نجاست ورك شو .

## د استـنـجـاء بـیـان

استنجاء په تیګه (ډبره) یالوټه یاپه داسی شی سره چه دتیګی یا دلوټې له جنس نه وی سنت ده، کوم عدددتیګی یادلوټې نشته که داستنجاء ځای په یوه لوټه پاك شی یاپه دوولوټوپاك شی اصل مقصد پاکوالی دی، خووروسته دلوټې له استعمال نه په اوبوسره استنجاء افضلیت لری، کله چه دقرآن شریف دسورت توبی یوسل اواتم (۱۰۸) آیت مبارك﴿ فیه رجال یحبون ان یتطهروا﴾ یعنی په قباه کښی خلګ دی چه دځان دښه پاکولو سره مینه لری، د سعودی عربستان دمدینی شریفی دقباه د اوسیدونکوپه توصیف نازل شونورسول الله (ص) وقباه ته ورغی او هغوخلګوته ئې وویل چه خدای پاك ستاسی دنظافت اوپاکۍ توصیف کړیدی، ستاسی پاکی څه شی ده؟ هغوی په ځواب کښی ورته وویل چه موږ دډبری تراستنجاء وروسته په اوبوهم استنجاء کوو، آنحضرت (ص) ورته وویل چه دغه صحیح کاردی . که نجاست له استنجاء له ځای نه تیری کړی وواوډیرځای لړل شوی وونوپه ډبره استنجاء صحیح نه ده ضروربه په اوبویاپه بله مائع استنجاء کوی، اواستنجاء په هډوکی، په خوشایی، په ډوډۍ اوپه مالګه سره روانه ده، همدار نګه که عذرنه وی په راسته لاس هم استنجاء روانه ده، دتشناب کاغذ چه نه لیك ور باندی کیدلای شی اونه دکاغذ حیثیت لری او نه دکوم بل کار وړدی استنجاء په رواده.

## د لـمـانـځـه بـیـان

طهارت چه شرط دلمانځه دی مصنف ( رح) په ټولوقسمونوسره بیان کړ، اوس نوبت اصل لمانځه ته چه داسلام دمقدس دین دوهم رکن دی راورسیدی، لمونځ دمعراج په شپه کښی فرض شویدی ټولو کتابودحدیثو ئې روایت کړیدی، دپښتوسیرت النبی دریم ټوك دګران افغانستان دکابل چاپ د لمانځه بیان داشان خوږ لیکلی دی چه دمعراج په شپه برسیره پرنوروعطایاؤ وحضرت محمد (ص) ته آوازوشوچه پرامت دی پنځوس لمونځونه فرض شوه حضرت محمد (ص) دبیرته راتګ په وخت کښی له حضرت موسی علیه السلام سره ولیدل اوموسی علیه السلام پوښتنه ورنه وکړه چه دپاك خدای (ج) له خاص بارګاه څخه تاته څه احکام درکړل شول؟ حضرت محمد (ص) ورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل چه پر امت مې پنځوس وخته لمونځ فرض شو، حضرت موسی علیه السلام ورته وویل چه مابنی اسرائیل ښه تجربه کړیدی ستاامت به داباړپورته نکړای شی، ته بیرته وخدای (ج) ته عرض وکړه حضرت محمد (ص) بیرته وخدای (ج) ته عرض وکړچه ای پاکه خدایه زماامت ډیر کمزوری اوډیرضعیفان دی، حکم ورته وشوچه دلسووختولمونځونه ورته معاف شول، کله چه حضرت محمد (ص) بیرته راوګرځید موسی علیه السلام دبیاعرض کولومشوره ورته ورکړه، ددی واری دبیاتګ په اثرلس لمونځونه نور وروبښل شول په همدی ډول حضرت محمد (ص) څوواره دحضرت موسی علیه السلام په مشوره دخدای پاك په دربارکښی بیابیاعرضونه وکړل ترڅوچه په یوه شپه اوورځ کښی پنځه وخته لمونځونه پاته شول، حضرت موسی علیه السلام بیاهم مشوره ورکړه چه دډیرتخفیف غوښتنه وکړه حضرت محمد (ص) وویل نورنوماته له خـدای (ج) څخه حیا راځی، آوازوشوچه ﴿لایبدل القول لدی﴾ یعنی ای محـمده! زماپه حکم کښی تغیرنشته، کله چه حضرت محمد(ص) سوال بس کړنو د خدای پاك له لوری نه داسی یوآوازوشو﴿قدامضیت فریضتی وخففت عن عبادی﴾ یعنی ماپوره کړه خپل فرض اوتخفیف می ورکړبندګانوته، لمونځونه به پنځه وی لیکن دهری نیکۍ بدل به یوپه لس وی، چه داپنځه به هم پنځوس شی .

دلمانځه وختونه : دسهاردلمانځه اول وخت کله چه دوهم سپینوالی دآسمان په کناروکښی پاشلی معلوم شی(دوهمی سفیدی یاصبح صادق) اوآخروخت دسهاردلمانځه دلمـرخرك تر مخه دی . دماپښین دلمانځه اول وخت دلمردزوال نه وروسته اوآخروخت ئې دامام اعظم اوبوحنیفه (رح) په نیز ماسیوادوخت له سیوری نه چه سیوری دیوه جنس دوه چنده ته ورسیږی، مګرامام ابی یوسف (رح) او امام محمد(رح) وایی ماسیوادوخت له سیوری نه کله چه سیوری دیوه جنس یوه چندته ورسیږی آخر وخت دماپښین د لمانځه دی، اول وخت دمازدیګردلمانځه چه دماپښین دلمانځه وخت تیرشی او آخر وخت ئې دلمرلویدونه مخکی دی، مګرحسن بن زیاد(رح) وایی چه لمرژیړشی دمازدیګردلمانځه وخت تیرشو زموږ په مذهب دغه وخت لمونځ مکروه دی، دماښام دلمانځه اول وخت له لمرلویدونه وروسته دی اوآخروخت ئې چه شفق نه وی لویدلی، په نیز دامام اعظم (رح) شفق هغه سپینوالی دی چه دمغرب په خواکښی دآسمان په کناره کښی له سرخۍ نه وروسته معلومیږی، امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد(رح) وایی چه شفق پخپله دغه سرخی ده، اول وخت دماخستن دلمانځه چه شفق غائب شواوآخروخت ئې له دوهم سپینوالی (صبح صادق) نه مخ کښی دی، اول وخت دوترلمانځه دماخستن دلمانځه نه وروسته دی اوآخروخت ئې له صبح صادق (سفیدوچاودلو) نه مخ کښی دی. دسهارلمونځ په رڼاکښی اداکول افضل دی، علیه السلام وایی چه دسهارلمونځ په رڼاکښی ډیرونکی دثواب دی، پدغه اړوند فقیه ابوجعفرطحاوی (رح) له حضرت علی (رض) څخه روایت کړیدی او دیلمی هم له انس بن مالك (رض) نه روایت کړیدی همدارنګه طبرانی (رح) اوبزار(رح) له ابوهریره (رح) نه روایت کړیدی اوداسی نور.

دماپښین لمونځ په اوړی کښی مستحب دی چه په داسی وخت کښی اداشی چه هواسړه وی اوپه ژمی کښی په اول وخت کښی اداشی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمازدیگردلمونځ ځنډول مستحب دی ترڅوچه دلمرزیاتغیرونکړی (لمرژیړنه شی)، مستحب دی چه دماښام لمونځ وختی اداشی مستحب دی چه دماخستن لمونځ تردریمی حصی پوری دشپی وځنډول شی، هغه څوك چه دشپی له لمانځه (تهجد) سره مینه لری مستحب دی چه وتر د شپی ترآخرپوری وځنډوی یعنی له تهجدنه وروسته دی وترادا کړی، که څوك ډاډه نه ووچه دشپی لمانځه ته راویښ شی نودخوب نه مخ کښی دی وترلمونځ اداکړی

## د اذان بـیـان

د اذان ابتدادسعودی عربستان په مدینه منوره کښی شویده کوم وخت چه رسول الله (ص) ومدینی منوری ته هجرت وکړمسجد نبوی جوړشونومسلمانانولمونځونه په جماعت سره شروع کړل ولی یو لوی مشکل داووچه دلمونځودوختونودپاره کومه علامه نه وه داټکل په توګه به مسلمانان لمانځه ته راتلل، کله به بعضی خلګ ناوخته راورسیدل جماعت به ورنه تیرووکله به بعضی خلګ وختی راغلل چه ترلمانځه تروخت پوری به ئې ډیرانتظارکوی خلګودمشکل دحل دپاره ورسول الله (ص) ته عرض وکړهغه له عادت سره سم موضوع وشوری ته وړاندی کړه، یوی ډلی د اصحابانو مبارکانو دانظرورکړ چه دلمانځه پروخت دی زنګوله وشرنګول شی، ددغه نظرمخالفین ډیروه ځکه چه داعمل د نصاراوو دعبادت نښه ده، بلی ډلی نظرورکړچه دلمانځه پروخت دی ښکرياتروم وږ غول شی، ددغه نظر مخا لفین هم ډیروه ځکه چه داعمل دیهودیانو دعبادت نښه ده، بلی ډلی نظرورکړچه د لمانځه پروخت دی داورلمبه وشی، ددغه نظرهم مخالفت وشو ځکه چه داعمل دآتش پرستانودعبادت نښه ده، حضرت عمر (رض) وویل یوڅوك نه مقررکوي چه دلمانځه دپاره نعره وکړی؟ آنحضرت (ص) دارایه خوښه کړه اونفرئې مقررکړچه دلمانځه دپاره به داسی نعره کوی ﴿الصلوة قائمة﴾ یعنی لمونځ کوو، دانعره به هم چاواوریده اوچابه نه واوریده، څوورځی وروسته بیا و آنحضرت (ص) ته هغه مخکنی عرض وړاندی شو، هغه بیا د معمول سره سم موضوع وشوری ته وړاندی کړل داځل بیاهغه پخوانی نظریات تکرارشول بیله فیصلی مجلس پای ته ورسیدی، له اصحابانو مبارکانونه عبداله بن زید (رض) دشپی په خوب کښی یوسړی ولیدی چه زنګوله ئې پلاس کښی وه، ده ورته وویل چه دازنګوله نه خرڅوی، سړی ورته وویل چه ته څه په کوی؟ صحابی مبارك ورته وویل چه موږ دلمانځه وخت پرمعلومه وو سړی ورته وویل چه زه به له دغه نه ښه شی دروښیم، پس دغه سړی پریوه لوړځای ودریدی اوپوره اذان ئې وکړ، عبداله بن زید(رض) سهاردغه خوب رسول الله (ص) ته بیان کړ، آنحضرت (ص) ورته وویل ﴿انها لرؤیاحق انشآءالله﴾ یعنی دغه خوب حق دی که اراده دخدای پاك وه، رسول الله (ص) وعبداله (رض) ته وویل چه ستاترآواز د حضرت بلال (رض) آوازلوړدی نوته ستا دخوب کلمی وحضرت بلال (رض) ته ووایه دی به اذان وکړی کله چه حضرت بلال (رض) اذان وکړحضرت عمر(رض) په خپل کورکښی دغه د اذان کلمات واوریدل په چابکی سره مسجدته راغی اورسول الله (ص) ته ئې وویل قسم په خدای دی چه ماهم دغسی خوب لیدلی ووخوله شرمه می نشوای ویلای، په دغه شپه څورلس اصحابانو مبارکانودغه خوب لیدلی وو، دغه بیان په بخاری، ابوداود اومشکوة شریف کښی لیکل شویدی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اذان کول دپنځووختولمونځواودجمعی دلمانځه دپاره سنت مؤکد دی دنورولمونځودپاره اذان نشته لکه داخترلمونځ یا دجنازی لمو نځ یاداسی نور، صفت د اذان چه الله اکبرترآخره پوری ویل دی مشهور دی، ترجیع په اذان کښی نشته (چه یوه کلمه په لوړآواز ووایی اوبله کلمه په کښته آواز و وایی)، امام شافعی (رح) وایی چه په اذان کښی ترجیع شته یعنی په هراذان کښی به دشهادت دوی کلمی اول دوه ځلی په کښته آواز بیادوه ځلی په لوړآواز وایی، د سهاراذان دبل وخت له اذان سره لږ توپیرلری چه دحی علی الفلاح نه وروستـه دوه ځلـی الصلوة خیرمن النوم ویل کـیږی.

اذان کونکی به مخ پرقبله دریږی کله چه لفظ دحی علی الصلوة دوه ځلی وایی نودوه ځلی به خپل مخ ونبی خواته ورسره گرځوی همدارنگه کله چه لفظ دحی علی الفلاح دوه ځلی وایی دوه ځلی به خپل مخ وکیڼ خواته ورسره گرځوی، دمخ گرځولو سره دی نور وجودیا پښی نه گرځوی، همدارنگه په ناسته اوپه بی اودسی سره اذان کول مکروه دی، بی اودسه اذان کول روادی مگر مکروه دی ثواب ئې نشته، جنوب سړی دی اذان نه کوی. اقامت هم داذان پشان دی مگراذان دی په قراره (آرامی) سره وایی او اقامت دی په چابکی سره وایی، همدارنگه به په اقامت کښی د حی علی الفلاح نه وروسته دوه ځلی قدقامت الصلوة وایی . اذان او اقامت دی دقضائی لمونځودپاره هم وکړی، که دچاڅخه لمونځونه قضاء شویوه داول لمانځه دپاره دی اذان او اقامت وکړی بیا اختیارلری چه دپاته قضائی لمونځودپاره اذان اواقامت دواړه کوی که یوازی اقـامت کـوی .

کله چه دلمانځه وخت داخل شواذان دی ناری شی یعنی دلمانځه دوخت دداخلیدونه مخ کښی دی اذان نه ناری کیږی ځکه چه خلگ خطاوزی، که اذان دوخت له داخلیدونه مخ کښی ناری شی کله چه وخت داخل شوبیابه اذان کوی، همدادلیل دی چه امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی چه آنحضرت (ص) وحضرت بلال (رض) ته وویل چه دوخت له داخلیدونه مخ کښی اذان مه کوه، مگر امام ابی یوسف (رح) اوامام شافعی (رح) وایی چه په آخرنیمایی د شپی کښی دی دسهاراذان ناری شی.

## د ویـری لـمونـځ

کله چه ددښمن ویره ډیره شی نوسرلښکردی خپل لښکردوی ډلی کړی یوه ډله ددښمن دمخ دپاره اوپه بله ډله سره دی دویری د لمانځه جماعت جوړکړی یورکعت دی له دووسجدوسره اداکړی چه امام له دوهمی سجدی نه سراپورته کړی نودغه ډله دی ددښمن ومخ ته ولاړه شی، ځرنگه چه دغه ډله لااوس هم په لمانځه کښی ده نوخبری خورك اوداسی نورعملونه دی نه کوی، ددښمن دمخ ډله دی په همدغه امام پسی جمع شی بیادی امام یوبل رکعت له دووسجدوسره اداکړی له التحیات وروسته دی امام سلام وگرځوی ځکه چه دامام لمونځ پوره شو، مگرورپسی ولاړلښکردی سلام نه گرځوی ځکه چه ددوی یوبل رکعت لمونځ پاته دی او دوی لااوس هم په لمانځه کښی دی، دغه ډله دی بیرته ددښمن مخی ته ولاړه شی اوهغه مخکنۍ ډله دی راشی یورکعت دی له دوو سجدوسره اداکړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوقرائت دی نه وایی خاموش به ولاړوی ځکه چه په حکم سره په امام پسی ولاړدی، التحیات دی ترآخره پوری ووایی اوسلام دی وګرځوی، د دوی لمونځ هم پوره شو ددښمن مخی ته دی ولاړشی، هغه وروستۍ ډله دی راشی یوبل رکعت دی له دووسجدوسره اداکړی خوپه رکعت کښی به قرائت وایی ځکه چه دوی مسبوقین دی یعنی دلمانځه اول ورنه تیرشوی دی ددوی اړیکی له امام سره نشته، له دوهمی سجدی وروسته دی التحیات ترآخره پوری ووایی اوسلام دی وګرځوی ددوی لمونځ هم پوره شو دغه ترتیب دلمانځه هغه وخت صحیح دی چه امام مسافروی.

که امام مقیم وو په اوله ډله سره دی هم دوه رکعته اداکړی اوپه دوهمه ډله سره دی هم دوه رکعته ادا کړی، قوم په اقامت اوسفر کښی دامام تابع دی، که دماښام دلمانځه وخت وو‌امام دی له اولی ډلی سره دوه رکعته اداکړی اوله دوهمی ډلی سره دی یو رکعت اداکړی ځکه چه دماښام لمونځ مسافرندی اونه نیم کیدلای شی، دلمانځه په حالت کښی به غزا(جنګ) نه کوی که ئې جنګ وکړنولمونځونه ئې باطل شوه، که ددښمن ویره زیاده شوه نوهر څوك دی پرسپرلیوسپورځانګړی لمونځ وکړی، که قادر نه وو چه د قبلی ولوری ته سجده وکړی نوهری لوری ته چه ئې خوښه وی هغه لوری ته دی سجده وکړی په دغه قول سره دالله (ج) چه دالبقره دسورت په (۱۳۹) آیت مبارك کښی فرمایی﴿فان خفتم فرجالاو رکبانا﴾ یعنی که تاسوله دښمن یاکوم بل شی نه ویریدلاست نولمو نځ کوی په پلی (پیاده) تګ یاپر سورلی باندی سپاره.

لمونځ چه دومره مهم عبادت دی چه پریښودل ئې دغزا او سختی ناروغۍ په حالت کښی دهغه پاك ذات له امرنه سرغړونه ده چه له هیڅ نه ئې پیداکړو او هغه نعمتونه ئې راته راکړل چه بشرئې تصور نشی کولای اوبیرته موده پاك ذات ته مخه ده، نوځنګه به روغ رمټ مسلمان دامن په حالت کښی لمونځ پریږدی.

لمونځ ښکاره معراج دزړه دی هم رحمت دربانذی اوری

پــه حــضورد چــا ولاړ یــی څــه کــوی څــوك درتــه ګــوری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنازې لمونځ

کله چه چاته مرگ حاضرشي یاکله چه چاته دمرگ ملائکه حاضره شي نودهغه مخ دی پرښی اړخ دقبلی ولوری ته وگرځول شی، قدوري (رح) مخ پرقبله پرښی اړخ څملول قیاس پرحالت د قبرکړیدی مگرپه حواله دکوکب دری او ردمختار دغه انسان دی ستونی ستخ (دشاپرتخته) دی څملول شی ځکه چه په داسی څملو لوسره دانسان روح خیژی، حاضرین دی کلمی دشهادت په لوړ آواز ورته وایی ﴿اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله﴾ او ﴿اشهد ان لااله الا الله وحده لا شريك له واشهد ان محمد عبده و رسوله﴾ دغه انسان دی دکلموپه ویلونه امرکوی ځکه چه دزکندن حال ډیرسخت دی نه چه د کلمی له ویلونه انکار وکړی، کله چه مړشی حاضرین دی سترگی ورپټی کړی اوزنی دی په یوه ټکری ور وتړی ځکه چه مړی په خلاصه خوله اوخلاصو سترگوښه نه معلومیږی هغه څوك چه دمړی زنی ور تړی داسی دی وایی ﴿بسم الله وعلى ملة رسول الله اللهم يسرعليه امره وسهل عليه مابعده و اسعده بلقائك واجعل ماخرج اليه خيرامماخرج عنه﴾ همدارنگه دزکندن پروخت دیس شریف ویل مستحب دی، د غسل ورکولو په وخت کښی دی مړی پریوه تخته کښیږدی دمړی عورت دی په یوه پاك ټکری ورپټ کړی اوټولی جامی دی ورنه وکاږی اودس دی ورتازه کړی مگرپه خوله اوپوزه کښی دی اوبه نه وراچوی، په طاق شمیرسره دی اوبه پرتوی کړی یعنی یوځل یادری ځلی یاپنځه ځلی، اوهغه لوښۍ چه عودپکښی دودیږی یوځل یادری ځلی پرمړی اودمړی پرتخته شااوخوا راوگر ځوی، که عود نه وه نوری عادی خوشبویی موجودی وی نویوځل یادری ځلی دی یویوځاځکی د تختی پرشا او خوا وکړی، سدر چه یو قسم میوه ده په پاکستان اوهندوستان کښی د (بیره) په نوم سره یادیږی ددغه سدر(بیری) د ونی برگونه یا بروځه چه دخاشوپه شکل میده میده لرگی دی چه د مسکنت په دوره کښی دجامو د وینځلو دپاره استعمالیدل په اوبوکښی جوش کړی اوپه هغه اوبو دی مړی ومینځی، که دا دواړه نه وه په ساده اوبودی ووینځی خطمی چه یومشهورگل دی دغه گل دی هم په اوبوکښی جوش شی اوپه هغه اوبوسره دی دمړی سراوږیره ور ووینځی، بیادی مړی پرکیڼ اړخ څملوی اودسدر(بیرې) یا بروځی په اوبو دی ووینځی ترڅوچه معلومه شی چه اوبه دمړی وهغه ځای ته رسیدلی دی چه پرتخته پروت دی، بیادی مړی پرښی اړخ واړوی په دغه اوبودی ووینځی ترڅوچه معلومه شی چه اوبه دمړی وهغه ځای ته رسیدلی دی چه پرتخته پروت دی، بیادی غسل کونکۍ مړی کښینوی پرنس دی په نرمی سره لاس ورتیرکړی که دمړی له نس نه مرداری راووتل هغه دی پریولی، بیادی غسل نه ورکوی، نارینه به ونارینه ته او ښځه به وښځی ته غسل ورکوی ځکه چه دښځی غسل ونارینه ته او دنارینه غسل وښځی ته روا نه دی، که نارینه مړی کوچنی وودشهوت اشتهاء نه ورته کیدل ښځه غسل ورکولای شی، همدارنگه که مړی وړه نجلکۍ وه د شهوت اشتهاء نه ورته کیدل نارینه غسل ورکولای شی، که ضرورت وی ماینه ومیړه ته غسل ورکولای شی خومیړه ومایني ته غسل نشی ورکولای اوهم میړه ته دمایني مسح کول روانه دی، مگردکوکب دری په روایت دمیړه کتل ومایني ته روادی بیادی مړی په یوه ټکری سره وچ کړی چه دمړی کفنونه لانده نه شی په کفنو کښی دی ونغړی دحنوط خوشبویی دی په سر او ږیره ورپوری کړی همدارنگه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکافورخوشبویی دی دسجدی پرځایو ورپوری کړی، دسجدی ځایونه تندی، پوزه زنګنونه او دلاسو ورغوی دی، د نارینه د کفن دری جامی دی چه لنګ، قمیص اوپټه ده ځکه چه په بخاری شریف او د احادیثوپه نورو کتابوکښی ذکرشویدی چه د رسول (ص) کفن دپنبه دری سپینی جامی وی. دنیستۍ په وخت کښی یوه جامه هم بس ده ولی چه دمصعب بن عمر(رض) یوه شړۍ وه چه پرسراوپښونه رسیدل، علیه السلام امر وکړچه سرئې ورپټ کړی اوپرپښوئې د انخر واښه واچوی، کله چه مړی کفن کوی اول دی پرځای پټه (لفافه) وغوړوی بیادی ازار (لنګ) وغوړوی بیادی په مړی قمیص واغوندی او ازار (لنګ) دی کښیږدی اول دی دلنګ کیڼ پلوبیادی دلنګ ښی پلو پر را واړوی بیادی لفافه (پټه) په همدغه ترتیب پرراواړوی، که ویره وه چه کفن به له مړی نه واوړی اومړی به لوڅ شی نوپه یوه رښکۍ دی وتړی. د ښځی د کفن پنځه (۵) جامی دی ازار(لنګ)، قمیص، پوړنی، یوټکری چه په هغه تیان ورتړی اولفافه (پټه)، دښځی کفن په درو(۳) جاموسره هم روادی لکه لنګ، قمیص اوپوړنی .

دښځی دکفنوترتیب داسی دی اول لنګ دوهم خرقه دریم قمیص څلورم پوړنی اوپنځم پټه، پوړنی به پرقمیص بـرسیره اوترپټی به لاندی وی، د ښځی ویښتان دی پرځګرور واچوی، مړی که نروی او که ښځه ویښتان دی نه ور ږمونځوی، دنارینه ږیره دی هم نه ږمونځوی همدارنګه دمړی ویښتان او نوکان دی هم نه غوڅوی ځکه چه پسله مرګ نه دانسان داجزا غوڅول روانه دی، مخکی ترهغه چه مړی په کفن کښی ونغړی کفنونه دی په طاق شمیر ورخوشبویه کړی ځکه چه رسول کریم (ص) دخپلی مړی لوردکفن کولو پروخت دغسی امروکړ، چه غسل اوتکفین خلاص شو نو د جنازی لمونځ دی ور کړی، ښه به وی چه دجنازی دلمانځه ترمخه د دین وړونه د دغه لمانځه په حکمونواورکنونوخبروی چه دجنازی لمونځ فرض کفایی دی یعنی که څوکسانومړی ته لمونځ ورکړنو دغیرحاضرخلګوغاړی هم خـلاصی شوی، منکرئې کافردی، دغه لمونځ شپږ شرطونه لری:

۱ .مړی بـه مسلمان وی ۲. مـړی تـه به غسل ورکـول شویـوی ۳. مړی به حاضروی ۴. مړی به پرځمکه یا پرتیټه چهارپایي پروت وی ۵. مړی به دامام ومخ ته پروت وی ٦. مړی به دقبلی لوری ته پروت وی . دجنازی په لمانځه کښی څلورتکبیرونه فرض دی اوهم به لمونځ بیله عذره په ولاړه اداکوی.

دجنازی په لمانځه کښی اذان، اقامت، رکوع اوسجده نشته کله چه دخلګونه یوصف یادری صفونه یاپنځه صفونه برابرشول امام داسی ږغ کوی (نیت کوی) نیت داسی دی (نیت کوم دزړه داخلا صه لمونځ کوم دجنازی په څلورتکبیره ثناوایم الله ته درود وایم پررسول علیه السلام دعاکوم دغه حاضر مړی ته اقتدامی ده په دغه حاضرامام پسی مخ می دی پرلوری دکعبی شریفی) کله چه امام تکبیر تحریمه (لومړی الله اکبر) ووایی مقتدیان به هم لاسو نه غوږوته پورته کړی تکبیربه ووایی لاسونه به ترنامه لاندی ونیسی او دخدای پاك دغه ثنادی ووایی ﴿سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالی جدك وجل ثناءك ولااله غیرك﴾ امام بیله لاسوپورته کیدونه دوهم تکبیروایی نومقتدیان دی هم لاسونه نه پورته کوی تکبیردی ووایی او درودونه د اللهم صل اواللهم بارك دی ووایی، امام بیابیله لاسوپورته کیدونه دریم تکبیروایی نو مقتدیان دی هم لاسونه نه پورته کوی تکبیردی ووایی او د مړی دغه دعادی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایی ﴿اللهم اغفـرلحیناومیتنا وشاهدنا وغائبنا وصغیرنا وکبیرنا وذکرنا و انثانا اللهم من احییته منافاحیه علی الاسـلام ومن توفیته منافتوفه عـلی الایمان﴾، امام بیا څلورم تکبیروایی اوسلام گرځوی نومقتدیان دی هم تکبیر ووایی اوسلام دی وگرځوی لمونځ پوره شو، که د چاپورتنۍ دعاپیادنه وه اللهم ربنادی ترآخره پوری ووایی . که مړی نابالغه هلك وو نو د دریم تکبیر وروسته دپورته دعاپه عوض کښی دی دغه دعا ووایی ﴿اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا اجرا وذخرا واجعله لنا شافعا ومشفعا﴾، که مړی نابالغه نجلکۍ وه نوددریم تکبیر وروسته دی دغه دعا ووایی ﴿اللهـم اجعلهالنا فرطا واجعلهالنا اجـرا وذخر اواجعلهالناشافعة ومشفعة﴾ ښه امام دجنازی د لمونځ دامامت دپاره پاچایاامیردوخت دی، که پاچایاامیرحاضر نه وو دکلی دمسجدامام دی لمونځ ورکړی که دکلی امام حاضر نه وو د مړی دوست (قریب) دی لمونځ ورکړی، که بیله پاچایا قریب نه بل چالمونځ ورکړصحیح دی مگرکه ئې دوست وغواړی چه بیرته مړی ته لمونځ ورکړی حرج نشته، که مړی بیله لمانځه ښخ شوی وو تر درو ورځو پوری دی وقبرته لمونځ ورکړی وروسته له درو ورځو روانه دی، دجنازی په لمانځه کښی به امام دمړی د ځگرپربرابردریږی، امام شافعی (رح) وایی چه امام دی دنارینه مړی دځگرپربرابراودښځی دفرج پربرابر ودریږی، موږ وایوچه په ځگرکښی زړه دی اوپه زړه کښی دایمان نوردی او د جنازی لمونځ دایمان دشفاعت دپاره دی، مړی ته دی لمونځ په هغه مسجد کښی نه ورکوی چه پنځه وخته لمونځ پکښی کیږی، کله چه خلگ دمړی جنازه پورته کړی دڅهارپایی څلورپښی دی ونیسی دجنا زی وړل دی دهدیری خواته په ځغاسته نه کوی بلکه ترعادی تگ دی لیږ څه چابك وی، په بخاری شریف کښی حدیث دی چه رسول کریم (ص) فرمایی ﴿عجلو موتاکم فان یك خیراقدمتموه الیه وان یك شراالقیتموه عن اعناقکم﴾ که خلگو د مړی جنازه وهدیری ته پیاده (پلی) وړل سواره خلگ دی څه قدر وروسته شی ولی چه دسواره خلگومتصل تگ په جنازه پسی مکروه دی، کله چه جنازه وهدیری ته ورسیږی مخکی دجنازی اینښودلودخلگو کښینستل پرځمکه مکروه دی، بیادی قبر وکندل شی اولحددی پکښی جوړکړی ځکه چه لحد سنت دی رسول کریم (ص) وایی ﴿اللحدلنا والشق لغیرنا﴾ یعنی لحد زموږ مسلمانا نو دی اوشق دنورو خلگو دی.

مگرامام شافعی (رح) اونوراماما ن مړی پرتخته ږدی اوقبرته ئې دپښوله خواورشوه کوی موږ وایو چه دغه عمل دمسلمان اهانت اوسپکاوی دی، وروسته دی مړی دقبلی له طرف نه ور داخل کړی هغه څوك چه مړی په قبرکښی ږدی داسی دی وایی ﴿ بسم الله وعلی ملة رسول الله ﴾ یعنی شروع کوم په نوم سره دالله اوتاپه قبرکښی پرشریعت دعلیه السلام ږدم، دمړی مخ دی دقبلی پرلور واړوی دکفن غوټې دی ورخلاصی کړی او اومی خښتی دی ورته برابری کړی، د پخوخښتواینښودل مکروه دی که اومی خښتی نه وی نو بیادی تختی استعمال کړی پرخښتویاتختو برسیره دنلانو اچول هم روا کاردی، بیا دی په آرامی سره وقبرته خاوری ور واچوی اوقبردی دماهی دشاپه شکل جوړکړی دقبر ډیر جگوالی مکروه دی، سنت طریقه داده چه دقبرلمن دی دیوی لویشتی په اندازه جوړه کړی اومابین دی دماهی دشاپه شکل جوړکړی، ددوستانو دپیژندنی دپاره دقبرسرته لویه ډبره یادډبری شنخته رواده خو په اجماع د مرحومه امت دعلماوو دقرآنکریم آیت پرلیکل نارواده، دابراهیم نخعی (رح) نه روایت دی هغه چا چه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبی علیه السلام او د ابوبکرصدیق (رض) او دحضرت عمر (رض) قبرونه لیدلی وه ماتـه وویل چـه ددوی قبـرونه مسنم (دماهی دشاپه شکل)وه.

که یوماشوم پسله زیږیدونه وژاړی یا لاس یاپښه وښوروی یاداسی بل عمل وکړی بیامړشی نوپرهغه دی نوم کښیښودل شی غسل دی ورکول شی او دجنازی لمونځ دی ورکړه شی، که مړ وزیږی یعنی ژړا ونکړی یالاس اوپښه ونه ښوروی نولمونځ دی نه ورکوی په یوه ټکری کښې دی ونغړی اوښخ دی کړی مګر په غسل ورکو لوکښی دوه روایته دی په صحیح روایت سره دی غسل ورکړی.

## د شـهیـد بـیـان

شهیدهغه مسلمان دی چه مشرك یامشرکان ئې مړکړی یائې مسلمان یامسلمانان په ناحقه مړکړی او پر وژلوئې دیت واجب نه وی بلکه قصاص پرواجب وی، یاهغه څوك چه دغزاپه میدان کښی دتېپ سره مړپیداشی، یاهغه څوك چه دباغیانو او دلاری د غلوله خوا ووژل شی، مشرك هغه دی چه خدای (ج) ته ئې شریك نیولی وی لکه هندو، یهود، نصارا او داسی نور، که ښکاری ښکار یانښان ویشتی نابېره ئې مسلمان وویشت اوهغه مړشو یا چابل مسلمان په لغته ووهی اوهغه مړشوپه شریعی حکم سره شهید نه دی.

په فقهی حکم دڅلورومذهبواوپه حکم داحادیثواوتفاسیرو دری (۳) وژنی حق دی :

۱ .چـه یومسلمان داسلام دمقـدس دین څخه وبل دین ته واوړی ۲. قصاص یعنی هغه څوك چه په ناحقه ئې مسلمان یااهل ذمه وژلی وی ۳. رجم یعنی هغه نارینه چه ښځه لری یاهغه ښځه چه میړه لری زنا وکړی اوڅلورشاهدان ئې د زناپرعمل شاهدی اداکړی بیله دغودرو(۳) وژنوڅه نوری ټولی وژنی ناحقه دی . وشهیدته دی دجنازی لمونځ ورکړه شی اوغسل دی نه ورکوی، امام اعظم ابو حنیفه (رح) فرمایی جنب شهیدته دی دجنابت غسل ورکړه شی اوهمداراز نابالغه شهیدته دی غسل ورکړه شی مګرامام ابویوسف (رح) اوامام محمد(رح) فرمایی چه نه دی جنب شهیدته اونه دی نابالغه شهیدته غسل ورکوی، دشهیدنه دی جامی نه کاږی او وینه دی نه ور وینځی مګر پوستین، چپنه، بوټونه، موزی، خولۍ، توره، ټوپك اوداسی نوردی ورڅخه وکاږی، که څوك وروسته له ټپی کیدونه خورك څښنګ، دوا او دارو وکړی یاژوندی پاته شی چه دلمانځه یومکمل وخت وربانـدی تیرشی پرهوښ وی یا د غزاله میدان نه ژوندی وایستل شی یاپه رجم یا قصاص سره ووژل شی نوغسل اودجنازی لمونځ دی ورکړی، که څوك دباغیانوله خوا ووژل شی یا د لاروهونکوله خواه ووژل شی غسل دی شی خولمونځ دی نه ورکوی، که چاخپل ځان پخپله په قصد یاپه سهوه سره مړکړدامام حنیفه (رح) په مذهب غسل دی ورکړه شی اولمونځ دی ورکړه شی مګرامام ابویوسف (رح )وایی چه لمونځ دی نه ورکوی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کعبه مکرمه کښی لمونځ

په مذهب دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دکعبی شریفی په دننه خونه کښی فرض اونفل لمونځ روادی امام شافعی (رح) وایی هیڅ لمونځ دکعبی شریفی په خونه کښی روانه دی، په صحیح حدیث کښی چه روایت ئې بخاری (رح) اونوروکتابوکړیدی لیکل شویدی چه د مکی شریفی دفتح په کال آنحضرت (ص) دکعبی شریفی په خونه کښی دوه رکعته نفل ادا کړل، فرض لمونځ پرقیاس دی، که امام په جماعت سره دکعبی شریفی په خونه کښی لمونځ ادا کوی بعضومقتدیانودامام وشاته خپله شا وګر ځول لمونځونه ئې روادی ځکه چه دامام اوټولومقتدیانومخونه دکعبی شریفی ودیوال ته دی، که بعضوله مقتدیانونه ومخ ته دامام شاوګرځول لمونځونه ئې روانه دی ځکه چه ترامام دمخه دامام په خواکښی ولاړدی . که امام په مسجدالحرام کښی لمونځ اداکوی اوخلګ په امام پسی پرکعبه باندی چاپیرشول هغه څوك چه له دغومقتدیانونه د امام په خواکښی نه وی اوترامام وکعبی شریفی ته نژدی وی لمونځ ئې صحیح دی، دکعبی شریفی پربام لمونځ روادی مګر امام شافعی (رح) وایی چه روانه دی ځکه چه دده په مذهب د کعبی شریفی خونه تبرك ده، زموږ په مذهب قبله دغه میدان دی ترآسمان پوری چه خونه دکعبی هم پکښی ده نودلمونځ کونکی مخ هم کعبی ته دی، دحنیفی مذهب بل دلیل دادی چه دعبداله بن زبیراوحجاج بن یوسف په زمانوکښی دکعبی شریفی خونه له منځه ولاړه او خلګولمونځونه هم هغی خواته دکعبی کول همدارازجبل ابی قلبیس چه کعبی شریفی ته نژدی غردی او د کعبی شریفی ترخونه ډیرلوړدی که څه هم خونه ئې مخ ته نشته خوپه اتفاق سره پردغه غره لمونځ روادی، د فقهی شریفی کتابونه وایی چه دکعبی شریفی پربام لمونځ روادی مګرمکروه دی ځکه چه د بیت الله شریفی دتعظیم ترك وهنه ده، په صحیح حدیث شریف کښی هم منع ورنه شویده، د نورو مسجدوحکم د کعبی شریفی نه دی د نورو مسجدو پر بامونولمونځ بیله کراهیته روادی .

## دزکوة بیان

زکات په لمانځه پوری تړلی عبادت دی ولی چه په قرآن شریف کښی دوه اتیا(۸۲) ځله ﴿اقیموالصلوة واتواالزکوة﴾ ذکرشویدی او د هجرت په دوهم کال د روژی ترمخه فرض شویدی، مصنف (رح) لیکلی دی چه زکات واجب دی په اصطلاح کښی دفقهاء (رح) واجب هغه عمل دی چه کول ئې ثواب لری او منکر ئې کافر نه ګڼل کیږی لکه دلوی اختراخترئ، سرسایه، د وترلمونځ اوداسی نور، فرض هغه عمل دی چه منکرئې کافردی، څرنګه چه زکات داسلام دمقدس دین له پنځوبناؤڅخه یوه داسی بناء ده چه د قرآنکریم په آیت اونبوی احادیثواودامت په اجماع سره یوثابت عمل دی چه منکرئې کافردی نودمصنف (رح) مراد له واجب څخه فرضیت دی چه دغه اصطلاح په فقه اواصولوکښی شته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکات پرهر آزاد بالغ اوعاقل مسلمان باندی فرض دی، زکات په لغت کښی وده (نمو) ته وایی چه اداکول ئې په مال کښی سبب د نمو(ډیروالی) دی یعنی خدای پاك ئې په دنیاکښی پرمال او دولت برکت ږدی اوپه آخرت کښی ثواب ورکوی په دغه قول سره دالله (ج) چه د دوه ویشتمی(۲۲) پاری دسورت سباپه نه دیرش (۳۹) آیت کښی فرمایی ﴿ومآانفقتم من شی ء فهو یخلفه﴾ یعنی هرهغه شی چه تاسوله خپلومالوڅخه دخدای دپاره چاته ورکړی خدای پاك دهغه بدل درکوی، زکات پاکی، ته هم وایی لکه چه الله (ج) دسورت توبه په یوسل اودریم (۱۰۳) آیت مبارك کښی فرمایی ﴿خذمن اموالهم صدقة تطهرهم وتزکیهم﴾ یعنی ای محمده! ددوی له مالونه زکات واخله چه دوی پاك اوبرکتناك کړی، په شریعت کښی زکات ومسکین مسلمان ته دهغه ملك یا دولت څخه چه کامل نصاب ته ورسیږی او پوره یوکال ورباندی تیر شی دهغی برخی ورکول دی چه خدای (ج) تعین کړیده چه بیان به ئې وروسته راشی، زکات ورکول پرنابالغه مسلمان، لیونی او مکاتب باندی نشته (مکاتب هغه مریی دی چه بادارئې ورته ووایی چه په څوقسته معین مبلغ راکړه نوته آزاد یی) نودمکاتب پیسی که څه هم نصاب ته رسیدلی وی زکاتورباندی نشته همداراز پرنابالغه اولیونی ځکه زکات نشته چه په عبادت مکلف نه دی، مگرسرسایه، عشراودبندگانودحقوقوتاوان ورباندی شته که څوك دخپلی شتمنی په اندازه دبندگانوپوروړی وی زکات ور باندی نشته، که دچاشتمنی دخلگوترپورډیره وه اودغه ترپور اضافه شتمنی نصاب ته رسیدلی وه اوکال ورباندی تیرشوی وو نوزکات ورکول ئې فرض دی، د اوسیدلوپرسرای، د اغوستلوپرجامو د کورپراسباب، د سپرلۍ پرحیواناتو، دخدمت پرمریانواو د استعما لولوپرسلاح زکات نشته، د زکات د ورکړی سره نیت ترلی دی ځکه چه زکات عبادت دی اوپه عبادت کښی نیت شرط دی که څه هم دعبادت نه مخ کښی وی لکه په پیشلمی کښی د روژی نیت یعنی که له مال یادولت دزکات برخه جداکړی نو د ورکړی په وخت کښی ئې همدغه نیت معتبردی، دزکات په ورکړه کښی دخولی ویناشرط نده دزړه نیت معتبردی خودخولی دوینا گټه داده چه غنی یاسید به ووایی چه زه د زکات داخستلوحق نلرم و مستحق کسانوته ئې ورکړه، مسحق د زکات، عشراوخراجو اسلامی حکومت دی، که حکومت اسلامی نه وونوبیادی وحق لرونکو کسانوته ورکړی، که چانیت دزکات نه ووکړی اوخپل ټول مال اودولت ئې خیرات کړ زکات ئې ساقط شو یعنی زکات ورباندی نشته مگرکه ئې یوه برخه دمال اودولت خیرات کړه او د زکات نیت ئې نه وو کړی نوزکات ئې نه ساقط کیږی یعنی زکات به ورکوی .

د اوښـانـوزکـوة: که د اوښانوشمیرتر پنځه کم وو زکات ورباندی نشته کله چه شمیرئې پنځه څرنکواوښانوته ورسیږی اویوکال ور باندی تیرشی ترنه (۹) اوښانوپوری دزکات برخه ئې یوپوسه دی بیاچه شمیرئې لس (۱۰) څرنکواوښانوته ورسیږی اوکال ورباندی تیرشی ترڅلورلس (۱۴) پوری دزکات برخه ئې دوه (۲) پسونه دی د اوښانوپخپله څرکول دکال په ډیره برخه پوری شمیرل کیږی یعنی که اوښان په کال کښی یوه یادوی میاشتی پخپله څر ونکړی او پرکوروابښه وخوری زکات ورباندی شته، که ټول کال یادکال ډیره برخه پرکوروابښه وخوری زکات ورباندی نشته، همدارنگه د کرایی پراوښانوزکات نشته، د کوکب دری په حواله دتجارت اوښان که څه هم پخپله څرکوی زکات ورباندی نشته، کله چه داوښانو شمیر پنځه لس (۱۵) ته ورسیږی ترنه لس (۱۹) پوری دزکات برخه ئې دری (۳)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسونه دی، که شمیرداوښانوشل (۲۰) ته ورسیږی ترڅلور ویشت (۲۴) پوری دزکات برخه ئې څلورپسونه دی، که د اوښانو شمیرپنځه ویشت (۲۵) ته ورسږی ترپنځه دیرش (۳۵) پوری د زکات برخه ئې یوه یوکلنه جونګۍ ده (چه دعمریو کال ئې پوره کړیوی)، کله چه د اوښانوشمیر تر پنځه دیرش (۳۵) زیادشی ترپنځه څلویښت (۴۵) پوری دزکات برخه ئې یوه دوه کلنه جونګۍ ده (چه دعمردوه کاله ئې پوره کړیوی)، که داوښانو شمیرترپنځه څلویښت (۴۵) زیادشی ترشپیته (٦۰) پوری د زکات برخه ئې یوه دری کلنه جونګۍ ده (چه دعمردری کلونه ئې پوره کړیوی)، که داوښانو شمیرله شپیته (٦۰) نه زیاد شی ترپنځه اویا(۷۵) پوری دزکات برخه ئې یوه څلورکلنه اوښه ده (چه دعمرڅلورکلونه ئې پوره کړی وی)، که د اوښانوشمیرترپنځه اویا(۷۵) زیادشی ترنوی (۹۰) پوری د زکات برخه ئې دوی دوه کلنۍ جونګیانی دی (چه دواړو د عمردوه کلونه پوره کړیوی)، که د اوښانو شمیرتر نوی (۹۰) زیادشو دیوسل اوشل (۱۲۰) پوری دزکات برخه ئې دوی (۲) دری کلنۍ جونګیا نی دی (چه دعمردری کلونه ئې پوره کړی وی)، په بخاری شریف او داحادیثوپه ټولوکتابوکښی ذکرشویدی چه رسول اکرم (ص) دغه د اوښانودزکات الهی حکم وخپلوټولوعاملانوته په لیك سره خبرورکړ، دخلفاء راشدینو په وخت کښی هم دغه حکم وو اوترقیامت پوری دغه حکم پاته دی .

کله چه داوښانوشمیرتریوسل اوشل (۱۲۰) زیادشی نو د زکات د فرضیت ترتیب دی له سره را وګر ځوی یعنی تریوسل اوپنځه ویشت (۱۲۵) پوری دزکات برخه یوپسه اودوی دری کلنۍ جو نګیانی دی (چه دعمردری کلونه ئې پوره کړیوی) په همدغه تر تیب پرلسواوښانودوه پسونه، په پنځلس کښی دری پسونه، په شل کښی څلورپسونه اضافه کیږی، کله چه شمیر د اوښانویوسل او پنځه ویشت (۱۲۵) ته ورسیږی تریوسل اوپنځه دیرش (۱۳۵) پوری د پسه ځای یوه یوکلنه جونګۍ نیسی یعنی دزکات برخه ئې یوه یوکلنۍ او دوی دوه کلنۍ جونګیانی دی، که داوښانوشمیر یوسل اوشپږدیرش (۱۳٦) ته ورسیږی تریوسل اوپنځه څلویښت (۱۴۵) پوری دزکات برخه ئې یوه دوه کلنۍ اودوی دری کلنۍ اوښانی دی (چه یوی دعمردوه کلونه اودوو دعمردری کلونه پوره کړیوی)، کله چه داوښانوشمیریوسل اوپنځوس (۱۵۰) شو دزکات برخه ئې دری دری کلنۍ اوښانی دی (چه دعمردری کلونه یی پوره کړیوی)، چه د اوښانوشمیرله یوسل اوپنځوس نه زیات شی نصاب دی له سره شروع کړی یعنی پرپورتنی زکات برسیره پرپنځو اوښانویو پسه، پرلسو اوښانو دوه پسونه، پر پنځلس اوښانو دری پسونه اوپرشل اوښانوترڅلورویشت پوری څلورپسونه دی، کله چه داوښانو شمیر یوسل اوپنځه اویا(۱۷۵) ته ورسیږی تریوسل او پنځه اتیا(۱۸۵) پوری دزکات برخه ئې یوه یوکلنۍ اودری دری کلنۍ اوښانی دی (چه یوی دعمریوکال او درو دعمردری کلونه پوره کړیوی)، کله چه داوښانوشمیرله یوسل اوپنځه اتیا(۱۸۵) نه زیات شی تریوسل اوپنځه نوی (۱۹۵)پوری د زکات برخه ئې یوه دوه کلنۍ او دری دری کلنۍ اوښانی دی (چه یوی دعمر دوه کلونه او درو دعمر دری کلونه پوره کړیوی)، کله چه داوښانو شمیرله یوسل اوپنځه نوی (۱۹۵) نه زیات شی تردوه سوه (۲۰۰) پوری دزکات برخه ئې څلوردری کلنۍ اوښانی دی (چه دعمردری کلونه ئې پوره کړیوی)، کله چه داوښانوشمیرله دوه سوه (۲۰۰) نه زیادشی نصاب به بیرته له سره شروع کوی، لکه دیوسل او پنځوس (۱۵۰) نه چه شروع شوی وو. د اوښانوپه زکات کښی به اوښه ورکوی چه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسل ورنه ونیول شی. بختی اوعجمی اوښان دزکات په نصاب کښې سره برابردی اوعربی اوښ هغه دی چه مور او پلار ئې دواړه عرب وی.

دغـوایـانـواوغـواوو زکـوة: هغه غوایان یاغواوی چه پخپله څرکوی شمیرئې له دیرش (۳۰) نه کم وی په نصاب کښې داخل نه دی زکات ورباندی نشته که ئې شمیر ودیرش (۳۰) ته ورسیږی یو کال ورباندی تیرشی اوپخپله څرکوی دزکات برخه ئې یوکلن گلگی یاگلگۍ ده (چه دعمریوکال ئې پوره کړیوی)، که ئې شمیر وڅلویښت (۴۰) ته ورسیږی دزکات برخه ئې د دوو(۲) کالوگلگی یاگلگۍ ده (چه دعمردوه کلونه ئې پوره کړیوی)، دامام اعظم اوبوحنیفه (رح) په نیزکه شمیردغوایانویاغواوو ترڅلویښت زیادشو ترشپیته (٦٠) پوری دزکات برخه پر زیادشوی غوایانودلسمی برخی څلورمه ده دمثال په توگه که یو غویی یاغوا ترڅلویښت بالاشی دیوی گلگۍ قیمت څلوررزه افغانۍ وی نو د تیرحساب په تناسب دگلگۍ د قیمت لسمه برخه څلورسوه افغانۍ کیږی او دڅلورسوو افغانیو څلورمه برخه سل افغانۍ شوه، که دوه غوایان بالاشی نوپه هغوکښې دلسمی برخی قیمت دگلگۍ نیمه برخه کیږی چه د زکات برخه ئې دوه سوه افغانۍ کیږی، که دری غوایان بالاشی نو دری څلورمی د گلگۍ دقیمت دری سوه افغانۍ کیږی، امام ابویوسف (رح) اوامام محمد (رح) وایی چه له څلویښت (۴۰) نه تر شپیته (٦٠) پوری پر زیادشوی غوایانویاغواوو د زکات زیادتوب نشته، خوکله چه دغوایانویاغواووشمیر شپیته (٦٠) ته ورسیږی دزکات برخه ئې دوه یوکلن گلگیان یا گلگیانی دی، که دغوایانوشمیراویا(۷۰) ته ورسیږی د زکات برخه ئې یویوکلن اویو دوه کلن گلگان دی، که دغوایانوشمیراتیا(۸۰) ته ورسیږی د زکات برخه ئې دوه دوه کلن گلگیان دی، که ئې شمیرنوی (۹۰) ته ورسیږی د زکات برخه ئې دری یوکلنی گلگیانی دی، په سلوکښې دوی یو کلن اویوه دوه کلنه گلگۍ ده په همدغه ترتیب دزکات برخه په هرلس (۱۰) غوایانوکښې له یوه کلنۍ گلگلۍ نه و دوه کلنۍ گلگۍ ته زیادت کوی، د زکات برخه په غوایانواوگاؤمیښوکـښې یوشان ده.

دپـسـوزکـوة: د پسوشمیرچه له څلویښت نه کم وی زکات ور باندی نشته کله چه شمیرئې و څلو یښت ته ورسیږی پخپله خوله څرکوی یوکال ورباندی تیرشی تریوسل اوشل (۱۲۰) پوری د زکات برخه ئې یوپسه دی، که یوپسه بل ورباندی زیادشی تردوه سوه (۲۰۰) پوری دزکات برخه ئې دوه پسونه دی، که پردوه سوه (۲۰۰) پسونویوبل زیادشی تردروسوو(۳۰۰)پسونوپوری د زکات برخه ئې دری پسونه دی، کله چه دپسوشمیر وڅلورسوه (۴۰۰) ته ورسیږی دزکات برخه ئې څلورپسونه دی، بیاپرهروسلو(۱۰۰) پسوباندی دزکات برخه یوپسه بالاکیږی، پسه، میږ او وزه په زکات کښې سره برابردی.

د آسـانـوزکـوة: آسان چه نراوښځی یوځای گډ ژوندکوی یوکال ورباندی تیرشی خاوندئې اختیار لری د زکات برخه دهرآس پرسر دی یودینار ورکړی یادی ټول آسان قیمت کړی په هر(۲۰۰) دوه سوه افغانۍ کښې دی پنځه افغانۍ دزکات برخه ورکړی، امام ابوحنیفه (رح) وایی هغه نرآسان چه دماده آسانوسره ژوند نه کوی زکات ورباندی نشته، امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد(رح) وایی چه په آسانوکښې هیڅ زکات نشته همدارنگه امام ابوحنیفه (رح) اوامام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد (رح) وایی که خره اوغاتری دتجارت دپاره نه وی زکات ورباندی نشته که دتجارت دپاره وی نوپه قیمت کښی ئې زکات شته، همداراز د اوښ جونګیان چه عمرئې دوهم کال ته نوی رسیدلی، ګلګیان چه دعمریوکال ئې نه وی پوره شوی او وریان چه عمرئې تریوه کال کم وی زکات ورباندی نشته مګرکه د دوی سره ددوی لویانو ګډ ژوندکوی بیاټول حسابل کیږی نوپه ټولو کښی زکات فرض دی، امام ابویوسف (رح) وایی چه پر ذکرشوی وړوحیواناتوهم زکات شته چه یوبه ورڅه ورکوی ولی فتوی پرقول دطرفینو ده، که پر چا باندی دزکات برخه دوه کلن څاروی پاته وی اوهغه نه پیداکیدی نوزکات اخستونکې دی دلوړسن څاروی ورنه واخلی یعنی مالك مجبورنه دی چه حتمی به دوه کلن څاروی پیداکوی، زکات اخستو نکې دی دڅاروی اضافه قیمت ومالك ته ورکړی یادی دکم سن څاروی او دهغه پاته قیمت له مالك نه واخلی، دکوکب دری، هدایه، ردمختار او نوروکتابوپه حواله دامام اعظم ابوحنیفه (رح) په مذهب دحیواناتودزکات په ورکړه کښی د حیوان دقیمت ورکړه رواده، همدارنګه په سرسایه، نذر، اوکفاراتو کښی دقیمت ورکړه رواده، د یوی اوغوبل پرغوایانو، دکرایه کښې پراوښانواوپر واښه خوړونکوحیواناتویعنی چه څرنه کوی او پرکور واښه خوری زکات نشته، زکات اخستونکې دی ترحق ښه یاترحق بالامال نه اخلی اوهم دی ترحق کښته یاترحق کم مال نه اخلی میانځګړی مال دی واخلی چه یوهم تاوانی نشی، که پرچاباندی دمال نصاب وو دکال په اوږدوکښی ئې ګټه وکړه دههغه جنس نصاب نورهم زیادشو نوګټل شوی مال دی له زوړمال سره ګډکړی اودټول مال زکات دی ورکړی ځکه چه پرګټل شوی مال دکال تیریدل شرط ندی، همداراز که چاواښانی، میږی او غواوی درلو دی او د هغوی په شیدو او کوچو او مستوئې پیسی ګټلی نوکله چه پردغه پیسوکال تیرشی زکات به ئې ورکوی، هغه حیوانات چه د کال په ډیره برخه کښی په څړسره ژوندکوی که شپږمیاشتی یا اضافه ترشپږمیاشتو پرکورواښه وخوری زکات ورباندی نشته .

امام اعظم اوبوحنیفه (رح) اوامام ابویوسف (رح) وایی زکات په نصاب کښی دی په عفوکښی نه دی، دمثال په ډول که چاووه (۷) اوښان درلودل پنځه ئې نصاب دی اودوه ئې عفودی چه دزکات برخه ئې یوپسه دی، که دکال دتیریدو وروسته او دزکات دورکړی ترمخه ئې دوه اوښان مړه شوه یایی خرڅ کړه نو د زکات برخه به هغه یوپسه ورکوی ځکه چه زکات په نصاب کښی دی اونصاب باقی دی. امام محمد(رح) اوامام زفر(رح) وایی چه یوپسه دی قیمت کړی اوقیمت دی پر(۷) برخوتقسیم کړی پنځه برخی ئې د زکات دی ځکه زکات په نصاب اوپه عفوپه دواړوکښی دی، که دزکات له فرضیت نه وروسته دچامال هلاك شونوزکات ئې ساقط شو یعنی زکات ئې هم هلاك شو، ځکه چه زکات جز د مال دی او جز یوه برخه دکل ده کله چه کل هلاك شی نوجزهم هلاك شو، که څوك د نصاب خاوندوو دکال ترتیریدونه مخکی د زکات ورکړه ورته رواده

دسپـینو زرو زکـوة: سپین زرچه تردوه سوه (۲۰۰) درمه کم وی زکات ورباندی نشته، کله چه مقدارئې ودوه سوه (۲۰۰) درمه ته ورسیږی اویوکال ورباندی تیرشی تر(۲۴۰) دوه سوه اوڅلویښت درمه پوری دزکات برخه ئې پنځه (۵) درمه ده، امام ابوحنیفه (رح) وایی چه وروسته له دوه سوه (۲۰۰) درمو پر هرڅلویښت در موچه کال تیرشی د زکات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه ئې یو(۱) درم دی، امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد(رح) وائي چه تردوه سوه (۲۰۰) درمه ډیرشی زکات ئې په شمیر د دوو سوو (۲۰۰) درمودی، یعنی که دوه سوه اوشل (۲۲۰) درمه وی نو د زکات برخه ئې پنځه اونیم (۵،۵) درمه ده اونورهـم په دغـه قـیاس .

که په سکه لرونکوپیسوکښی سپین زر ډیروه هغه حکم دسپینو زرولری، وزن (تول) ئې معتبردی، که په سکه لرونکی پیسوکښی غش (کوټ) ډیر وه حکم دعروض لری مقدارئې اعتبارنلری هغه وخت زکات پرکیږی چه نصاب ته ورسیږی.

څرنگه چه دنړۍ مروجه اسعاریوشان نه دی نولازم دهرمملکت مسلمانان دسپینو زرو د زکات د ور کړی په هکله داصل معیارچه دوه سوه (۲۰۰) درمه دی قیمت پخپلواسعارومعلوم کړی بیادی د زکات برخه معلومه کړی.

د زکات د ورکړی په هلکه هرڅوك دخپلی شتمنۍ دزکات د ور کړی مسئول دی، یعنی ښځه یا اولادو نه دی دپلارياخاوند د زکات د ورکړی په هیله خپل اسلامی فرض نه پریږدی.

د سـرو زرو زکـوة: سره زرچه له شل مثقاله کم وی زکات ور باندی نشته کله چه مقدارئې شل مثقاله ته ورسیږی اویوکال ور باندی تیرشی دزکات برخه ئې نیم مثقال ده، امام اعظم ابوحنیفه (رح) فرمایی کله چه سره زرترشل مثقاله ډیرشی نو پرهرڅلور مثقاله د زکات برخه دوه قیراته ده، یعنی پر اضافه دوه یا دری مثقاله زکات نشته ځکه چه ترڅلورمثقاله کم وی زکاتورباندی نشته، مگر یاران (رح) وایی چه ترشل مثقاله هرڅومره بالاشی په حساب دشلومثقالوبه زکات ورکوی، همدارنگه په بی سکه سرو اوسپینوزرو زیوراتواولوښوکښی زکات شته .

دعروض زکـوة: بیله سپینواوسرو زرو نورټول شیان عروض بلل شویدی لکه قالینی، کمبلی، موټر، کتابونه، جامی، سامان دکانونه سرايونه، حیوانات، مشینونه اوداسی نور، عروض هرڅه چه وی که دتجارت دپاره وی زکات ورباندی فرض دی، مصنف (رح) قید د تجارت ځکه ورسره ذکر کړیدی که دغه عروض که څه هم بیه ئې ترنصاب بالاوی دخپل استعمال دپاره وی نوپرهغه زکات نشته لکه دسپرلۍ موټر، په کورکښی داستعمال کمبلی داغوستلوجامی اوداسی نور، مگر یو موټر چه دتجارت دپاره وی قیمت ئې نصاب ته ورسیږی زکات ورباندی شته همداراز دکانونه سرایونه او داسی نور. دتجارت عروض چه بیه ئې ونصاب ته دسرو یاسپینوزرو ورسیږی زکات ورباندی شته، دغه عروض دی دفقیرانواومسکینانودگټی په خاطرپه سپینویاسروزروقیمت کړی امام ابویوسف (رح) وایی چه په کوم مال ئې دغه عروض پیرودلی وی په هغه مال دی بیه کړی که ئې په سرو یاسپینو زروپیرودلی نه وه په عروض ئې پیرودلی وه نودهغه وطن په مروجه اسعارودی قیمت کړی، امام محمد (رح) وایی که مالك عروض په نقده یاپه پور پیرودلی وی اوس دی د وطن په مروجه اسعارو قیمت کړی، که دعروضو نصاب دکال په اول اوآخرکښی پوره وو او دکال په مابین کښی ئې تاوان کړیوی دزکات فرضیت نه ساقطیږی یعنی زکات به ورکوی، مگرکه دکال په اول کښی نصاب پوره وو او دکال په آخرکښی کم شونوزکات ورباندی نشته امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی دعروضوبیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی له سرو او سپینو زروسره ګډه کړی، دغه رنګه دنصاب دپوره کیدودپاره د سروزرو بیه دی له سپینوزروسره ګډه کړی، دمثال په ډول که چاسل درمه درلودل اودسل درموئې عروض هم درلودل نودواړه دی سره ګډ کړی د دوه سوه درموزکات دی ورکړی، همدارازکه چالس مثقاله سره زر درلودل اونورئې سپین زر یاعروض درلودل چه دهغوبیه هم لس مثقاله سره زرکیږی ټول دی سره ګډکړی دشل مثقاله سرو زرو زکات دی ورکړی، یاران (رح) وایی سره زراوسپین زر دی په اعتباردبیع (قیمت) نه سره ګډوی بلکه په اجزاء سره دی ګډکړی امام حنیفه (رح) وایکه چا سل درمه درلودل اوپنځه مثقاله سره زر چه بیه ئې سل درمه وه او کال پرتیرشوی وو نو ددوه سوه (۲۰۰) درمو زکات دی ورکړی یاران (رح) وایی زکات ورباندی نشته ځکه سپین زرکه نیم نصاب دی سره زرخونیم نصاب (لس مثقاله) نه دی بلکه پنځه مثقاله دی نواجزاء ئې برابره نده.

دکرنی اومیووزکوة: پدغه بحث کښی دمصنف (رح) مرادله زکات نه عشردی، په زکات کښی نصاب شرط دی ولی په عشر کښی شرط ندی، امام اعظم ابوحنیفه (رح) فرمایی هرهغه ثمرچه له ځمکی نه راوزی که لیږوی اوکه ډیروی دهغه لسمه برخه عشر ورکول فرض دی په دغه حدیث سره چه نبی کریم (ص) فرمایلی دی ﴿ماخرجته الارض ففیه العشر﴾ یعنی هرهغه حاصل چه له ځمکی نه را ووزی په هغه کښی لسمه برخه د فقیرانواومسکینانو ده، په حدیث شریف کښی دلیږاوډیرذکرندی شوی.

هرحاصل (ثمر)چ ه په روانواوبواوبه شویوی یادآسمان په باران اوبه شوی وی لکه غنم، جوار، اوربشی، ماش، لوبیا، نخود او داسی نورچه حاصل ئې دساتلووړوی، اوهغه چه حاصل ئې نه ساتل کیږی لکه انار، مالټه، کیله، ګنی، خټکی، هندوانه اوداسی نور دعشر ورکړه ئې فرض ده، په لرګو، نلانواو ښوکښی عشرنشته مګرپه حواله د(۱۸۴) صفحی د اول جلد د هدایی که چناران یاعما رتی لرګی کرل شوی وی په حصول کښی ئې دعشرورکړه فرض ده . هغه نلان چه پخپله راشنه کیږی عشر پکښی نشته که د تجارت په هکله کرل شویوی نوعشرورباندی شته، که په ځمکه کښی په قصدسره شپشتی یاشوتله یاداسی بل شی کرل شویوی په حصول کښی ئې د عشر ورکړه فرض ده، دهدایی ذکر شوی صفحی زیاده کړیده چه دتاکبری پرتاکانواوپر پروړو عشرنشته مګر که چادنقدو پیسونصاب درلودی او دزکات ورکولومخ کښی ئې پروړخرڅ کړل نود پروړو پیسی هم له نقدوسره جمع کیږی او د ټولو پیسوزکات به ورکوی.

امام ابویوسف (رح) او امام محمد(رح) وایی د عشرورکړه یوازی د کرنی په هغه حاصلاتوکښی فرض ده چه ثمرئې دوام او بقالری (دهدایی داول جلد په (۱۸۳)صفحه کښی دثمربقالرترلره یوکال ښودل شویده) لکه غنم، اربشی، جوار، وریجی، لوبیا، نخود او داسی نور، پس دیارانوپه مذهب په منو، انارو، کیلو، مالټو نارنج، ناك اوداسی نوروکښی عشرنشته، همدارنګه دیارانو(رح) په مذهب دځمکی حاصلاتوته نصاب شرط دی چه پنځه وسقه دی چه یووسق په کاسه دنبی کریم (ص) شپیته کاسی کیږی، یاران (رح) وایی چه په سبزیجاتوکښی عشرنشته لکه بانجن،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادرنګ،ترتیزك ګندنه، شلغم، ملۍ، پالك اوداسی نور، په حواله د ردمختاروالبدائع په دغواختلافاتوکښی فتوی پرقول د امام اعظم ابوحنیفه (رح) ده .

دامام اعظم (رح) په مذهب هغه کښت چه دارهڼه اوبوپه لویو سلوغو سره اوبیږی کومی چه دغوایی یا د اوښی په واسطه ئې را باسی دحاصلاتوشلمه (۲۰) برخه ئې عشرده، یاران (رح) په دغه فتوی کښی ورسره موافق دی، امام ابویوسف (رح) وایی هغه پیدا وار چه پلورل او پیرودل ئې په وسق نه کیږی لکه زعفران اومالوچ (پنبه) نوپه بیه کښی د ارزانه حاصلاتود پنځه وسقودبیع سره په مستقیم تناسب سره عشرفرض دی، د مثال په توګه که دجوارو د پنځه وسقوبیه سل (۱۰۰) افغانۍ وی عشرئې لس (۱۰) افغانۍ دی نو د مالچو او زعفرانودقیمت په هرسل (۱۰۰) افغانیوکښی د عشربرخه لس (۱۰) افغانۍ ده، امام محمد(رح) وایی هرکله چه حاصل دمالچو او زعفرانو و پنځه چنده ته دهغه عمده شیانو ور سیږی چه دهغه داندازی مقیاس وی زکاتورباندی فرض دی چه په مالچوکښی پنځه غوټۍ (انډیه)، په زعفرانوکښی پنځه منه دی (من ۳٦۰ درمه دی) . امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی د عسل (شاتو) حصول له عشری ځمکی نه که لږوی اوکه ډیروی دعشر ورکړه ئې فرض ده، امام ابویوسف (رح) وایی په شاتوکښی هغه وخت عشرفرض دی چه حاصل ئې لس (۱۰) زقوته ورسیږی، امام محمد(رح) وایی دشاتوحصول چه ترپنځه فرقه کم وی عشر ور باندی فرض نه دی، یوفرق اته لس (۱۸) منه دی چه ټوله نوی (۹۰) منه کیږی همدارازهغه شات چه له خراجی ځمکی نه حا صل شی عشرورباندی فرض نه دی .

چاته دزکوة ورکړه روا اوچاته نارواده: ددغه موضوع د مسئلو زده کړه ډیره مهمه ده ځکه چه دنیااودولت زړګی ته نژ دی اوډیرخوږ دی، بعضی کسان چه پخپله غنیان دی او د دوی پرشتمنۍ باندی فرض عین زکات پاته دی نه یوازی دخدای پاك زکات نه ورکوی بلکه دنورو زکاتونه هم را ټولوی، دزکات نه ورکول دخدای پاك (ج) له حکم نه سرغړونه او د بل د زکات اخستل ورته حرام دی، که زکات ورکونکۍ دزکات اخستونکی په غناخبروی زکات ئې صحیح ندی اونه ئې غاړی په خلاصیږی، کومو کسانوچه د زکات دنه ورکړی په هکله یادغنا په صورت کښی دبل دزکات اخستلو په هکله حیلۍ جوړی کړیدی خپل ځانونه ئې ښه غولولی دی خوالله (ج) نشی غولولای که چاپرکوم غنی باندی د مسکین ګمان وکړ او زکات ئې ورکړهغه هم ورنه واخست نودزکات ورکونکی غاړی خلاصی شوی مګر و زکات اخستونکی ته حرام دی، د زکات ورکړه د زړه په اراده پوری اړه لری دخولی ویناشرط نه ده خودخولی دویناګټه داده چه هغه څوك چه د زکات اخستلومستحق نه وی وبه وایی چه زه غنی یم یاسیدیم دزکات اخستل راته روانه دی کوم غریب ته ئې ورکړه.

الله(ج) دقرآنکریم د توبه دسورت په شپیتم (٦۰) آیت مبارك کښی فرمایی ﴿انماالصدقت للفقرآء والمسکین والعملین علیها والمؤلفة قلوبهم وفی الرقاب والغامرین وفی سبیل الله وابن السبیل ط فریضة من الله ط والله علیم حکیم﴾ په تحقیق سره زکاتونه ددغوکسانولپاره دی لکه فقیران، مسکینان، عاملین (چه داسلامحکومت له لوری د زکاتوپه راټولولومقررشویوی) مؤلفة القلوب (هغه کسان چه داسلام راوړلو هیله ئې کیږی یاپه اسلام کښی کمزوری وی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداسی نور)، فی الرقاب (د مریانوسره د هغوی دغاړوخلاصولوپه هلکه مرسته چه دمالك نه ځانونه آزاد کړی) پوروړوته، د خدای په لارکښی لکه جهاداونورښه کارونه مسافرته، دزکات ورکړه داالله (ج) له لوری فرض ده او الله (ج) دښه پوهی اوحکمت خاونددی .

له ذکرشوی اته ډلونه دزکات حق له مؤلفة القلوب نه ساقط شو ځکه چه خدای (ج) اسلام بیله دوی نه عزتمن اوغنی کړ. مؤلفة القلوب هغه ضعیف الایمانه کسان وه چه دپیسو دپاره په اسلام کښی پاته وه یاهغه کافران وه چه دپیسو دپاره واسلام ته راتلل په قرآنکریم کښی ودوی ته برخه ورکړه شویده اودرسول کریم (ص) په زمانه کښی دوی خپله تنخواوړله، په حواله د(۱۸۷) صفحی دهدایی د لومړی جلدکوم وخت چه رسول کریم (ص) له دنیانه رحلت وکړاوحضرت ابوبکرصدیق (رض) د اسلام خلیفه شودغوکسانو ورته وویل چه زموږ مکتوب راولیکه چه ستاوخلافت ته رانقل شو حضرت ابوبکرصدیق (رض) دوی ته ددوی دتنخوامکتوب ورکړ بیادوی وحضرت عمر(رض) ته راغلل چه په هغه هم دغه مکتوب لاسلیك کړی، حضرت عمر(رض) هغه مکتوب څیری کړاودوی ته ئې وویل رسول کریم (ص) ځکه تاسی ته تنخوادرکول چه ستاسو زړونه له اسلام سره مینه پیداکړی نن چه الله (ج) اسلام ته عزت اوغلبه ورپه برخه کړه ستاسومرستی ته اړتیانشته اوس زموږ او ستاسی ترمابین یااسلام دی یاتوره ده اوبس.

دوی بیرته وحضرت ابوبکرصدیق (رض) ته راغلل اوورته ئې وویل چه داسلام خلیفه ته ئې که حضرت عمر (رض) دی؟ حضرت ابو بکرصدیق (رض) ورته وویل چه انشاءالله دئ دی، پر دغه مسئله ټولوصحابه کرام (رض) په اتفاق سره اجماع اوحکم وکړچه دمؤلفة القلوب برخه به نه وی.

حسن بصری، امام زهری، امام محمد او امام شافعی رحمت الله عنهما وایی چه د مؤلفة القلوب برخه نده ساقط شوی اوس ئې هم د مسلمانانوامام ورکوی ځکه چه د دوی برخه په قرآن اوحدیث سره ثابته ده نوپه قول دحضرت عمر(رض) خونه منسوخه کیږی، د دوی ددغه دلیل په ځواب موږ حنیفیان وایو چه دقرآن شریف دغه حکم په اجماع اواتفاق سره منسوخه شو، دوی وایی چه دقرآن مسخ په اجماع سره رواده خوچه داجماع دلیل هم قطعی اویقینی وی، عینی وایی چه دغه ځواب ضعیف دی ځکه چه دقرآنکریم قاطعیت اوقوت داجماع ترقوت ډیردی، صحیح ځواب په اتفاق سره دټولوفتاواوو دادی چه قرآنی حکم په سبب دختم د هغه حکم ومسخی ته رسیږی یعنی دمؤلفة القلوب دتنخوا د حکم سبب د اسلام ضعف ووکله چه داسلام مبین دین قوی شونو دضعف سبب ئې ختم شو نو د قرآن کریم حکم هم ختم شو، بل مثال ئې دقرآن کریم په ډیروآیتوسره دکافرانوپه مقابل کښی دجهاد فرضیت دی چه سبب ئې کفردی، که دنړۍ ټول کافران مسلمانان شی نودقرآنکریم حکم دجهادپه هکله هم ختم شو.

فقیرهغه څوك دی چه لږ شی ولری دلږشی اندازه بعضودیوی شپی اوورځی خرڅه ټاکلی ده او بعضو دیوی میاشتی خرڅه ټاکلی ده مسکین هغه څوك دی چه هیڅ نلری، عامل هغه څوك دی که ئې کار کړیوی امام یاحاکم دهغه دکارپه اندازه یوڅه ورکړی، ورکړه په رقاب کښی داده چه دمکاتبو مریانو سره د دوی له مالکانوڅخه د خلاصون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله مرسته وشی، غارم هغه څوك دی چه پوروړی وی، فی سبیل الله هغه څوك دی چه په غزاکښی بی خرڅه شی که څه هم په وطن کښی مالداره اوغنی وی، وبن السبیل هغه څوك دی چه په خپل وطن کښی هرڅه لری مگر په داسی ځای کښی وی چه هلته هیڅ نلری احتیاج وی، دغه ذکرشوی ډلی د زکات مستحق دی وبل چاته زکات ورکول رواندی، زکات ور کو نکی ته رواده چه وهری ډلی ته د ذکرشوو ډلو لږ لږ زکات ورکړی که ئې خوښه وی ټوله دی یوی ډلی ته ورکړی، زکات ورکونکی ته روانده چه واهل ذمه ته زکات ورکړی (اهل ذمه هغه کافردی چه دهمیشه دپاره په ذمه واری په اسلامی مملکت کښی اوسیږی) دکوکب دری د(۵۴) صفحی په حواله واهل ذمه ته بیله زکات نه نورټول خیراوخیرات ورکول روادی، زکات ورکونکې دی د زکات په پیسو مسجدنه جوړوی او نه دی د زکات په پیسو مړی ته کفن رانیسی، زکات ورکونکې دی دمړی پوردزکات په پیسو نه اداکوی، دزکات ورکونکې دی غنی ته زکات نه ورکوی (غنی هغه څوك دی چه دنصاب مالك وی)، دعالمانودپاره یوجلد د تفاسیرو، فقهی، داحادیثودلغت کتاب لکه مجمع البحار یا تفسیراتقان اویوجلددهغه کتاب چه دکتابوحل په کیږی له حاجت اصلی څخه دی غنانه پرثابتیږی، که کتابونه تراصلحاجت اضافه شی اوقیمت ئې ونصاب ته ورسیږی نوغنی دی دزکات اخستل ورته روانه دی، امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی چه زکات ورکونکې دی زکات وغنی ته نه ورکوی، وخپل پلاراونیکه یا تر دوی لوړلکه ورنیکه ته دی نه ورکوی، خپل عیال ته دی زکات نه ورکوی که څه هم مسکینان وی که نروی اوکه ښځه وی که په کورکښی جداوی اوکه گډوی، همدارنکه زکات دی لمسیانواو د لمسیانو وعیال ته نه ورکوی که څه هم په مرتبه کښی کښته وی خپلی مور او نیاته دی زکات نه ورکوی که څه هم لوړوی، خپلی ښځی ته دی زکات نه ورکوی، ښځه دی وخپل خاوند ته زکات نه ورکوی یاران (رح) وایی چه دښځی زکات وخپل خاوندته روادی زکات ورکونکې دی وخپل مکاتب ته زکات نه ورکوی، زکات دی وخپل مریی ته نه ورکوی، زکات دی نه ورکوی دغنی ومریی ته، زکات دی دغنی نابالغه زوی یالورته نه ورکوی، که دغنی زوی یالوربالغ وه که څه هم د پلارسره ژوندکوی د بل چا دزکات ورکړه ورته رواده، زکات دی و اولادته دهاشم، دعلی(رض)، اولاد دعباس (رض)، اولاددجعفر(رض)، اولادته دعقیل (رض) او اولاد دحارث (رض) ته چه دعبدالمطلب زوی دی نه ورکوی، د دوی ومریانوته دی هم زکات نه ورکوی.

بنی هاشم ترسیدانوعام دی سیدانوته دزکات اخستل حرام دی په دغه قول سره دنبی کریم (ص) ﴿یـا بنـی هـاشم ان اللـه حرم علیکم غسالة اموال الناس اوسانهم وعوضکم منهاخمس الخمس﴾ یعنی ای بنی هاشموپه تحقیق سره خدای (ج) حرام کړی دی پرتاسو پریولی دخلگودمالو(زکات اوخیری) اوعوض ئې درکړ تاسوته پنځمه دپنځمی دبیـت المال (دغنیمتو)، دبنی هاشمو او سیدانودزکات په اخستلوکښی دفقهاوواختلاف دی بعضی دحر مت سبب شرافت ددوی دنسب بولی چه هغه شرافت ترقیامت پوری پاته دی نوزکات اخستل ورته حرام دی، بعضی فقهاء(رح) وایی چه سبب دحرمت ئې خمس الخمس دی لکه په حدیث کښی چه ذکرشویدی، څرنگه چه اسلامی حکومتوخمس الخمس له دوی نه بندکړیدی نوزکات اخستل ورته روادی والله اعلم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابوحنيفه (رح) اوامام محمد(رح) وايي كه زكات وركونكى داسى چاته زكات وركړچه دده يقين ووچه دغه فقيردى وروسته معلومه شوه چه هغه غنى وورياهاشمى ياكافر وو او ده ته معلوم نه وو چه دغه هاشمى ياكافردى، يائې په تاريكه كښى وفقيرته زكات وركړ وروسته ورته معلومه شوه چه هغه فقيرنه وو زماپلار يازمازوى وو نودده دزكات وركړه صحيح ده دوهم ځل اعاده د زكات ورباندى نشته، امام ابويوسف (رح) وايي چه په ټوله ذكر شوو صورتوكښى پر زكات وركونكى د زكات اعا ده (راګرځول د زكات) شته په وركړه شوى زكات ئې غاړى نه خلاصيږى .

كه زكات وركونكى په سهوه سره چاته زكات وركړ او وروسته ورته معلومه شوه چه زكات اخستونكى زماخپل مريى يامكاتب وو نوپه قول د درواماماانو(رح) دزكات وركړه ئې صحيح نه شوه د زكات اعاده به كوى يعنى بيابه زكات وركوى، دزكات وركړه هغه چاته روانده چه دنصاب مالك وى، دلته مال مشخص ندى دهرمال نصاب چه وى، دزكات وركړه وهغه چاته رواده چه د نصاب خاوندنه وى كه څه هم روغرمټ اوپركسب اوكارغښتلى وى، د زكات وړل له يوه ښارنه وبل ښارته مكروه دى بلكه زكات وركونكې دى خپل زكات دخپل استوګنى په ښاركښى ومحتاجانو او فقيرانوته ورتقسيم كړى، مګركه زكات وركونكې اړشوچه دده دوستان اوقريبان په بل ښاركښى ډير محتاج دى نووهغوته دزكات وړل مكروه نه دى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فطرصدقه (سرسایه)

دفطردصدقی(سرسایی) اندازه نیمه کاسه ده چه هغه دوه کیلوغنم کیږی یایوه کاسه دخرما یا د وڅکویاداوربشوده یاددغوشیانومروجه بیه نقدی پیسی دی، که چاخرمایاوڅکی یاکشمش ورکول نوپوره کاسه به ورکوی که څه هم قیمت ئې ترنیمه کاسه غنموبالاوی امام ابوحنیفه (رح) اوامام محمد(رح) وایی چه کاسه دعراق په رطل سره اته رطله ده چه څلورمنه کیږی مګرامام ابویوسف (رح) وایی چه کاسه دعراق په رطل سره پنځه رطله اویوه دریمه د رطل ده، هرآزادمسلمان چه دهرمال د نصاب خاوندوی اودغه نصاب تر حاجت اصلی بالاوی لکه داستوګنی ترکور، ترجامو، دسپرلۍ تر آس، دپسرلۍ ترموټر، اوترجنګی سلاح لکه ټوپك، کلاشنکوپ یاداسی نورسامان نوسرسایه وربانْدی واجب ده، پرمریی یاکافر باندی سرسایه واجب نده، دخپل ځان اونابالغه اولاد اودخدمت د مریانوسرسایه به ورکوی، نارینه دخپلی ښځی دسرسایی دورکولو مسئول نه دی، که ښځه غنی وه نوپردی پخپله سرسایه واجب ده پلاردبالغواولادودسرسایی مسئول ندی که څه هم اولادونه له ده سره ګډ ژوندکوی .

که زامنودپلارسرمایه په کاراچولی وه اوګټه ئې پلارته ورکول نو زامن مسکینان اودپلارمزدوران دی نه زکات وربانْدی شته اونه سرسایه، همدارازکه زامنوخپل کسب یاتجارت درلودی اوپلارئې مسکین وو نو پرپلارنه زکات شته اونه سرسایه، دمکاتب مریی اوهغه مریان چه دتجارت دپاره وی سرسایه دی نه ورکوی مګر د هغوی په بیه کښی زکات شته، همدارنګه هغه مریی چه په دوو کسانو شریك وی سرسایه ئې پرهیڅ یوه نشته، مګرمسلمان به د خپل کافرمریی سرسایه دوه کیلو غنم یا یوه کاسه دخرمایایوه کاسه داوربشو یادغنمو یامعادل بیه نقدی پیسی ورکوی .

دسرسایی ورکړه دکمکی اختردسهارله دوهمی سپیدویعنی صبح صادق وروسته شروع کیږی، امام شافعی(رح) وایی چه دروژی د میاشتی دآخری ورځی له لمرلویدونه وروسته شروع کیږی، که څوك دکمکی اختردسهارله دوهموسپیدوترمخه مړشونوسرسایه وربانْدی واجب نده، همدارازکه کافر د دوهموسپیدووروسته مسلمان شو یاڅوك وزیږیدی نوسرسایه وربانْدی واجب ده، ښه کاردی چه عیدګاه ته له تګ نه مخکی سرسایه ورکړی څوچه فقیران او محتاجان په خوشحالی سره عیدګاه وکړی، که څوك داخترله ورځی نه مخکی سرسایه ورکړی رواده اوښه کاردی، که چاداختر په ورځ سرسایه ورنه کړه نوورکړه دسرسایی وربانْدی پاته ده وردی کړی. که ښځی له دروجوړونه زیادی داغستلوجامی درلودی او قیمت ئې ونصاب ته رسیدی پرهغه ښځی سرسایه واجب ده پرچاچه شرعی سرسایه واجب وی یااختری وربانْدی واجب وی هغه ته دبل دزکات اخستل حرام دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې حـکـمـونـه

روژه دوه قسمه ده فرض روژه اونفل روژه، فرض روژه بیا دوه قسمه ده چه یوه ئې په زمان پورې تعلق لرې لکه دروژې دمیا شتې روژه یادنذرمعین روژه یعنی چه څوك نیت وکړی چه پرما سباروژه نذرده، دغه روژه په شپه کښی په نیت کولوسره رواده یعنی چه دشپې نیت وکړی چه سبامی فرضی یانذری روژه ده، که چادشپې نیت نه ووکړی اوسهارشونوپه مابین کښی دسهاراودلمر دزیوال دی نیت وکړی، دوهم قسم فرضی روژه لکه دروژې دمیاشتې قضائی، دنذرمطلق روژه، دکفاری روژه (چه چاقسم کړیوی) دقتل، خطاء اودکفارهٔ ظهارروژې چه تفصیل به ئې دنکاح په بیان کښی راشی، د دغه ذکرشوو روژودپاره کوم معین وخت نشته هروخت چه ئې نیسی خونیت ئې ضروردی ځکه چه د روژې نیول تعین دوخت غواړی یادخدای(ج)له لوری لکه دروژې دمیاشتې روژې یادبنده له لورې لکه دنذرمعین روژې، څرنگه چه په ذکر شوو روژوکښی تعین دوخت نشته نوله بنده له لورې دشپې د روژې نیت کول ضروردی چه تعین دوخت وشی، دنفلی روژونیت دلمردزوال ترمخه روادی، دروژې دمیا شتې دپاره دی خلگ دبرات دمیاشتې په نه ویشتمه ورځ (چه شپه ئې دیرشمه کیږی) دمیاشتې دلیدلوپه لټه کښی شی که ئې میاشت ولیدل نوسبا دی روژه ونیسی، که میاشت پټه شوه چانه ولیدل دبرات د میاشتې دیرش ورځې دی پوره کړی بل سبادی روژه ونیسی دشك روژه دی نه نیسی،که د روژې میاشت ښکاره شوه اوډیروخلگو ولیدل نوشاهدت اودقاضی حکم ته ضرورت نشته، که یوه یاڅو کسانوولیدل نودقاضی په مخ کښی شاهدی اودقاضی حکم ته ضرورت شته، که چادروژې میاشت ولیدل اوقاضی ئې شاهدت قبول نکړ هغه که نارینه وی اوکه ښځه که آزادوی که مریی وی روژه به نیسی که څه هم دهغه شاهدی قاضی نه وی قبوله کړی له بخاری شریف څخه روایت دی چه نبی کریم (ص) دیوه سړی شاهدت قبول کړیدی، که په آسمان کښی اوریځ یاگرداوغبارنه وو نوترڅوچه ډیروخلگومیاشت نه وی لیدلی قاضی دی دیوه یا دوو کسانو شاهدی نه قبلوی ولی چه د ډیرو خلگوپه خبرتیاسره علم اویقین پیداکیږی، دروژې وخت دسهارله دوهموسپیدووروسته بیادماښام دلمرترلویدوپورې دی، روژه په ورځ کښی له خوړلو څښلو، دنارینه اوښځې له یوځایوالی څخه دځان ساتنه ده چه د عادت اوعبادت توپیروشی، روژه نیول دزړه قصد(نیت) غواړی که روژاتی په هیره سره څه وخوړل یائې څه وڅښل یانارینه له خپلې ښځې سره یاښځې له خپل خاوند سره یوځایوالی وکړ روژه ئې نه ماتیږی، امام ملك (رح) وایی چه روژه ئې ماته ده بیابه ئې قضاء راوړی موږ وایوچه په مشکوة شریف کښی لیکل شویدی چه یوه سړی په هیره سره روژه خوړلی وه و رسول اکرم (ص) ته راغی او دخوړل شوی روژې په باب ئې پوښتنه وکړه رسول الله (ص) داسی ورته وویل ﴿تم علی صو مك فانمااطعمك الله وسقاق﴾ یعنی تاته خدای (ج) ډوډۍ اواوبه درکړی خپله روژه تر روژه مات پورې وساته، که روژاتی ویده شواوشیطان بازی ورکړه یانارینه وښځې ته وکتل یاښځې ونارینه ته وکتل انزال شوه یائې سرغوړکړ یائې ږیره غوړه کړه یائې وینی وکښی یائې سترگی توری کړی یائې مچه واخستل پدغه ټولواعمالوسره روژه نه ماتیږی، روژاتی نارینه یا ښځه چه په شهوت سره څوك مچ کړی یائې مسح کړی اوانزال شی نودهغه روژې قضاء ورباندی شته مگرکفاره ورباندی نشته ځکه چه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انزال بیله جماع څخه پیداشو که روژاتی په ځان اطمنان درلودی چه په مچه اخستلونه زناراځه کیږی اونه انزال راځه کیږی نوباك نشته، که ئې په ځان اطمنان نه درلودی نومچه اخستل مکروه ده، که روژاتی بی اختیاره قئ وواهه که په ډکه خوله وی اوکه په تشه خوله وی روژه ئې نه ماتیږی، که روژاتی په قصدسره په ډکه خوله قئ وواهه نودهغه روژی قضاء شته اوکفاره ورباندی نشته، که روژاتی له خولی له لاری یوشی ونس ته تیرکړلکه شګه، دفلزټوټه، دخرمامندکه، ډوډی، اوبه، دارو، خاوری اوداسی نور روژه ئې ماته شوه قضاء ورباندی شته اوکفاره ورباندی نشته، که روژاتی په قصد سره دشا دلوری یادمخ له لوری جماع وکړه یائې دغذایی موادوخورك یا چښنګ وکړیائې دارو او دوا وخوړل نوهم دروژی قضاء وربااندی شته اوهم به کفاره ورکوی، دروژی کفاره دظهاردکفاری پشان ده (که ئې مریی درلودی هغه به آزادوی یابه دوی میاشتی هره ورځ یوپه بل پسی روژه نیسی یابه شپیته (٦٠) مسکینان غرمه اوماښام په میانځګړی خورك مړوی)، که روژاتی بیله دښځی د فرج، یابیله دانسان یاحیوان له کونی اوبیله دنارینه دآلت نه جماع وکړه اوانزال شو یعنی په مچه اخستلویاپه ورونوکښی د آلت ایښودلو یاپلاس کښی انزال یاپه ځګرلاس وهلو یاداسی نور یاښځه دګوتی په ذریعه انزال شوه نو د روژی قضاء وربااندی شته اوکفاره وربااندی نشته، که بیله دروژی د میاشتی فرضی روژو څخه نوری روژی فاسدی شی کفاره وربااندی نشته، امام اعظم ابوحنیفه (رح) اوامام محمد(رح) وایی که روژاتی دستور(ایماله) وکړه یائې په پوزه کښی دارو واچول یائې داروپه غوږ یاپه پوزه کښی څاڅکی کړه یائې په زخم (ټپ)کښی لنده دوا واچول اوهغه ټپ نس یادماغ ته سوری وو اودغه دوانس یادماغ ته ورسیدل نو روژه ئې ماته شوه، همدارنګه که نارینه روژاتی د زکر په سوری او ښځې په فرج کښی لنده دوا(دارو) واچول روژه ئې نه په ماتیږی مګرامام ابویوسف (رح) وائې که په زکریافرج کښی لانده دارو واچوی روژه ئې ماته شوه، که روژاتی په خوله یاپه ژبه دیوه شی خوندوڅکی، روژه ئې نه ماتیږی مګرمکروه ده، که روژاتی ښځی دخپل ماشوم دپاره غذایی مواد وژوول نوروژه ئې مکروه شول که ښځه ناچاره وه روژه ئې صحیح ده، دژاولوپه ژوولو روژه نه ماتیږی ولی عمل دژولومکروه دی (داحکم دسپینو ژاولودی چه اجزائې نه سره جداکیږی مګرتوری ژاولی چه مخکی نه وی ژول شوی دهغه اجزاسره جداکیږی اونس ته رسیږی نوروژه هم په ماتیږی، همداراز دنن زمان ژاولی چه اجزائې ډیرژر ونس ته رسیږی روژه په ماتیږی) . روژاتی که په روژه کښی ناروغه شو او ویریدی چه نوردروژی نیول به ناروغی ورزیاده کړی روژه دی وخوری کله چه جوړشی قضاء دی راوړی، که مسافرته په روژه کښی دروژی نیول ضرر ونه رسوی د روژی نیول ښه کاردی اوکه ئې روژی وخوړلی خوړل ئې روادی خوبیابه ئې قضاء راوړی، که ناروغ یامسافرروژی وخوړلی په همدغه ناروغی یاسفرکښی مړ شو قضاء نه پرلازمیږی یعنی فدیه وربااندی نشته، که ناروغه روژه خورله ناروغی نه جوړشو یا روژه خورمسافرله سفرنه مقیم شوبیامړشونوپه تعداددجوړتیا د ورځو یاپه تعداددااقامت دورځو د روژو قضاء وربااندی شته، دوستان به ئې دهغوورځودقضائې روژو په بدل کښی فدیه ورکوی، قضائې روژی که څوك جداجدانیسی اوکه ئې یوپه بل پسی نیسی صحت لری ځکه چه الله (ج) دقرآن کریم دالبقره دسورت په (١٨۴) آیت مبارك کښی فرمایلی دی ﴿ومن کان منکم مریضا او علی سفرفعدة من ایام اخر﴾ یعنی ستاسوڅه هغه څوك چه په روژه کښی ناروغه یاپه سفر کښی وی دخوړلوروژو قضاء دی په نورو ورځوکښی راوړی،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن یوپه بل پسی نیول ئې مستحب دی، که روژه خور د روژو قضاء وځنډول اوبله دروژی میاشت داخله شوه اول دی دنوی میاشتی روژی ونیسی ورپسی دی قضائې روژی ونیسی فدیه ورباندی نشته، که امیدواره یاماشوم ته شیدی ورکونکی ښځه ویریدله که روژه ونیسی ماشوم ته به ئې ضررورسیږی د روژوخوړل ورته روادی خوبیادقضاء راوړل وربانوی شته اوفدیه وربانوی نشته شیخ فانی چه د روژی پرنیولو قدرت نلری د روژوخوړل ورته روادی خوفدیه به ورکوی (نیمه کاسه غنم یادوه کیلوغنم یایوه کاسه اوربشی یاجواریاخرما)، دشیخ فانی دپاره بعضی فقهاء پنځوس (۵۰) اوبعضی فقهاء اویا(۷۰) کلونه تعین کړیدی لیکن په ظاهرروایت سره دکلونوتعین نشته ځکه چه دانسانانوصحی خاصیتونه فرق لری . که څوك دخدای پاك د روژو پوروړی وو او د وصیت کولونه وروسته مړشودوستان به دمړی دغاړی دخلاصون دپاره دقضائې روژو فدیه ورکوی (دهری روژی دپاره نیمه کاسه غنم یایوه کاسه جوار یااوربشی یاخرما)، که مړی وصیت نه ووکړی اودوست ئې د روژوپه خوړلوخبروو یائې وصیت کړی وو خوشتمنی ئې پاته نه وه نوپه دواړو حالوکښی دی دوست دمړی په اول صورت کښی د مړی د شتمنۍ نه یاپه دوهم صورت کښی له خپلی شمتنۍ نه فدیه ورکړی امیدسته چه خدای (ج) د مړی غاړی د روژونه خلاصی کړی، که چانفلی روژه نیولی وه یائې نفلی لمونځ کوی اووروسته ئې هغه روژه ماته کړه یائې لمونځ فاسدکړنو د دواړوقضاء به راوړی ځکه چه دنفل عبادت نیت وتړل شی پوره کول ئې فرض دی، د روژی ماتول چه د روژاتی په اراده نه وی بلکه په طبعی توګه وی لکه دښځی دحیض شروع قضاء ئې شته مګرګناه وربانوی نشته، که د روژی ماتول د روژاتی په اراده سره وه لکه میلمستیا نوهم قضاوربانوی شته اوهم ګناه، په جوهره، ذخیره اوعنایه کښی لیکلی دی چه میلمستیا دزوال نه مخ کښی عذردی اووروسته له زوال نه عذرنه دی، نوکه روژاتی دعذرپه صورت کښی روژه ماته کړه قضاء وربانوی شته اوګناه ئې نشته، که ئې بیله عذره روژه ماته کړه هم قضاء وربانوی شته اوهم ګناه لاکن کفاره وربانوی نشته، که د روژی په میاشت کښی کوم نابالغه مسلمان بلوغ ته ورسیدی یاکوم کافرمسلمان شو دهغی ورځی پاته برخه دی ترماښام پوری روژه ونیسی او ورپسی دی دروژی نوری ورځی روژی ونیسی خو د تیرو ورځوقضاء وربانوی نشته ځکه چه په هغو ورځوکښی دوی په روژه نیولو مکلف نه وه . که روژاتی په روژه کښی بیهوښه شواوبیهوښی ئې څوورځوته ورسیدل دلومړی ورځی د روژی قضاء وربانوی نشته ځکه چه د روژی نیت اوامساك ئې کړی وو اود وروستو ورځو د روژوقضاء وربانوی شته ځکه چه په بیهوښی کښی د روژی نیت نشی کیدلی . که لیونی د روژی په میاشت کښی پرسد شو دپاتی ورځوروژی به نیسی اودتیرو شوو ورځو د روژو قضاء به راوړی، که په روژه کښی ښځه حایضه شوه یالنګه شوه که څه هم مازدیګر وی روژه ئې ماته شوه دهغی ورځی روژه دی وخوری کله چه دحیض یالنګون نه پاکه شی قضاء دی راوړی، که په روژه کښی مسافرکورته راورسیدی یاحایضه ښځه له حیض نه پاکه شوه له هغه وخت نه دی روژه ونیسی ترماښام پوری، که روژاتی په خطاسره له سپیدو وروسته پیشلمی وکړ یعنی دهغه په فکرچه سپیدی ندی چاودلی یائې د لمرلویدونه مخکی روژه ماته کړه یعنی دهغه په فکرچه لمرلویدلی دی وروسته ورته معلومه شوه چه زمادپیشلمی پروخت سپیدی چاودلی وی یازما د روژه مات پر وخت لمرنه وو لویدلی دهغی روژی قضاء وربانوی شته اوکفاره وربانوی نشته ځکه چه دغه روژه په قصد نده خوړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی بلکه یوه سهوه وه پس سهوه عفوه ده، که چادکمکی اخترمیاشت ولیدل هغه دی داحتیاط په خاطرسبااخترنه کوی دحاکم یاقاضی حکم ته دی غوږ شی، که په هواکښی ګردیااوریځ وه نوحاکم یاقاضی دی دکمکی اختردمیاشتی دلیدلوپه هکله دیوه نفرشاهدی نه قبلوی بلکه د دوو(۲) نارینویادیوه نارینه او د دووښځوشاهدی دی قبوله کړی، همدارنګه که هواصافه وه ګرد یا اوریځ نه وه نوامام دی دیوی ډلی شاهدی قبوله کړی څکه چه دډلی پرشهادت باندی یقین پیداکیږی.

## اعـتـکـاف

اعتکاف دری قسمه دی واجب، سنت مؤکدکفایی اومستحب، واجب هغه دی چه چائې نذرمنلی وی که نذرمعلق وی اوکه غیر معلق وی یعنی داسی ئې ویلی وی چه زه اعتکاف کوم یائې داسی ویلی وی چه که زمادا کار وشو زه دومره ورځی اعتکاف کوم، که څوك یوساعت نذری اعتکاف دنذری وخت نه مخکی فاسدکړی بیرته به له سره اعتکاف راګرځوی.

سنت مؤکدکفایی دروژی دمیاشتی د آخرولسو ورځو اعتکاف دی چه ډیرثوابونه لری رسول کریم (ص) چه مدینی ته تشریف یووړ بیا ئې دژوند ترآخره پوری اعتکاف نه دی پری ایښی، د هرمحل یا کلی یاښارپرخلګوسنت دی، که یوه یادوو یازیادوکسانودمحل یا کلی یاښاردروژی په آخرو لسو ورځوکښی اعتکاف ادا کړ د ټولو خلګوغاړیخلاصی شوی، که هیڅ چااعتکاف ونکړنودټولوغاړی بندی دی، معتکف دی د روژی دمیاشتی دشلم په ورځ دمازدیګر دلمرلویدوترمخه داعتکاف په نیت د اخترتروړځی پوری په مسجدکښی کښینی خو د ورځوتعین دی نه کوی څکه اخترمعلوم ندی چه کله به وی خوداختردمیاشتی ترمعلومیدو پوری به په مسجدکښی وی، اعتکاف به په داسی مسجد کښی وی چه پنځه وخته لمونځ پکښی کیږی جامع مسجد شرط ندی او دعیدګاپه مسجدکښی اعتکاف روانه دی، ښځی دی په خپل کورکښی اعتکاف وکړی، معتکف ته دښځی سره یوځایوالی حرام دی او ښځه به نه مچوی اونه به لاس وروړی که معتکف په مچه اخستلو یالاس ور وړلوسره انزال شو اعتکاف ئی فاسدشو بیرته به ئې قضاء راوړی، امام ابوحنیفه (رح) وایی معتکف دی بیله حاجت انسانی لکه اودس، غسل یا دجمعی لمونځ له مسجدنه نه وزی که ووزی اعتکاف ئې فاسد شو، یاران (رح) وایی هغه وخت اعتکاف فاسدکیږی چه معتکف دورځی ډیره برخه له مسجدنه دباندی تیره کړی، معتکف دی په نژدی مجسدجامع کښی دجمعی لمونځ اداکړی لیری دی نه ځی، داسی وخت به مسجدجامع ته روانیږی چه د مسجدجامع دوه رکعته تحیة المسجد، څلوررکعته سنت، دوی خطبی بیاشپږ رکعته سنت ادا کړی که له دغه نه ډیروخت په مسجدجامع کښی تیرکړی که څه هم اعتکاف ئې نه فاسدیږی لیکن ښه داده چه ډیرځنډ ونه کړی د معتکف خورك، چښنګ اوخوب به داعتکاف په ځای یعنی په مسجدکښی وی، د اعتکاف په حالت کښی بیله ضرورت نه دنیائي کارکول مکروه تحریمی دی، که ضرورت وی لکه دکوردغذائي موادوپیرودل (رانیول) یا خرڅول چه بل څوك نه وی روادی خو د رانیولواوخرڅولوشی به مسجد ته نه راوړی فقط بیع او شراء به وی، معتکف به بیله ښوخبرولکه ذکر، تسبیح، نصیحت او دچا دحال پوښتنه نوری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبری نه کوی، همدا راز د معتکف پټه خوله پاته کیدل مکروه دی چه نه دچاسره څه وایی اونه چاته ځواب ورکوی که د غیبت، بهتان او ټوکونه پټه خوله وی نولوی عبادت دی . که چا د نذرپه ډول پرځان باندی دځوورځو اعتکاف واجب کړخوشپی ئې ورسره ذکرنکړی نوددکرشوو ورځوسره سم دهغوشپو اعتکاف ور باندی واجب دی اودغه ورځی اوشپی به یوپه بل پسی وی . هغه اعتکاف چه د روژی دمیاشتی له آخرولسو ورځونه علاوه که په روژه کښی وی یابیله روژی وی مستحب دی.

## د حـج احـکـام او ارکـان

حج په اسلام کښی د اسلام د مقدس دین د عبادت پنځم رکن او د اسلام دخدای پرستۍ اوعبادت لومړۍ اوپخوانۍ طریقه ده، دحج دکلملفظی معنی (قصد او اراده ده) اودحج مقصددخاص مذهبی قصداوارادې په اثر د یو مقدس مقام سفرکول دی، هر آزاد، عاقل بالغ اوروغ مسلمان چه له ضرورت نه اضافه (داستوګنی ترکو، د کورسامان، جامی اوهغه ضروریات چه بیله هغه چاره نشته) د بیرته راستنیدوپوری دخپل عیال د نفقی او د تګ اوراتګ خرڅ اوپه سعودی عربستان کښی دخوراك او چښنګ اونورو ضروریاتومالی توان ولری اودسفرپه لارکښی امن موجودوی نوپه ژوندکښی یوځل دحج اداکول ورباندی فرض دی، دښځی سره به دحج په سفرکښی محرم یاخپل خاوند ملګری وی که محرم یاخاوند ونلری که څه هم حج ورباندی فرض وی دغه فرضیت ئې ساقط دی، په ردمختارکښی روایت دی که ښځه بیله محرم یاخاوندنه حج ته ولاړه اوحج ئې اداکړ له فرضیت نه ئې غاړی خلاص شوی لیکن داسی کول مکروه دی، که دښځی دکوراوترمکی شریفی پوری دسفرلارله درو ورځو او شپونه کمه وه هغی ښځی ته دمحرم یاخاوند ملګرتیاشرط نده، حج ته دتلوپه وخت کښی پنځه ځایونه دی چه هیڅ مسلمان به بیله احرام نه له هغونه نه تیریږی، دمدینی منوری دخلګو دپاره (ذو الحلیفه) ده، دعراق د خلګودپاره (ذات عرق) دی چه دیوه واړه غـره نوم دی، د شام دخلګودپاره (جحفه) ده، د نجد دخلګودپاره (قرن) دی چه دیوه غره نوم دی، او د یمن دخلګودپاره (یلملم) دی، په اوس زمان کښی چه دحج سفرونه ټول په الوتکه کښی دی نوټول حاجیان ترمیقاتوترمخه احرام تړی ځکه چه په الوتکه کښی دمیقات درك ښه نه معلومیږی، هغه ځوك چه کورئې دمیقاتوپه دننه کښی وی نودهغومیقات د(حل) ځمکه ده یعنی هغه ځمکه چه دهغوی دکوراودمکی شریفی ترمابین ده، هغه ځوك چه کورئې په مکه شریف کښی وی دحج د اداکولودپاره دهغه داحرام تړلوځای دمکی حرم شریف دی او دعمری د اداکولودپاره ئې د احرام تړلوځای (حل) دی، کله چه حاجی د احرام اراده وکړی نوغسل دی وکړی یادی اودس تازه کړی خوغسل تراودس ښه دی بیادی دوی نوی یامینځل شوی جامی واغوندی چه یوئې لنګ اوبل پټه ده، که ئې څه خوشبویی درلودل هغه دی هم په ځان پوری کړی وروسته دی دوه رکعته د احرام لمونځ اداکړی، له سلام ګرځولو وروسته دی ووایی ﴿ اللهم انی اریدالحج فیسره لی وتقبله منی ﴾ یعنی ای زماخدایه زه دحج د اداکولواراده لرم ته ئې راته آسانه کړی اوته ئې راځه قبول کړی ورپسی دی تلبیه ووایی، که چاپه ځانګړی توګه حج کوی دحج نیت دی په تلبیه سره وکړی، دحج تلبیه داسی ده ﴿ لبیك اللهم لبیك لبیك لاشریك لك لبیك ان الحمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



والنعمة لك والملك لاشريك لك ﴾ يعنى په خدمت درته ولاړيم ياالله په خدمت درته ولاړيم په خدمت درته ولاړيم تالره هيڅ شريك نشته په خدمت درته ولاړيم په تحقيق سره ټوله ثنا اوصفت اونعمتونه تالره دی او پاچهی تالره ده هيڅ شريك نشته تالره، حاجی دی په تلبيه کښی له ذکرشووکلموڅه شی نه کموی که نوری ښی کلمی ورسره زيادی کړی پروانلری، کله چه حاجی پسله غسل نه احرام واغوندی او نيت وتړی اولمونځ وکړی اوتلبيه ووايی نو احرام بندشو، پررسول مقبول (ص) دی درود ووايی اويوه ښه جامع دعا دی وکړی، که د چاعربی دعا زده وی اوپه معنی ئې هم پوهيږی هغه دعادی وکړی اوکه دچاعربی دعا زده وی خوپه معنی ئې نه پوهيږی يا ئې هيڅ دعربی دعازده نه وی په خپله مورنۍ ژبه دی دعاوکړی احرام بنده حاجی به له الله (ج) نه ډيره ويره کوی، هغه عملونه اوخبری چه الله (ج) منع کړيدی له هغونه به ټينګ پرهيزکوی لکه جماع، فحش اوبيکاره خبری، دښځی په مخ کښی دجماع خبری، غلا، غيبت، له انډيوالانوسره جنګ دحيوان يا خزنده وژنه، چاته دښکار د ځای ښونه، دښکاردحيوان ښونه اوداسی نور همدارنګه ګنډلې جامه، قميص ياپرتوګ به نه اغوندی لنګوټه ياخولی به نه پرسرکوی، چپنه ياباالاپوښ ياکرتی به نه اغوندی موزی يابوټونه به نه په پښوکوی، که دچاسره د احرام څپلی نه وی موزی دی داسی پری (غوڅی) کړی چه د پښوبجلکی پټی نکړی مخ اوسربه نه پټوی خوشبويی دی په ځان ياپه احرام نه پوری کوی، د سر يا د نور بدن ويښتان دی نه خريی که څه هم د بغل يا ترنامه لاندی ويښتان غټ شويوی، د ږری او بريتو ويښتان دی نه غوڅوی که څه هم د ږيری ويښتان ترقبضه اوږده وی، نوکان دی نه غوڅوی، هغه جامه دی نه اغوندی چه په (ورس) يازعفران يا(عصفر) سره رنګ شويوی، ورس د يوخوشبويه واښه نوم دی چه په يمن کښی پيداکيږی اوعصفر هم د يوقسم وښونوم دی چه دجامودرنګولودپاره استعما ليږی، احرام بنده حاجی ته روادچه دجنابت يادګرمی د ليری کولو دپاره غسل وکړی يا حمام ته داخل شی خوصابون به نه استعمالوی اونه به په نوکانو ياکيسه سره ځان موږی يوازی به اوبه پربدن تويوی، احرام بنده حاجی ته اجازه ده چه دسيوری طلب وکړی يادچتری ترسيوری لاندی کښينی، دپيسو، پاسپورټ يا د سفر د اسنادو دساتنی په هکله دی هميانی تر ملا وتړی مګر سر اوږيره دی دخطمی په ګل نه وينځی ځکه چه هغه خوشبويه دی، دهرلمانځه وروسته او لوړځای ته د ختلوپه وخت ياکومی شيلی ته دکښته کيدوپه وخت يا دسواره خلګوپه ليدلوسره دی تلبيه ډيره ډيره وايی.

کله چه احرام بندحاجی دمکی شريفی ښارته داخل شی اول دی له مسجدحرام نه شروع وکړی اوپه ليدلوسره دکعبی شريفی د خونی دی دغه تکبيراودعاووايی ﴿ الله اکبر الله اکبر لااله الا الله والله اکبر ولله الحمد اللهم افتح لی ابواب رحمتك وعفوك ومغفرتك واحسانك وکرمك ياالله يارحمن يا رحيم اللهم زدبيتك هـذا تشريفا وتکريما وتعظيما وزد ياربی لمن شرفه وکرمه ممن حـجه اوعتمر تشريفا وتکريما وفضلا يا ارحـم الراحـمين وصلی اللـه عـلی سيدنا محمد واله و اصحابه وعلينا معهم اجمعين ﴾ که دچادغه دعاپه عربی زده نه وی يائې په معنی نه پوهيږی ډيره به ښه وی چه په مورنی ژبه د زړه له جوشه دعاوکړی، بيادی له حجراسودنه شروع وکړی وحجر اسودته مخامخ دی لاسونه تر اوږو پورته کړی او دلاسوخپړی او ورغوی دی وحجراسودته برابرکړی تکبيراوکلمه دی ووايی که ئې قدرت ووحجراسوددی مچ کړی اومسح دی کړی (دحجراسود مچول اومسح کول سنت دی مګرانسانانوته تکليف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او آزار ورکول حرام دی) دحجراسودله راسته لوری نه دی دمکی شریفی دروازی ته نژدی طواف شروع کړی په طواف کولوکښی دی دپټی یوسر پرکینه اوږه واچوی اوبل سر دی ترښی بغل راوباسی بیرته دی پر کینه اوږه واچوی یعنی ښی اوږه به لوڅه وی، دحاطم شریف د باندی دی پرکعبه شریفه اوه ځلی راوګرځی خوپه اول دروځلو کښی به رمل کوی (په وړو اوچابکو ګاموتګ او اوږه ښورول رمل بلل کیږی)، په پاته څلورځلوکښی به عادی تګ کوی رمل به نه کوی، هرځل چه حجراسودته راورسیږی که ئې قدرت ووهغه به مسح کوی اوطواف دی دحجراسودپه مسح کولوختم کړی، بیا دی په مقام ابراهیم (ع) کښی دطواف دختم دوه رکعته واجب لمونځ اداکړی، د مسجدحرام په هره برخه کښی دغه دوه رکعته لمونځ اداکول صحیح دی، مقام ابراهیم هغه ډبره ده چه دحضرت ابراهیم (ع) د دوو پښونښانی پکښی پاتی دی، کله چه حضرت ابراهیم (ع) او دده زوی حضرت اسمعیل (ع) دکعبی شریفی دخونی آبادی کول نوحضرت ابراهیم (ع) به پردغه ډبره ولاړوو او دکعبی شریفی دیوال ئې لوړوی، ډبره به په قدرت دقادرمطلق پورته او کښته تلل لکه نننۍ دختګر ا نوکوازه، دغه ډبره په اول کښی د کعبی شریفی ددروازی واړخ ته په دیوال پوری وه کله چه دخلګو تولې ډیری شوی طواف کونکی اولمونځ کونکی نه سره ځائیدل نوئې مقام ابراهیم واوسنی ځای ته راوړ اودهنداری په غرفه کښی ئې کښیښود، دحاجی لومړی طواف دطواف قدوم په نوم یادیږی چه د مکی مکرمی شکریه ده، دغه طواف سنت دی واجب نه دی، دمکی مکرمی پراوسیدونکوباندی نشته، بیادی حاجی له مسجدحرام نه دصفا د دروازی له لاری دصفاوغره ته ولاړشی که څه هم پرنورو دروازو ورتګ روادی کوم حرج نشته خودصفا د دروازی له لاری ورتګ افضل دی، څه قدردی دصفا غره ته وخیژی چه بیت الله شریفه ووینی مخامخ دی وبیت الله شریفی ته ودریږی تکبیر، کلمه شریف او درود دی پرنبی علیه السلام ووایی خپل حاجتونه دی له الله پاك نه وغواړی ( دغه ځای ددعا د قبلیدودی) د صفاله غره نه دی راکښته شی د مروه دغره پرلوری دی په عادتی تګ سره روان شی چه دشیلی مابین ته ورسیږی د دووستونو(میلانو) ترمابین دی منډه ووهی ځکه چه نبی علیه السلام دلته منډه کړیده (اوس حکومت دغه شیله ډکه کړیده دوی ستنی شته چه دهری ستنی پربرابرښی او کیڼ لوری ته زرغونه څراغونه دی، اول دوه څراغونه دمنډی شروع او آخر دوه څراغونه دمنډی ختم دی) چه مروه ته ورسیږی نودسعیی یو شوط پوره شو اوشپږ نورپاتی دی، بیادی د مروه وغره ته لوړ وخیژی کله چه مکه شریفه ووینی نوهغه کارونه دی وکړی چه دصفاپرغره ئې کړیوه یعنی تکبیر، تهلیل، درود او دعا دی ووایی پدغه توګه دی شروع له صفااوختم پرمروه باندی اوه شوطونه پوره کړی، نو د فقر اوالتجاء لاسونه دی دړب الجلیل په لوی دربارکښی پورته کړی ور(دروازه) دی ور وټکوی په ژړادی دزړه له جوشه دهغه څه طلب وکړی چه زړه ئې غواړی خوپه غوښتنه کښی دی امت دحضرت سرورکائنات فخرالموجودات محمدرسول الله (ص) نه هیروی، محرم دی دمکی شریفی په ښار کښی استوګن شی هرکله چه ئې زړه وغواړی طوافونه دی کوی د هر اوه شوطه طواف وروسته دی دوه رکعته واجب لمونځ اداکوی.

امام دی یوه ورځ د ترویی د ورځی ترمخه یعنی دلوی اختر د میاشتی په اوه مه (۷) دماپښین د لمانځه وروسته دوی خطبی ووایی اوپه دغه خطبوکښی دی خلګوته ښوونه وکړی چه ومنی ته کله اوڅرنګه ولاړشی اوهلته څه وکړی،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرفات ته کله اوځرنګه ولاړشي هلته کوم لمونځونه څنګه ادا کړی، دعرفات پرغنډۍ څه وخت اوڅنګه ودریږی اوبیرته څه وخت اوځرنګه راکښته شی همدارنګه دی خلګوته ښوونه وکړی چه کله اوپه څه توګه په مزدلفه کښی د دعا په هکله ودریږی. امام دی په سباورځ یعنی دلوی اختردمیاشتی په اتمه (۸) په مکه شریفه کښی دسهاردلمانځه وروسته له حاجیانوسره له ښارنه ووزی ومنی ته دی ولاړشی او د عرافت د ورځی یعنی دمیاشتی دنهمی (۹) ورځی دسهاردلمانځه د اداکیدوپوری دی هلته اوسی، دسهاردلمانځه وروسته دی د عرفات دپاره سنت غسل وکړی اوعرفات ته دی ولاړشی، د عرفات میدان ټې ځکه بولی چه دعرفات پرغره حضرت بابا آدم (ع) اوحوا (رض) یو اوبل سره پیداکړیدی، کله چه په دغه ورځ لمرزوال وکړی امام دی په یوه وخت کښی دحاجیانوپه ګډون د ماپښین اومازدیګرلمونځونه اداکړی خو دلمونځوترمخه دی په خطبه شروع وکړی اودوی خطبی دی ووایی په خطبوکښی دی و حاجیانوته دجماعت دلمونځو، پسله لمانځه نه ددعا دپاره پرعرفات دریدلو، دلسم (۱۰) په ورځ په مزدلفه کښی دسهارترلمانځه وروسته ددعادپاره دحاجیانوراغونډیدلو، دځلو د ویشتلو دشکریی دحیوان دحلالولو، دسرخریلو او د طواف زیارت د اداکولو (دغه طواف فرض دی) ښوونه وکړی، نوپه یوه اذان او دوه اقامتو سره دی دماپښین په وخت کښی په جماعت سره دماپښین اوماز دیګرلمونځونه اداکړی، امام دعرفات همهغه دمکی شریفی امام دی، دحنیفی مذهب ډیرخلګ په عرفات کښی په دغه امام پسی لمونځ نه کوی دوی وایی دکعبی شریفی امام په عرفات کښی مسافرنه دی لیکن لمونځ مسافرانه کوی، ابوالفضل الحاج مولاناعبیداله ایوبی سلیمانخیل قندهاری وایی چه ماپدغه باب پلټنه کړیده او د مکی شریفی د امام سره می خبری کړیدی امام راته وویل چه موږ دځلورو واړومذهبومراعات کوو، زه له مکی شریفی نه وعرفات ته نه راځم بلکه طائف شریف ته ځم بیاله طائف نه عرفات ته راځم چه په ځلورومذهبوسره دغه مسافه د سفرده ځکه زه په عرفات کښی مسافریم، پدغه دلیل حنیفیانو ته ښایی چه دعرفات د ورځی لمونځونه په امام پسی په جماعت اداکړی، امام حنیفه (رح) فرمایی که حاجی دماپښین لمونځ په جماعت ادا نکړ په خپله خیمه کښی ئې په ځانګړی توګه اداکړ دغه حاجی به دواړه لمونځونه هریو پخپل وخت کښی په ځانګړی توګه اداکوی په امام پسی به ئې په جماعت نه کوی، امام ابو یوسف (رح) اوامام محمد (رح) وایی چه دغه حاجی دی دماپښین او مازدیګردواړه لونځونه په یوه وخت کښی په ځانګړه توګه ادا کړی، دیارانو (رح) له فرمودی نه معلومه شوه چه بل جماعت دی څوك نه کوی، دلمانځه وروسته دی ټوله حاجیان دعرافات د میدان په مابین کښی وغره ته ورنژدی شی چه دغه غرپه جبل الرحمة سره هم یادیږی په جبل الدعاسره هم یادیږی خو د عرفات په شیله کښی دی څوك نه دریږی، امام دی په عرفات کښی پر اوښ باندی ودریږی دعرفات دعادی وکړی اوحاجیانوته دی دحج مناسك اواحکام وروښئی، په اوسنی حال کښی دحجاجو د ډیر والی په سبب نه امام معلومیږی نه ئې دعااوریدل کیږی نو هر څوك دی خپلی دعاوی پخپله کوی، که څو کسان یوښه عالم پیدا کړی اودهغه لارښونه تقیب کړی او د هغه له دعاسره دعاوکړی ډیربه ښه وی الله (ج) دعرفات په ورځ واهل ته دعرفات په ډیر لوی رحمت سره متوجه وی نوبندګان دی هم دعفوی او رحمت په غوښتنه کښی ډډه نه کوی او د نبی علیه السلام دخوښی په هکلـه دی دده دامت دبښنی ډیره ډیره غوښتنه وکړی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړه ژاړه پــه رشتیــا ---- زړه خالی کـړه په دعا

ابلیس بل هیڅ وخت دومره خواراوذلیل ندی لیدل شوی لکه د عرفات په ورځ، ځکه چه بخښنی او رحمتونه دخدای عزوجل وینی اوپرسرخاوری بادوی، کله چه لمر ولویږی امام دی له حاجیانوسره له عرفات نه راکښته شی اوپه آرامه سره دی دمزدلفی پرلوری را روان شی، مزدلفه ئې ځکه بولی چه (ازلاف) نژدی کیدوته وایی یعنی چه په دغه ځای کښی حضرت باباآدم (ع) اوحواء (رض) سره نژدی شوه، چه مزدلفی ته راورسیږی مستحب ده چه هغه غره ته نژدی سکون وکړی چه دجهالیت په دوره کښی هلته اوربلیدی او د (قزح) په نوم سره یادیږی دغه غر د مشعرحرام په نوم سره هم یادیږی، امام دی دخلگوپه ګډون پردغه غره ودریږی اوله لوی او مهربان خدای (ج) له لوی دربارنه دی غوښتنی کوی، امام دی د خلگوپه ګډون دماښام اوماخستن دواړه لمونځونه دماخستن په وخت کښی په یوه آذان اویوه اقامت سره اداکړی، څرنګه چه د حاجیانوشمیرډیردی دامام پیداکیدل اوپه جماعت کښی ورسره ګډون ډیرمشکل دی نوکه څوکسان سره یوځای شی اوپه جماعت سره لمونځونه اداکړی ډیر ښه کاردی، که په ځانګړه توګه لمونځو نه وکړی روادی ځکه چه دامام حنیفه (رح) په حکم ددغه لمو نځو دپاره جماعت شرط نه دی، همداراز امام حنیفه (رح) اوامام محمد (رح) فرمایی که څه هم د ماخستن وخت داخل شوی وی په لار کښی له عرفات نه ترمزدلفی پوری ددغه دوولمونځو اداکول روا نه دی یعنی په مزدلفه کښی به ئې اداکوی، په مزدلفه شریف کښی دی هرحاجی نه څلویښت (۴۹) وړی ډبری دغټ نخودپشان دشیطانی ځلو د ویشتلودپاره ټولی کړی اوودی مینځی ځکه چه وینځل ددغوډبروسنت دی، کله چه سهارسپیدی وچوی امام دی دخلگوپه ګډون په تاریکه کښی دسهار لمونځ اداکړی او دلمانځه د اداکولو وروسته دی دخلگوپه ګډون دعاوکړی، که دامام پیدا کیدل مشکل وه نوهرڅوك دی خپل لمونځ اداکړی او دلمانځه وروسته دی په دعاکښی ډیرغورکوی ځکه چه دغه ځای او وخت د دعا دقبول دی، بیله دمحسردشیلی نه نورهرځای د دعا ځای دی . په صحیح حدیث کښی ذکرشویدی چه رسول (ص) ابلیس ولیدی چه پدغه شیله کښی ئې خاوری پرسربادولی، بیادی امام دلمرختونه مخکی دخلگوپه ګډون له دغه غره نه راکوزشی څوځانونه منی ته ورسوی، کله چه منی ته ورسیږی نودجمرهٔ عقبه (دلوی شیطان ځلی) چه دمکی شریفی خواته ولاړدی په اوه (۷) ډبرو وولی او د هری ډبری سره دی بسم الله الله اکبر ووایی خوپدغه وخت کښی به تلبیه نه وایی، چه ځلی ئې وویشت نه دی ورته دریږی بلکه ورنه تیردی شی، دامام ابوحنیفه (رح) په مذهب ددغه شیطانی ځلی د ویشتلووخت دلمرختوڅخه ترلمرلویدوپوری دی، امام ابو یوسف (رح) وایی چه آخر وخت ئې دلمرترزوال پوری دی، په کومو ډبرو چه شیطانی ځلی وویشتل شی دوهم ځل په هغه ډبرو ویشتل مکروه دی، له شیطانی ځلی له ویشتلووروسته که دشکریی دم پرکیدی نوقربانی دی وکړی، که دچااقتصادپیاوړی وی که څه هم دشکریی دم نه پرکیږی خودشکریی په نیت دحیوان حلالول ډیر ثوابونه لری ځکه چه دحاجی دحیوان دحلالولوپه بدل کښی حضرت اسمعیل (ع) له حلالیدونه خلاص شویدی، بیادی سر وخریی یادی دسرویښتان غوڅ کړی خودنارینه دپاره دسرخریل افضلیت لری، که ناروغ یاسپین ږری یاضعیف ویریدی چه د شیطان د ویشتلوپه حالت کښی د خلگو تر پښو لاندی مړنشم د وکیل ټاکل ورته روادی، له ذکرشووعملونودپوره کیدونه وروسته حاجی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلال شویعنی هرشی ورته حلال دی خپلی جامی اغوستل خوشبویی لګول، صابون استعمالول، د بدن د ویښتانوخریل او داسی نورهرڅه ورته روادی، مګردنراوښځی یوځایوالی اومچول روانه دی، بیادی حاجی په همدغه ورځ یاپه سباورځ یاپه بل سباورځ یعنی دمیاشتی په ۱۱ یا ۱۲ یا ۱۳ مکی ته ولاړشی اوپرکعبه شریف دی اوه شوطه د زیارت طواف وکړی چه دغه طواف فرض دی او د رکن د طواف په نوم هم یادیږی همدارنګه د اضافی طواف په نوم هم یادیږی یعنی له عرفات نه وروسته طواف، دیوم النحر د طواف په نوم هم یادیږی چه اصلی ورځ ئې دحیوان دذبح ورځ ده . امام ابوحنیفه (رح) وایی دحج فرضونه دری دی، د زیارت طواف، د احرام اغوستل اوپرعرفات دریدل، که هر یوله دغو درو فرضونه وځنډیږی نوپرحاجی دم لازمیږی، یاران (رح) وایی چه حاجی ګنهګاردی خو دم ورباندی لازم نه دی، که حاجی دطواف قدوم نه وروسته د صفا او مروه دغونډیو ترمابین سعیه کړیوه نو د زیارت په طواف کښی دی اوړی نه ښوروی اوسعیه دی هم نکوی ځکه چه د اوړو ښورول په هغه طواف کښی لازم دی چه سعیه پاته وی، که حاجی دصفا اومروه ترمابین سعیه کړی نه وی نوپه دغه طواف کښی به اوړی ښوروی اوسعیه به هم کوی اوس نو د ن او ښځی یوځایوالی روادی، د زیارت له طواف وروسته دی بیرته منی ته ولاړشی اوشپه دی تیره کړی په دوهمه ورځ د لمرترزوال وروسته دی دری شیطانی ځلی هریو په اوه (۷) ډبرو وولی او د هری ډبری سره دی تکبیروایی خوشروع دی دهغه ځلی نه وکړی چه ومسجدالحرام ته نژدی دی اودجمرهٔ صغری په نوم یادیږی، د شیطانی ځلی له ویشتلو وروسته دی هلته ودریږی او یوه اوږده دعادی وکړی، بیادی دوهم شیطانی ځلی چه دجمرهٔ وسطی په نوم یادیږی وولی له ویشتلو وروسته دی هلته ودریږی اویوه اوږده دعا دی وکړی، بیادی دریم شیطانی ځلی چه دجمرهٔ عقبه په نوم یادیږی اوپرون ئې هم ویشتلی وو وولی خو وروسته له ویشتلوبه دغه ځلی ته نه دریږی او نه به دعاکوی، خپلی خیمی یا اطاق ته دی ولاړشی شپه دی تیره کړی کله چه سباشو دلمرتر زوال وروسته دی دپرون پشان دری واری شیطانی ځلی وولی د هر ځلی وروسته دی دعاوکړی خودجمرهٔ عقبه له ویشتلووروسته دی دعانه کوی، که دحاجی تلوار وو چه له منی څخه ووزی نوګناه نشته دمکی شریفی ښارته دی ولاړشی الله (ج) د البقره دسورت په (۲۰۳) آیت کښی فرمایی﴿فمن تعجل فی یومین فلااثم علیه﴾ یعنی که دچاپیړه وه له منی نه ومکی ته په دوو ورځو کښی د(۱۱) او (۱۲) نوګناه وربااندی نشته، امام ابوحنیفه (رح) وایی که دچانیت ووچه دشیطانی ځلودبیاویشتلودپاره په منی کښی پاته شی نوپه ځلورمه ورځ دی دلمرختووروسته او دلمر د زوال ترمخه په مخکنی توګه شیطانی ځلی وولی، که ئې پدغه ورځ له سپیدونه وروسته او دلمرختونه مخکی وولی هم روادی مګریاران (رح) وایی چه روانه دی، مکروه دی چه حاجی خپله بستره ومکی ته واستوی اوپه خپله په منی کښی دشیطانی ځلو د ویشتلو دپاره پاته شی، کله چه حاجی له منی نه ومکی ته کوچ کوی په لاره کښی دی په محصب (دیوځای نوم دی) کښی تم شی ځکه چه په محصب کښی رسول (ص) تم شویدی بیادی مکی ته روان شی، کله چه کعبی شریفی ته ور سیږی اوه (۷) شوطه طواف دی وکړی دغه طواف واجب دی خوپه طواف کښی به اوړی نه ښوروی، دغه طواف دصدر(رجوع) په نوم یادیږی چه حاجی د وطن وطرف ته رجوع کوی، د مکی پر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسیدو نکودغه طواف واجب نه دی، له دغه طواف نه وروسته دحاجی حج پوره شومبارك دی شی حاجی دی دخپل کورپرلورروان شی.

که محرم دحج و مکی ته داخل نشواوعرفات ته ولاړی اوپر عرفات باندی پرهغه ترتیب ودریدی چه مخ کښی ئې بیان وشو نوله هغه څخه طواف قدوم ساقط شو، ځکه چه طواف قدوم د مکی دپاره لکه تیحه غوندی دی، محرم دحج چه مکی ته نه دی داخل شوی کوم شیورباندی نشته، که څوك د عرفات په ورځ د لمردزوال په مابین کښی عرفات ته ورسیدی او د اختر د ورځی تر سپیدوپوری هلته ودریدی حج ئې صحیح شوکوم شی ورباندی نشته، له چانه چه دعرفات شپه تیره شوه نوحج ورنه تیرشو یعنی حج ئې ونه شو، که له محرم نه عرفات داسی تیرشوچه ویده وو یابیهوښی ورباندی راغلی وه یائې عرفات نه پیژندی دغه دریدل له وقوف څخه کفایت کوی یعنی لکه پرعرفات چه ودریدی حج ئې صحیح دی، ښځه دحج په ټولواحکاموکښی دنرپشان ده خو سربه نه لوڅوی، مخ به لوڅوی، په لوړآوازبه تلبیه نه وایی، په طواف کښی به اوږی نه غورځوی، دصفا اومروه په سعی کښی به چابك تگ نه کوی، داحرام خلاصولوپه وخت کښی دی سرنه خریی بلکه دسرویښتان دی غوڅ کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قران حج

حج دری قسمه دی ۱. دقران حج هغه دی چه حاجی له میقات نه په نیت دحج اوعمری احرام وتړی یعنی داحرام ترلمانځه وروسته ووایی نیت می دی دزړه داخلاصه چه اداکړم حج اوعمره یاالله ته ئې راته آسانه کړی اوته ئې رانه قبول کړی، کله چه مکی شریفی ته ورسیږی دعمری احکام دی اداکړی یعنی اوه (۷) شوطه طواف دی پرکعبه شریفه وکړی اوپه شروع سره دطواف دی دتلبیی ویل پرېږدی خوپه اول دری شوطوکښی به په لوځه اوراسته اوږه اولږ چابك تګ سره اوږه ښوروی، په پاتی څلورو شوطوکښی دی اوږه نه ښوروی په آرامه سره دی تګ کوی، له طواف نه وروسته دی دصفا او مروه اوه (۷) شوطه سعیه وکړی چه دغه احکام دعمری دی له دغه سعیی نه وروورسته به بل طواف قدوم او بله سعیه دحج دپاره وکړی او داخترتوروځی پوری به احرام بندوی، چه داخترپه ورځ جمرهٔ عقبه(دلوی شیطان ځلی) وولی نودقران دحج دشکریی دم دی اداکړی یعنی یوپسه یا اومه حصه دغوائي یاداوښ دی حلال کړی، که دحاجی سره دشکریی دحیوان پیسی نه وی نودحج په ورځوکښی دی دری روژی ونیسی چه آخره ورځ ئی دعرفات ورځ وی، که وخت ورنه تیرشویعنی دعرفات شپه تیره شوه او روژی ئې نه ونیولی دشکریی دم وربانـدی لازم شوله هره چه ئې پیداکوی شکریه به کوی، که ئې بیاهم د شکرئې پیسی پیدانکړی نوکله چه خپل کورته ورسیږی اوه (۷) روژی دی ونیسی، ددغو روژو نیول وروسته دحج له افعالوڅخه په مکه شریفه کښی هم روادی، که قارن مکی شریفی ته داخل نه شو او سیده عرفات ته ولاړی پرعرفات ودریدی نوعمره ئې پریښودل قارن نه شمیرل کیږی، دقران له کبله د شکریی دم وربانـدی نشته ځکه چه قارن ندی مګردعمری د دم شکریه وربانـدی شته اوهم به دعمری قضاء راوړی.

۲ .دتمتع حج دوه قسمه دی یوهغه متمتع دی چه هدیه (پسه یا اوښ یابل حیوان) له ځان سره مکی شریفی ته بوزی، بل هغه متمتع دی چه هدیه ورسره نه وی، د تمتع حج هغه دی چه له میقات نه یوازی دعمری په نیت احرام وتړی کله چه مکی شریفی ته ورسیږی پرکعبه شریفه اوه (۷) شوطه طواف وکړی خو دطواف په شروع سره دی دتلبیی ویل پریږدی دصفا اومروه اوه شوطه سعیه دی وکړی اوځان دی حلال کړی یعنی سردی وخریی احرام دی خلاص کړی اوخپلی جامی دی واغوندی، بیابه دلوی اختر د میاشتی په اومه نیټه له مسجدحرام نه دحج په نیت احرام وتړی اودحج ټول احکام دی اداکړی لکه مفردحاجیان چه ئې اداکوی پرمتمع حاجی باندی دشکریی دم لازم دی که حاجی د شکریی پیسی نه درلودی نودحج په ورځوکښی دی دری روژی ونیسی یا دی په خپل کورکښی اوه روژی ونیسی، که دتمتع حاجی له ځان سره مکی شریفی ته هدیه بیولی وه اوهدیه اوښ یا اوښه وه نوپه غاړه دی بنې یاڅپلۍ وروځړوی یادی داشان یوه بله علامه په پوری کړی چه دغه حیوان دهدیی په صفت وپیژندل شی، ځکه چه دهدیی حیوان څوك له خوړلواوچښلوڅه نه منع کوی، دغوایی هدیه هم یوه نښانی غواړی خوپسه چه دحاجی سره وی نښانی نه غواړی، امام ابویوسف (رح) اوامام محمد (رح) وایی چه دهدیی د اوښ اشعاردی وکړی یعنی د اوښ بوك دی له راسته طرف نه ورڅیری کړی اوپه وینودی دغه بوك وررنګ کړی مګر امام اعظم ابوحنیفه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رح) وايي چه اشعاردی نه کوی، مصنف (رح) دیارانو (رح) قول دامام اعظم (رح) ترقول دمخه کړیدی ځکه چه فتوی پر قول دیارانو ده، په هدایه کښی ذکرشویدی اشعاردامام اعظم ابو حنیفه (رح) په قول مکروه دی اودیارانو(رح) په قول ښه کاردی پدغه مسئله کښی ابن القیم، ابن تیمة اخبلی او اتباع دمحمدبن عبدالوهاب النجدی اعتراض اومخالفت کړیدی، دوی وایی سره لدی چه نبی علیه السلام دغه کارکړیدی اوصحابه کرامو(رض) اشعارکړیدی اوپدغه باب په بخاری شریف اوصحیح مسلم اوپه صحاح سته ووکښی مکررډیراحادیث شته نوامام حنیفه (رح) څرنګه اشعارمنع کوی یائې مکروه بولی، دمخالیفینو ځواب دا دی چه فیقۀ اوبوجعفرطحاوی (رح) چه دامام اعظم ابوحنیفه (رح)پ ه مذهب کښی اعلم الناس ګڼل کیږی اوامام ابومنصور الماتریدی (رح) وایچه امام اعظم (رح) اصل اشعارمکروه نه ګڼی ټوله حدیثونه په اشعاروکښی صحیح اوحدته رسیدلی دی، څرنګه چه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) په وخت کښی خلګو اشعارداسی کول چه چاړه به ئې داوښ په بوك کښی ښخه کړه بیابه ئې کش کړه هغه ټپ به چنجیان وکړه اووروست به شوحیوان به له خوږو ولویدی اوهلاکت ته به نژدی شو، امام حنیفه (رح) دغه رنګه اشعارمکروه ګڼی اومنع ئې ځکه وکړه چه ددغسی اشعارومخه ونیول شی، که څوك د اشعارصحیح طریقه وپیژنی او زده ئې وی یعنی د اوښ دبوك پوست لږ څه په چاړه څیری کړی اوچاړه غوښی ته ونه رسوی نودامام حنیفه(رح) په مذهب مکروه نه بلکه رواده اوښه کارئې ګڼی، امام کرمانی (رح) وایی چه دغسی حکم د اشعارد امام حنیفه (رح) په مذهب کښی صحیح دی، امام قوام الدین (رح) پدغه قول سره تصریح کړیده او امام کمال الدین ابن الهمام (رح) چه دفتح القدیرمصنف دی همدغسی وایی، بدرالدین العینی (رح) دبخاری شریف په شرح کښی هم پدغه توګه تصریح کړیده همدارنګه په ردمختارکښی هم بیان ورته شته.

کله چه هدیه والامتمتع مکی شریفی ته داخل شی اوه شوطه طواف دی وکړی اودصفا او مروه سعیه دی وکړی خوداتم (۸) تر ورځی دحج داحرام ترلوپوری به ځان نه حلالوی، پردغه متمتع باندی د شکریی دم شته، که ئې دحج احرام د اتم د ورځی نه مخکی وتړی روادی، داخترپه ورځ دسرخریلو وروسته له دواړو احرامودحج اودعمری نه خلاص شو، هغه کسان چه کورئې پر میقات وی یاله میقات نه دمکی شریفی وخواته ئې کوروی د قران یاتمتع حج ورته روانه دی که ئې وکړی ګنهګاردی اوهم دم ورباندی لازم دی، که هدیه والامتمتع له عمری نه وروسته خپل کوریاښارته راوګرځیدی او هدیه ئې نه وه بیولی نوتمتع ئې باطله شوه، که چادحج له میاشتونه مخکی په نیت دعمری احرام وتړی اودعمری طواف ئې ترڅلورشوطه کم وکړ بیا دحج میاشتی داخلی شوی دعمری دطواف پاته شوطونه ئې دحج په میاشتوکښی پوره کړه اودحج احرام ئې وتړی نومتمع شوځکه چه داکثرحکم دکل دی نودغه حاجی چه اکثرشرطونه ئې دحج په میاشتوکښی پوره کړه لکه ټوله عمره چه ئې دحج په میاشتوکښی پوره کړه، همدا رنګه که دغه حاجی دحج دمیاشتوترمخه دعمری دطواف څلور یاډیرشوطونه اداکړل بیادحج میاشتی داخلی شوی اوپه دغه کال ئې حج وکړنومتمتع نه شمیرل کیږی ځکه چه دعمری دطواف ډیر شوطونه ئې دحج دمیاشتونه مخکی کړیدی، دحج میاشتی د کمکی اخترمیاشت، دمیانی میاشت اودلوی اختردمیاشتی لس ورځی دی، که حاجی دعمری د احرام تر مخه دحج په نیت احرام وتړی نوحج ئې ثابت شودحج احکام به اداکوی، که ښځی ته په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



احرام کښې حیض ورغی نوغسل دی وکړی ټول احکام دحج دی پرځای کړی خوترڅو چه له حیض نه خلاصیږی پرکعبه شریف دی طواف نه کوی ځکه چه احرام تړل اوتلبیه ویل له جنابت سره منافی نه دی، کوم غسل چه کوی هغه د احرام دپاره دی دپاکۍ دپاره نه دی، منی ته دی ولاړه شی عرفات ته دی ولاړه شی شیطانی ځلی دی وولی مګرځرنګه چه طواف په مسجدکښې دی نومسجدته دحایضی داخلیدل منع دی، دصفا او مروه سعیه دی هم نه کوی ځکه چه دسعیی نه مخکی طواف لازم دی، که ښځه پرعرفات له دریدو وروسته حایضه شوه یا دطواف زیارت له شروع نه ورسته حایضه شوه دکعبې شریفی څخه دی لیری شی اوطواف دی پریږدی، په سبب دطواف دنه کولوهیڅ شی وربانډی نشته ځکه چه رسول لله (ص) وحایضی اونفاسی ښځی ته دصدردطواف دپریښولواجازه کړیده .

۳ .افراد(مفرد) حج هغه دی چه حاجی له میقات نه یوازی د حج په نیت احرام وتړی کله چه مکی شریفی ته ورسیږی پرکعبه شریف به اوه (۷) شوطه طواف په نیت دطواف قدوم وکړی که ئې دصفا او مروه سعیه په نیت دحج دسعی کول سعیه دی وکړی خو سربه نه خریی او د اخترتورځی به احرام بنده وی کله چه ئې د اخترپه لومړۍ ورځ جمرۀ عقبه (دلوی شیطان ځلی) په ډبرو وویشتی نوځان به حلال کړی اواحرام به خلاص کړی خپلی جامی به واغوندی، امااعظم ابوحنیفه (رح) وایی چه دقران حج تر تمتع او دافرادترحج افضل دی، امام شافعی (رح) وایی چه دافرادحج افضل دی، امام مالك (رح) هم وایی چه اول افضل دقران حج دی بیادتمتع حج دی او بیا د افرادحج دی، امام احمد (رح) وایی چه اول افضل دتمتع حج دی بیا د افرادحج دی اوبیا د قران حج دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنایات

احرام بندحاجی که خوشبویی استعمال کړه کفاره ورباندی لازمه شوه، که ئې خوشبویی پرکامل اندام باندی ولګول یااضافه تر کامل اندام ولګول نودم وربانډی لازم دی، پوره اندام لکه سر، ورون، پنډۍ، ذکر، لاس اوداسی نور، که ئې خشبویی پرلږحصه باندی داندام ولګول صدقه (خیرات) ور باندی لازم دی، که احرام بنده حاجی ګنډلی جامه واغوندی لکه قمیص، پرتوګ اوداسی نور، یائې ټوله ورځ سرپټ کړ دم وربانډی لازم دی، که ئې سرتر یوی ورځی کم پټ کړصدقه (خیرات) وربانډی لازم دی، که احرام بنده حاجی بیله عذره دسرڅلورمه برخه یاډیره برخه وخریل دم ور باندی لازم دی، که احرام بند حاجی دسرڅلورمی برخی نه لږ برخه وخریل پرهغه باندی صدقه شته، امام ابوحنیفه (رح) وایی که احرام بندحاجی دغاړی دحجامت ځای (هغه ځای چه د وینی کښلوښیښه پراېښودل کیږی) وخروی دم پرلازم شو، امام ابویوسف (رح) اوامام محمد (رح) وایی چه دم نه لازمیږی بلکه صدقه (خیرات) پرلازم دی، امام حنیفه (رح) وایی که احرام بند حاجی د دواړو لاسو او د واړو پښو نوکان غوڅ کړه یائې دیوه لاس پنځه نوکان غوڅ کړه یائې دیوه لاس یا د یوی پښی پنځه نوکان غوڅ کړه دم وربانډی لازم دی، که ئې ترپنځونوکانوکم غوڅ کړه نوصدقه ور باندی لازم ده یعنی دهرنوك په بدل کښی به نیمه کاسه غنم یا دهغه بیه ورکوی، همدارنګه امام حنیفه (رح) اوامام ابویوسف (رح) وایی که ئې د دوولاسو او د دووپښوڅخه پنځه نوکان غوڅ کړه صدقه وربانډی لازم ده، امام محمد (رح) وایی دم وربانډی لازم دی، که احرام بندحاجی دکوم عذرپه سبب خوشبویی ولګول یائې سر وخروی یائې ګنډلی جامه واغوستل یو پسه دی حلال کړی یادی دری کاسی غنم یادغنموبیع شپږ مسکینانو ته ورکړی یادی دری روژی ونیسی، که احرام بندحاجی ښځه مچ کړه یائې په شهوت سره لاس په ووهه که انزال شی یا انزال نشی دم وربانډی لازم دی، که احرام بندحاجی پرعرفات له دریدونه مخ کښی په یوه لارکښی د دوو لارو وطی وکړی حج ئې فاسدشو اودم وربانډی لازم دی، دغه حاجی به ټول احکام دحج پوره کوی اوهم به په راتلونکی کال دحج قضاء راوړی، که دغه حاجی له خپلی ښځی سره قضائي حج اداکوې لازم ندی چه ورنه جداشی احتیاط به کوی چه بیاداسی ونکړی، که همدغه حاجی له عرفات نه وروسته له خپلی ښځی سره یوځایوالی وکړی نوحج ئې فاسدنه دی بلکه د اوښی حلالول وربانډی سته یعنی یوه اوښه به حلالوی . که حاجی وروسته له سرخریلو او دطواف زیارت نه مخکی له خپلی ښځی سره یوځایوالی وکړی پسه وربانډی لازم دی، که حاجی په عمره کښی دڅلورشوطه طواف نه مخکی له ښځی سره یوځایوالی وکړ عمره ئې فاسده شوه دغه عمره دی هم پوره کړی بیادی قضاء هم راوړی اودجنابت پسه به هم حلالوی . که حاجی وروسته له څلور شوطه طواف نه دښځی سره یوځایوالی وکړعمره ئې صحیح ده خودپسه دم وربانډی شته، که حاجی په هیره سره د ښځی سره یوځایوالی وکړ یعنی حج ئې هیروو عذرنه ګڼل کیږی ځکه چه دغه هیره اوقصد په احکاموکښی توپیرنلری، مګرامام شافعی (رح) وایی چه په هیره سره جماع فاسدونکی نده، که حاجی بی اودسه طواف قدوم وکړنوصدقه وربانډی شته (دحج په بحث کښی چه صدقه ذکرشویوی مطلب ئې نیمه کاسه غنم یایوه کاسه اوربشی یادهغه بیع ده)، که حاجی طواف قدوم په جنابت سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ دپسه دم وربانډی لازم دی، که حاجی طواف زیارت په بی اودسی سره وکړدپسه دم وربانډی لازم دی، که ئې په جنابت سره وکړ اوښه به حلالوی، خوښه به وی چه غسل وکړی اوبیرته طواف له سره وکړی نوبیادحیوان حلالول وربانډی نشته، که حاجی طواف صدرپه بی اودسی سره وکړصدقه ور باندی شته اوکه ئې په جنابت وکړ د پسه دم وربانډی شته، که حاجی دطواف زیارت دری شوطه یاتر دری شوطه کم پریښول دپسه دم وربانډی شته، که ئې داخترپه ورځوکښی بیرته دغه طواف له سره وکړنوهیڅ وربانډی نشته، که ئې داخترتر ورځووروسته دغه طواف بیرته له سره راوګر ځوې صدقه وربانډی شته، که حاجی ددغه طواف څلورشوطه پریښودل نواحرام بنده پاته دی ترڅوچه طواف زیارت پوره کوی که حاجی دری شوطه دطواف صدرپریښودل صدقه وربانډی لازم ده، که ئې ټول طواف صدرپریښود یائې څلورشوطه بیله عذره پریښودل نودپسه دم وربانډی لازم دی، که ئې بیرته له سره را وګرځوی نوهیڅ وربانډی نشته اوباید چه بیرته ئې راوګرځوی ځکه چه دغه طواف واجب دی، که حاجی دصفا او مروه ترمابین سعیه پریښودل دپسه دم وربانډی لازم دی مګرحج ئې پوره دی ځکه چه دامام حنیفه (رح) په مذهب سعیه واجب ده اودامام شافعی (رح) په مذهب فرض ده . که څوك په عرفات کښی دامام ترمخه راکښته شودپسه دم وربانډی لازم دی، که په مزدلفه کښی ددعا دپاره پاته نشو دم وربانډی لازم دی، که حاجی د شیطانی څلو دویشتلو په ورځوکښی ټوله ورځی دغه ځلې ونه ویشتل دم وربانډی لازم دی، که ئی دشیطانی څلود ویشتلو په ورځوکښی یوه ورځ دغه څلی ونه ویشتل هم دم وربانډی لازم دی، که له درو شیطانی څلونه ئې یوشیطانی څلی ونه ویشتی صدقه پرلازم ده همدارنګه که حاجی داخترپه ورځ جمرهٔ عقبه (دلوی شیطان څلی) په ډېروونه ویشتی دم وربانډی لازم دی، امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی که چادسرخریل وځنډول اوداخترورځی ورنه تیری شوی دپسه دم وربانډی لازم دی، یاران (رح) وایی چه هیڅ وربانډی نشته، همدارنګه امام حنیفه (رح) وایی که ئې طواف زیارت وځنډوی یعنی که ئې داخترپه ورځوکښی طواف زیارت ونکړدپسه دم وربانډی لازم دی، که احرام بندحاجی ښکار وکړاوحیوان ئې مړکړ یائې بل چاته دښکارښوونه وکړه اوهغه ښکاروکړحیوان ئې مړکړ، که ښکار یاښونه دښکارپه هیره سره وه یاپه قصد سره وه یاپه سهوه سره وه که اول ښکارکونکې وی یاوروستی ښکارکونکې وی په نیز دامام ابوحنیفه (رح) اوپه نیز د امام ابویوسف (رح) جزا وربانډی شته، دښکارجزاقیمت دهغه ژوندی حیوان دی په هغه ځای کښی چه وژل شویدی، که د وژنی په ځای کښی قیمت نه معلو میدی یعنی هلته خلګ نه وه چه بیع ئې معلومه کړی نو وهغه ځای ته نژدی په بل ځای کښی دی دوه دعدل کسان بیع معلومه کړی بیاحاجی اختیارلری که پدغه پیسوهدیه پلورل کیدل نوهغه دی وپلوری حلال دی کړی او مسکینانوته دی ورکړی (هدیه یو کلن سیرلی یاترشپږمیاشتو بالاپسه دی) خودهدیی حلالول به حمتی په حرم کښی وی دحرم نه دباندی دهدیی حلالول روانه دی، یادی په دغه پیسو غنم یا اوربشی وپلوری او هر مسکین ته دی نیمه کاسه دغنمویایوه کاسه داوربشوورکړی، خیرات دغنمو اواوربشوله حرم نه دباندی هم روا دی، یادی په بدل دهری نیمی کاسی دغنمو یا د هری کاسی د اوربشوروژی ونیسی، که غنم ترنیمی کاسی کم پاته شوه یا اوربشی تریوی کاسی لږ پاته شوی هغه دی هم خیرات کړی یادی په بدل کښی یوه روژه ونیسی ځکه چه په شریعت کښی ترورځی کمه روژه نشته اود روژو نیول بیله مکی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریفی بل ځای هم روادی، مگرامام محمد (رح) اوامام شافعی (رح) وایی چه دښکار شوی حیوان مثل واجب دی یعنی که هوسۍ ښکارشویوی په بدل کښی ئې پسه دی، دکوږ په بدل کښی پسه دی، د سوی په بدل کښی شپږ میاشتنی سیرلی دی، د دښتی موږك په بدل کښی څلورمیاشتنی سیرلی دی اودشترمرغ په بدل کښی اوښه ده.

که ښکارشوی حیوان یامرغه یاخزنده ژوندی وو مگرتپی شوی وو یائی ویښتان یابڼکی ورنه بیل کړیوی یائی یواندام ورنه غوڅ کړی وو نوښکارکونکی به دهغه تاوان ورکوی یعنی یوځل دی د هغه د روغ صحت بیه معلومه کړی بیادی له عیب سره بیه معلو مه کړی د دواړوبیو توپیردی خیرات کړی که ښکارله تپ یاله عیب څه مړشونودروغ ښکاربیه به خیرات کوی، که ښکارشوی حیوان یاالوتو نکۍ یاخزنده دشکیدلوبڼکوسره یاپریکړل شوی اندام سره ځان په الوتنه یاپه منډه له چانه ساتلی نشوای پوره بیه به ئې خیراتوی ځکه چه دغه عمل دښکارهلاکت دی، که دښکار تپ جوړشو او تاثیر ئی پاته نه شونوبیاهیڅ وربالندی نشته، همدار نگه که دښکاربڼکی یاویښتان بیرته شنه شوه بیاهیڅ وربالندی نشته، که احرام بندحاجی دمرغه هگۍ ماته کړه یائې پخه کړه دهگۍ بیه به خیراتوی ځکه چه له پخی هگۍ نه بچی نه زیږی همدارنگه که دهگۍ دماتولوسره مړبچی پیداشونودهغه بچی بیه به خیراتوی ځکه چه احتمال شته چه هغه بچی به ژوندی وو دهگۍ په ماتولوسره به مړشویوی، په وژلو د مار، لړم، موږك مردارخورکارگه، تپوس، لیوه، لیونی سپی او داړونکی سپی جزا نشته (باښه دتپوس پشان، لنډۍ دمارپشان، غنډك دلړم پشان اومږه دموږك پشان ده)، همدارنگه په وژلودغوماشی، کیکی منگړ، میږی جزانشته ځکه چه دغه شیان مضردی او ددوی وژنه ښکارندی، که څه هم دمیږی وژل روادی خوچه مضرنه وی وژل ئې ښه نه دی، که دچاپه کورکښی حبشان میږان وه اودکورخلگ ورنه په عذاب وه دهغوی مرگ په کیمیاوی موادو روادی، که څوك دکیمیاوی موادو له استعمال نه ویریږی نودقرآن کریم دالنمل د سورت اتلسم (۱۸) آیت ﴿ یایهاالنملادخلوامسکنکم لایحطمنکم سلیمن وجنوده ﴾ دی دکاغذپرمخ ولیکی اوپه اوبودی پریمنځی دری ورځی دی دغه اوبه دمیږانوغارته ورواچوی، که احرام بنده حاجی له خپل احرام یابدن څه شپږه مړه کړه لیږڅه خیرات دی وکړی لکه یوه لپه غنم یااوربشی یاداسی نور، په جوهره اوکوکب دری کښی لیکلی دی که دغه شپږه پرځمکه پرته وه اوحاجی مړه کړه جزاوربالندی نشته، که احرام بنده حاجی ملخ مړکړدخپلی خوښی یو څه شی دی خیرات کړی دحدیث شریف لفظ دی چه یوه دانه خرماترملخ ښه ده، امام ابوحنیفه (رح) وایی چه ملخ د صیدالبحرله قسمه دی نوباید وژنه ئې جزاونلری لکه ماهی اوداسی نور، که احرام بندحاجی هغه حیوان یاالوتونکی مړکړچه غوښی ئې نه خوړل کیږی لکه زمری پړانگ، لیوه، تپوس، باز، څرخك اوداسی نور، جزائې قیمت دهغه حیوان یامرغه ده خودهغوی قیمت دی دپسه ترقیمت نه بالاکوی، که یوه له دغو درنده گانوپرحاجی باندی حمله وکړه اوحاجی هغه مړکړهیڅ جزاوربالندی نشته ځکه چه حاجی دتعرض نه منع دی ولی دفع دتعرض ورته رواده، که پرحاجی باندی اوښ حمله وکړه اوحاجی هغه اوښ مړکړنوداوښ خاوندته به تاوان ورکوی، که احرام بندحاجی دښکاردغوښو خوړلوته مجبوره شو اوښکارئې مړکړنو پرده باندی جزا شته، باك نشته چه احرام بنده حاجی پسه، اوښ، غویی چرگه کسکرۍ (غټه هیلۍ چه الوتی نشی) حلال کړی، که ئې کورنۍ هوسۍ یاکورنۍ کوتره چه پرپښوئې بڼکی وی مړه کړه پرحاجی جزاشته ځکه که په اصلیت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې دغه حیوان یامرغه وحشی دی خووژل ئې ښکاردی که څه هم په کورکښې ژوندکوی. که احرام بنده حاجی ښکارحلال کړ دغه ذبح حرامه ده یعنی دغوښوخوړل ئې هرچاته حرام دی، که کوم حلال سړی ښکارحلال کړخوحاجی دښکارښونه نوه ورته کړی اونه ئې دښکار امر ورته کړی وو نوحاجی ته ددغه ښکاردغوښوخوړل روادی، که حلال حاجی په حرم کښې ښکاروکړ اوهغه ئې حلال کړ بدله ورباندی لازمه ده، که چادحرم په ځمکه کښې خدایی شنه شوی واښه یاونه وریبل دهغه دقیمت خیراتورباندی لازم دی، که دغه واښه یاونه وچ شویوه په ریبلوکښې ئې جزانشته که دغه واښه یاونه چاکرلی وه اودهغه ملکیت وه دخپل ملکیت په ریبلوکښې هیڅ جزانشته. قارن حاجی (چه له میقات نه ئې دحج اودعمری په نیت احرام تړلی وی) دهرذکرشوی جنایت په بدل کښې ورباندی دوه دمه دی یعنی یودم دحج اویودم دعمری دپاره دی، مګرکه له میقات نه بیله احرام تړلوتیرشی اووروسته احرام په نیت دحج اودعمری وتړی په دغه صورت کښې یودم ور باند شته ځکه چه له میقات نه بیله احرام تړلوتیریدل جنایت دی، خوپه هغه وخت کښې حاجی قارن نه وو کله چه احرام په نیت دقران وتړی نوقارن شی، پرمفردحاجی باندی (چه له میقات نه ئی احرام په نیت دحج تړلی وی) ورباندی یو دم دی، که دوه احرام بنده حاجیان دحرم دښکارپه وژلوکښې شریکان شوه پرهریوه باندی پوره جزاشته، که دوه حلال حاجیان (چه احرام بنده نه وی) دحرم په ښکارکښې سره شریکان شوه پردواړو یوه جزاده ځکه چه پرحلال حاجی دفعل جزانشته خودمحل (ځای) جزا ور باندی شته چه هغه ښکاردی، څرنګه چه ښکاریودی نوجزائې هم یوه ده، که احرام بنده حاجی ښکارخرڅ کړیائې رانیوی بیه ئې باطله ده اوپرخرڅونکی اورانیونکی پوره جزالازمه ده، په جوهرة کښې ذکرشویدی که ئې ښکارهغه وخت وکړچه احرام بنده وو اوهغه وخت ئې خرڅ کړچه له احرام نه خلاص شوی وو بیه ئې رواده جزاورباندی نشته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احــصـار

احصارپه لغت کښی ومنع ته وایی اوپه فقه شریفه کښی په حج یاعمره کښی داحرام بند حاجی منع ده پرعرفات باندی له دریدونه اوله طواف زیارت نه، لکه ناروغی یادښمن، په عینی او شرح الکنزکښی لیکلی دی که حاجی پرهریوه له دغو دوو قادر وو اوپربل قادرنه ووهغه حاجی محصرندی.

احرام بنده حاجی که په سبب ددښمن یاپه سبب دناروغۍ دحج داحکامو د اداکولونه منع شونودځان حلالول ورته روادی یعنی له احرام نه خلاصون ورته روادی، حاجی ته دی وویل شی چه وحرم ته پسه دحلالولودپاره واستوی، هغه څوك چه ددغه حاجی پسه حرم ته بیایی ورځ دی معلومه کړی چه په کومه ورځ ئې حلالوی کله چه پسه په حرم کښی حلال شی بیابه حاجی ځان له احرام نه خلاصوی، همدا رنکه رواده چه دپسه بیه چاته ورکړی او هغه په حرم کښی پسه وپلوری اوحلال ئې کړی خودپسه د حلالولونه مخ کښی حاجی ته دځان حلالول روانه دی، تعین د ورځی د امام حنیفه (رح) مذهب دی ځکه چه امام اعظم ابوحنیفه (رح) د دم الاحصاردپاره داخترورځ لازمه نه ګڼی، امام ابویوسف (رح) او امام محمد(رح) وایی چه حتمی به ئې داخترپه ورځ حلالوی، د یارانوپه مذهب دورځی وتعین ته ضرورت نشته، امام شافعی (رح) وایی بیله دښمن نه بل عذردحج داحکامواحصار(منع کونکی) نه شمیرل کیږی . که محصرقارن وو یعنی دحج او د عمری د دواړو احرام ئې تړلی وو حرم ته به دوه پسونه استوی چه د دواړواحراموڅخه خلاص شی، که ئې دحج د احرام دخلاصون د پاره یوپسه واستاوه اوویل ئې چه دعمری احرام دی پاته وی په دغه یوه پسه له احرام نه نشی خلاصیدای، ځکه په کوکب دری او الجوهرة کښی لیکل شویدی چه دقارن خلاصون له احرام نه شرعی د دواړو احرامو نو په یوه وخت کښی دی، دشریعت حکم ته تغیرنشی ورکولای، داحصاردپسه حلالول بیله حرم نه بل ځای روانه دی، امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی چه داحصار د دم دپسه حلالول داخترد ورځی ترمخه او وروسته روادی، یاران (رح) وایی د حج ومحصرته بیله داختر د ورځی نه دپسه حلالول روانه دی، د ټولوپه اتفاقی حکم سره دعمری ومحصرته دپسه حلالول په هروخت کښی روادی، له عبداله بن عباس (رض) او عبداله بن عمر(رض) نه روایت دی دحج محصرچه ځان ئې حلال کړیوی یوحج اویوه عمره پرلازمه ده ځکه چه په احرام تړلوسره ئې په حج شروع کړی ده نوحج ئې قضائی دی، څرنګه چه په معنی کښی دفائت الحج دی نوفائت الحج به ځان دعمری په افعالوله عمری خلاصوی لکه چه په وروستی باب کښی به راشی .

دعمری پرمحصرباندی یوازی دعمری قضاء شته او پرقارن محصر باندی یوحج اودوی عمری شته، که محصرحاجی پسه وحرم ته استولی وو اوتعین دوخت ئې کړیوو چه په فلانۍ ورځ به پسه حلالوی خوحاجی له احصارنه خلاص شو که قادر وو چه دپسه دحلالیدومخه ونیسی اودحج احکام اداکړی نوله احرام نه دځان خلاصون ورته روانه دی، بلکه لازمه ده چه دحج احکام پوره کړی که معلومه شوه چه پسه ئې په حرم کښی حلال شویدی نوځان دی له احرام نه خلاص کړی، که دغه حاجی دحج پر ادا کولو قادرشو او دپسه دحلالیدومعلومات ورته نه وو نوداستحسان له لاری د احرام نه خلاصون ورته روادی، ځکه چه دپسه حلالول داحرام خلاصونکی دی، مګرقیاس وایی چه له احرام نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصون ورته روانه دی ولی چه دغه حاجی پراصلیت د(حج) قادرشو نو حج دی پوره کړی، که حاجی دمکی په ښارکښی محصرشو(بند پاته شو) یعنی له عرفات اوله طواف زیارت نه پاته شو نوهغه محصر دی د محصراحکام دی پرځای کړی، که ئې یوله دغو دوو ادا کولای شوای (یاپرعرفات دریدل یاطواف زیارت) نومحصرندی ځکه که پرعرفات قادر وی حج ئې پوره شو، پدغه قول سره دعلیه السلام ﴿ الحج عرفة ﴾، طواف زیارت که څه هم دحج رکن دی خوهروخت چه ئې اداکړی صحیح دی، که پر طواف زیارت قادر وی پرعرفات قادرنه وی نوحج ئې فوت شو، دکوکب دری او هدایه په روایت د فائت الحج حکم دادی چه په طواف سره له احرام نه خلاصیږی، هدیه (پسه) چه بدله دطواف ده ضرورت ورته نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج فوت والې او هدیه

## د حـج فـوت والـې

که چادحج په نیت سره احرام وتړی اودلوی اختردسهاردسپیدو پوری دعرفات پرمیدان ونه دریدی حج ئې فوت (قضاء) شو، پر عرفات نه دریدل په سبب دشرعی عذرلکه ناروغی یاد دښمن ویره یا داسی نور احصار یعنی بندوالی بلل کیږی، که له حاجی نه د عرفات لار ورکه شوه یاویده وو دعرفات وخت ورنه تیرشو یا و عرفات ته نه راورسیدی اوداسی نور، فوت یعنی قضاء بلل کیږی پدغه بیان سره داحصار او فوت توپیر وشو، پرحاجی باندی لازمه ده چه په عمره سره ځان له احرام نه خلاص کړی یعنی پرکعبه شریف دی اوه شوطه طواف وکړی اودصفااومروه ترمابین دی اوه شوطه سعیه وکړی ځان دی له احرام نه خلاص کړی اوراتلونکی کال دی دحج قضاء راوړی، کوم دم وربانذی نشته ځکه چه جنایت ئې ندی کړی، عمره نه فوت کیږی په اجماع دامت مرحومه په ټول کال کښی روادہ، مګرپه کال کښی پنځه ورځی دی چه د عمری افعال پکښی مکروه دی لکه دعرفات ورځ، د لوی اخترورځ اودتشریق دری ورځی، عمره کول سنت دی اوعبارت دی له احرام تړلواوپرکعبه شریف طواف کول اودصفا او مروه په مابین کښی سعیه کول، عمره په حنیفی مذهب کښی سنت مؤکدده ځوك وایی واجب ده، ځوك وایی فرض کفایی ده، حضرت امام شافعی (رح) ئې فرض عین ګڼی.

## هــدیـه

هغه حیوان چه مکی شریفی ته دتقرب (ثواب) دپاره واستول شی هدیه بلل کیږی، دهدیی کمه برخه پسه یا وزګړی دی، هدیه له دروقسموحیواناتوڅخه روادہ، اوښ یاواوښه، غویی یاغوا، پسه یامیږه یا وزګړی، په دغوحیواناتوکښی دهدیی دپاره ثنی (دوه غاښی) یا ترثنی بالاروادی، دکوکب دری په روایت د اوښانو ثنی هغه اوښ دی چه دژوندپنځه کلونه ئې پوره شویوی، په غویو کښی ثنی هغه دی چه دژوند دوه کلونه ئې پوره شویوی دپسو ثنی هغه دی چه دژوند یوکال ئې پوره شویوی، مګردپسه په ذات کښی دهدیی دپاره شپږ میاشتنی وری هم روادی، هغه حیوان چه پوره غوږ ئې غوڅ وی یائې دغوږ ډیره برخه غوڅ وی یائې لکۍ غوڅه وی یائې لاس یاپښه غوڅ وی یائې یوه سترګه ړنده وی یاهغه ګوډحیوان چه دحلالیدوترځای پوری پخپله تلای نشی دهدیی دپاره روانه دی، همدارنګه د هدیی دپاره ډیرډنګر حیوان هم روانه دی، که حاجی په جنابت سره طواف زیارت کړی وی یائې له عرفات نه وروسته دښځی سره یوځایوالی کړیوی ددغه دواړوجنایتودپاره دپسه هدیه روانده ځکه په دغه جنایتو کښی د اوښ یا دغویی هدیه ده، نورنودهرجنایت دپاره دپسه هدیه روادہ، د اوښ یا دغویی هدیه یاقربانی په شراکت د اوه (۷) کسانو روادہ خو اوه واړه به نیت دثواب کوی، که له اوه (۷) شریکانونه دیوه شریك مطلب خپله برخه غوښی وی نودپاته شپږ کسانودپاره دغه شریکه هدیه دثواب دپاره روانه ده، دکوکب دری د(۷۸) صفحی په ښوونه دنفلی هدیی اودتمتع اوقران دهدیی د غوښوخوړل وخاوندته روادی او د نوروهدیولکه دجنایت هدیه یاداحصارهدیه یادنذرهدیې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغوښو خوړل وخاوندته روانه دی، د هدیی حلالول په هروخت کښی روادی مگردنفلی هدیی او دتمتع او قران دهدیوحلالول یوازی اویوازی دلوی اخترپه ورځ روا دی، د دم دهدیی حلالول بیله مکی نه بل ځای روانه دی، وروسته له حلالیدونه دی غوښی دمکی شریفی دښار او نورومسکینانوته ورکړی خوعرفات ته دهدیی بیول واجب نه دی.

داوښ په حلالولوکښی ښه طریقه نحردی (نحردځگراواوړی تر هډوکولوړ داوښ دحلالیدوځای دی) مستحب طریقه داسی ده چه داوښ کیڼ لاس دی وتړی په ولاړی دی ترحلق کښته چه لبه ورته وایی حلال کړی، په غوایی اوپسه کښی ذبح ښه ده (ذبح دحلق پربرابرحلالیدوته وایی) یعنی اول به غویی پاپسه پرځمکه څملوی بیابه ئې دحلق پربرابرحلالوی، که دچاحلالول (ذبح) زده وی ډیربه ښه وی چه خپله هدیه په خپله ذبح کړی ځکه چه ذبح عبادت دی نوعبادت په خپله کول ډیرښه دی، که هدیی والا ذبح نشوای کړای نوبل څوك دی وکیل کړی او د ذبح په وخت کښی دی هدیی والاورته ودریږی، کله چه داوښ هدیه حلاله کړه شوه د اوښ ځل اومهاردی هم خیرات کړی، په مزدوری کښی دی و قصاب ته نه ورکوی، همدارنگه غوښی دی هم په مزدوری کښی نه ورکوی دهدیی اکثره احکام داضحیی د احکامو سره برابر دی که چاله مکی شریفی نه هدیه شړله دهغه وسوارلیۍ ته مجبورشو پرسپوردی شی، که سوارلیۍ ته اړتیانه وه نه دی پرسپریږی، که د هدیی اوښه یاغوالنگه وه اوشیدی ئې درلودی نه دی لوشی بلکه پرغولانځه دی یخی اوبه ور وپاشی چه شیدی ئې وچی شی که چا مکی شریفی ته قربانی بیوله اوپه لارکښی مړه شوه نو د نفلی قربانیۍ بدله نشته، که هدیه واجب وه نوبله هدیه (قربانی) پرواجب ده، همدارنگه که واجب هدیه معیوبه شوه نوواجب ده چه بل حیوان دی هدیه کړی دغه معیوب حیوان دی دخپلی خوښی سره خرڅ کړی یادی حلال کړی اوداسی نور، که دنفلی قربانیۍ اوښه دمکی شریفی په لارکښی ومرگ ته نژدی شوه نوخاونددی هغه حلاله کړی اودهغی په وینو دی هغه څپلیۍ رنگ کړی چه په غاړه ئی ورځړولی وی بیادی په رنگ شوی څپلیوداوښی بغل ووهی، همدارنگه خاوند او نورغنیان خلگ دی ددغی اوښی غوښی نه خوری بلکه مسکینان دی وخوری، دنفلی قربانیۍ بدله وربانډی نشته، که دغه اوښه واجب قربانی وه نوبله هدیه (قربانی) به کوی . په مړژواندی اوښی دی هغه وکړی چه خوښه ئې وی، دنفلی تمتع اوقران دهدیی (قربانیۍ) په غاړه به څپلی ورځړوی اوداحصار اوجنایت دهدیی په غاړه دی شی نه ورځړوی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه نه مخکې شرطونه

پرلمونځ کونکې باندې فرض دي چه خپل بدن اوجامې له بې او دسۍ اونجاست نه پاك كړي لكه مخ كښې چه ئې بيان وشو. داغه رنګه وربانډې فرض دې چه خپل عورت هم پټ کړي، د نارينه عورت تر نامه لاندې ترزنګنو پورې دي پخپله نو عورت نه دى اوزنګنونه عورت دى، ښځه ټوله عورت ده مګر دښځې مخ او ورغوى اوپښې عورت نه دي، دمينځې عورت هم دنارينه پشان دى نس اوشائې هم عورت دى نوربدن ئې عورت نه دى . كه له چاسره نجاست موجود وو داسې شې ئې پيدانكړچه دغه نجاست په لیرې کړي لکه اوبه یانورمائعات نوله دغه نجاست سره دې لمونځ وكړي بيادې ددغه لمونځ قضاء هم نه راوړي همدارنګه که چاجامه نه درلوده چه عورت په پټ کړي نولمونځ دې په ناسته وکړي خورکوع اوسجده دې په اشاره وکړي چه عورت غليظه ئې حتى الامكان پټ وى، كه وغواړي چه په ولاړه سره لمونځ وکړي روادی ولې که ئې عورت لوڅ وی قیامه خوئې پرځای شوه، مګرلمونځ ئې په اشاره سره افضل دى، ځکه چه پټول دعورت هم دلمانځه حق دی اوهم دخلګوحق دی اوقیامه یوازې دلمانځه حق دى.

دلمانځه په شروع کښې دې اول دلمانځه نيت کوې دنيت او تکبيرتحريمه (اول الله اكبر) په مابين كښې دې په عمل سره جدا والې نه کوی لکه خورك كول، واسكټ اغوستل، ليك لوستل او داسې نور.

نيت قصددزړه دى كه دچا دزړه قصدووچه لمونځ کوی خوپه خوله ئې څه ونه ويل نيت ئې صحيح دى ليكن دخولې الفاظ دزړه د قصد اوارادې ترجمانې کوی غوره ده چه دواړه سره ملګرى كړى داهم بايد پياد وساتوكه څوك په خوله نيت ووايي خودزړه قصدئې نه وى نونيت ئې صحيح نه دى، همدارنګه که دچاپه زړه كښې اراده صحيح وى خوپه خوله چه څه وايي په هغه کښې سهوه شي اوپه همدغه نيت لمونځ وکړي لمونځ ئې صحيح دى ځکه چه قصد دزړه معتبردی نه هغه څه چه په ژبه ويل كيږي، دغه بيان دامام مجددالف ثانی (رح) په مکتوبات امام رباني كښې ليكل شويدى.

څرنګه چه لمونځ ټول په عربي ژبه ويل كيږي ښه به وى چه نيت ئې هم په عربي داسې ووايي ﴿نويت ان اصلی لله تعالى ركعتين فى هذا لوقت الفجر اقتديت بهذ الامام متوجها الى جهة الكعبة الشريفة﴾ که چاته په عربي نيت كول مشكل وى په پښتودى نيت داسې ووايي (نيت مى وکړچه لمونځ وکړم خاص خدای لره دوه رکعته فرض پدغه وخت دسهاراقتدامی وکړه پدغه امام پسې مخ مې دی پرلورې د کعبې شريفې).

که لمونځ په جماعت نه ووځانګړي وودعربي نيت دې داسې و وايي﴿نويت ان اصلی لله تعالى ركعتين الفرض فى هذالوقت الفجرمتوجهاالى جهة الكعبة الشريفة﴾ په پښتودى داسې ووايي (نيت مى وکړ چه لمونځ وکړم خاص خدای لره دوه رکعته فرض پدغه وخت دسهارمخ مې دی پرلورې دکعبې شريفې )، لكه څنګه چه په نيت كښې وويل شوه چه مخ مې دی پرلورې د کعبې شريفې هم دغسې به مخ پرقبله دريږي، که څوك ددښمن ياځناورانوڅخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویریدی نوکوم طرف چه ئې په نظردامن وی و هغه طرف ته دی لمونځ وکړی، که لمونځ کونکی ته طرف دقبلی نه معلومیدی اوبل څوك هم نه ووچه پوښتنه دقبلی ورنه وکړی نووهری خواته چه ئې گمان غالب شو وهغه طرف ته دی لمونځ وکړی، کله چه دلمانځه نه فارغ شو بیائې طرف دقبلی وپیژندی نودوهم ځل به دهغه وخت لمونځ نه کوی هغه اول لمونځ ئې صحیح دی، ځکه چه زحمت په اندازه دقدرت دی دلمونځ کونکی قدرت همدافکرکول وه، که لمونځ کونکی له لمانځه څه نه وو خلاص شوی اوطرف دقبلی ئې وپیژندی وهغه خواته دی مخامخ شی اوپاته لمونځ دی وکړی، بعضی وایی که لمونځ کونکی ته طرف دقبلی نه معلومیدی لمونځ دی وځنډوی ترڅوچه په یقین یاغالب گمان طرف دقبلی ورمعلومیږی، بعضی وایی چه وهر طرف ته مخامخ شی لمونځ دی وکړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه صفتونه

اول دلمانځه په ننه کښی دغه شپږعملونه فرض دی (۱) لومړی الله اکبرویل چه دتکبیر اولی، تکبیر تحریمه اودتکبیرافتتاح په نومونوسره هم یادیږی (۲) قیامه (ولاړه) (۳)په ولاړه کښی قرائت ویل (۴) وروسته له ولاړی نه رکوع کول (۵) سجده کول (٦) آخره ناسته کول، که یوله دغوشپږوفرضونه په قصدیاپه هیره سره پاتی شی لمونځ په فاسدیږی لمونځ کونکی به بیرته لمونځ راګرځوی.

دوهم دلمانځـه په دننه کښی دغـه یوولس عمـلونه واجب دی (۱) دالحمدلله سورت (سورة الفاتحه ) ترآخره پوری ویل (۲) د فرضوپه لومړی دوو رکعتو، دسنت په ټولورکعتو، دوتراونفلوپه ټولو رکعتوکښی دالحمدلله دسورت دقرائت وروسته متصل د قرآنکریم دری آیتونه یااضافه لوستل (۳) په څلوررکعتیز یادری رکعتیزلمانځه کښی اوله ناسته (۴) دڅلوررکعتیزلمانځه په اوله ناسته کښی التحیات ترتشهدپوری ویل (۵) دسهار، ماښام، ما خستن، جمعی اواخترونوپه لمونځوکښی دامام په لوړآوازسره قرا ئت ویل (٦)دماپښین اومازدیګرپه لمونځونوکښی په خفیه (قراره) سره قرائت ویل (۷) د وترو په آخررکعت کښی له الحمد لله اوسورت نه وروسته دعای قنوت ویل (۸) داخترونو په لمونځو کښی تکبیرونه ویل (۹) دالسلام علیکم ورحمة الله په ویلو سره سلام ګرځول (۱۰) د لمانځه ټول احکام په آرامی سره اداکول (۱۱) دالبحرالرائق شرح کنزالدقائق په حواله درکوع نه وروسته مستقیم دریدل او د دووسجدوپه منځ کښی لږترلږه دیوه تسبیح ویلوپه اندازه آرام کول چه دغه ته طمانیه وایی، که یوله دغو واجباتونه په سهوه سره پاتی شی نودسهوی سجده واجب شوه او که په قصد سره پریښودل شی لمونځ نقصانی شوبیرته به لمونځ له سره کوی که ئې ونه کړی نو ګنهګا ر شو .

دریم دلمانځه په دننه کښی دغـه اوه لس عمـلونه سنـت دی (۱) دصف برابرول په بشپړه برابری سره چه نه داړخ له ملګری نه مخکی ولاړوی اونه شاته (۲) دلومړی تکبیرسره ددواړولاسو پورته کول چه نارینه به دبټوګوتوسرونه دغوږودنرمۍ سره برابروی اوښځه بـه دبټوګـوتوسرونه داوږوسـره برابروی (۳) مقتدئ به متصل په امام پسی نیت کوی اولومړی الله اکبربه وایی (۴) امام به تکبیرونه په لوړ آوازسره وایی چه ورپسی ولاړقوم ئې واوری (۵) دتکبیرتحریمه په وخت کښی بیله سرکږولومستقیم دریدل (٦) د نارینه دپاره په قیامه کښی ښی لاس پرچپ لاس باندی ترنامه لاندی نیول، دښځی دپاره ښی لاس پرچپ لاس باندی پرځګر(سینه) باندی نیول (۷) په اول رکعت کښی له تکبیرتحریمه وروسته سبحانك اللهم ترآخره پوری ویل (۸) په اول رکعت کښی اعوذباالله ترآخره پوری ویل (۹) بسم الله تر آخره پوری ویل (۱۰) په آخرکښی دالحمدلله آمین ویل (۱۱) په لوړآوازسره به امام سمع الله لمن حمده وایی اومقتدئ به ربناولك الحمد په قراره سره وایی، مګرپه ځانی لمانځه کښی سمع الله لمن حمده او ربنالك الحمد دواړه په قراره سره ویل (۱۲) په رکوع اوسجده په دواړوکښی دری ځله یاپنځه ځله یااوه ځله تسبیح ویل (۱۳) مستقیم دریدل پسله رکوع څه اونیغ کښینستل د دووسجدوترمابین (۱۴) په خلاصو ګوتو سره ددواړو لاسوایښودل پرورنوباندی په مابین کښی د دوو سجدو لکه د التحیات په حالت کښی سره د غوږولودچپه پښی اوجګه درول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دراسته پښی دنارينه دپاره، پرادمو(کناټو) کښينستل د ښځی دپاره (۱۵) دفرضوپه آخردوورکعاتوکښی يوازی الحمدلله ترآخره پوری ويل يعنی بل سورت دقرآنکريم به نه ورسره وايی (۱٦) ټوله تکبيرونه د لمانځه ويل بيله تکبيرتحريمه نه، ځکه چه تکبيرتحريمه فرض عين دی (۱۷) درودونه دااللهم صل اواللهم بارك ترآخره پوری اودعادااللهم ربناترآخره پوری ويل، که يوله دغوسنتو څخه پاته شی کوم څه نه لازميږی بلکه سنت ئې پريښودل چه دسنتوپريښونکی ګنهګاردی.

امام اعظم ابوحنيفه (رح) له لمانځه نه وتل په فعل سره دلمونځ کونکی فرض ګڼی مګرياران (رح) ئې فرض نه ګڼی . مصنف (رح) ذکرکړيدی چه بيله شپږ فرضونودلمانځه نورټول عملونه په لمانځه کښی سنت دی يعنی واجب عملونه ئې هم پکښی شميرلی دی چه په واقعيت کښی ثبوت د واجباتو اوسنتو ټول په سنت (حديث) نبوی (ص) سره شويدی .

کله چه څوك اراده دلمانځه وکړی وروسته له نيت نه دی لاسونه پورته کړی دلاسوورغوی دی له اوږو سره برابرکړی اودلاسوبټې ګوتی دی دغوږو د نرميوسره برابری کړی تکبيرتحريمه (الله اکبر) دی و وايی، امام اعظم ابوحنيفه (رح) اوامام محمد (رح) وايی که څوك په تکبير تحريمه کښی د الله اکبر په عوض کښی الله جل، اعظم، الرحمن اکبر ووايی روادی يعنی لمونځ کونکی دی ذکر د خپل خدای دنوم وکړی بيادی لمونځ وکړی، مګرامام ابی يوسف (رح) وايی بيله الله اکبر يا الله کبير يا الله الکبير په بل نوم سره تکبيرتحريمه روانه دی، ځکه چه (الله) هم اسم ذات دی او هم اسم خاص دی بل څوك په دغه نوم سره نه شی بلل کيدلای او اکبر او کبير دواړه صفتونه دالله (ج) دی، بيادی نارينه دراسته لاس خپره اودمابين دری ګوتی دچپ لاس پرمړوندباندی کښيږ دی اودراسته لاس بټه ګوته اوخمچه ګوته دی دچپ لاس پرمړوند راوګرځوی اودواړه لاسونه دی ترنامه لاندی ونيسی، ښځه دی هم په عين ترتيب سره راسته لاس پرچپ لاس کښيږدی اودواړه لاسونه دی پرځګر (سينه) باندی ونيسی ﴿سبحانك اللهم وبحمدك وتبا رك اسمك وتعالجدك ولااله غـيرك﴾ دی ووايی بيادی ﴿اعوذ بالله من الشيطن الرجيم او بسم الله الرحمن الرحيم﴾ يوپه بل پسی په خفيه سره ووائی، بيادی سورت د الحمدالله اوورپسی دخپل خوښی دقرآنکريم يوسورت يا دسورت دری آيتونه يا د سورت يواوږد آيت چه د درو(۳) وړوآيتوپه اندازه وی ووايی ځکه چه ويل دالحمدلله اودسورت واجب دی، امام شافعی (رح) دالحمدلله ويل فرض ګڼی اوامام مالك (رح) دواړه فرض ګڼی، زموږ دليل دقرآن کريم په (۲۹) جزدالمزمل دسورت شلم (۲۰) آيت مبارك دی ﴿فـاقـرءو ماتيسر من القـرآن﴾ يعنی تاسوله قرآن نه هغه څه ووايـاست چه تاسوته آسان وی ددغه آيت په حکم قرائت فرض دی اوالحمدلله اوضم د الحمدلله بل سورت په احاديثو سره ثابت دی نوځکه واجب دی، کله چه امام لفظ د ولاالضالين ووايی ورپسی دی آمين په خفيه سره ووايی همدارنګه مقتدی دی هم آمين په خفيه سره ووايی، دماپښين اومازديګرلمونځونه چه په خفيه سره دی نومقتدی ته د امين ويلودرك نه معلو ميږی سکون دی وکړی اوامام ياځانګړی لمونځ کونکی دی په ټولو لمونځو کښی له الحمدلله نه ورو سته آمين وايی، بيادی تکبير ووايی رکوع دی وکړی اولاسونه دی په خلاصو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتوسره پر زنګونو تکیه کړی ملادی وغوړوی اوسردی تر ملانه لوړوی اونه دی کښته کوی، په رکوع کښی دی سبحان ربی العظیم چه کم شمیرئې دری ځلی دی ووایی، بیادی سر او ملاراپورته کړی فقط سمع الله لمن حمده دی ووایی مقتدی دی ربنالك الحمد ووایی په ځانګړی لمانځه کښی به دواړه وایی، کله چه امام دسمع الله لمن حمده په ویلوسره اومقتدئ دربنالك الحمد په ویلو سره سم سیده ودریږی نوتکبیردی ووایی اوسجده دی وکړی، که عذرونلری اول دی دواړه زنګنونه پرځمکه کښیږدی بیادی دواړه لاسونه چه ګوتی ئې سره منښتی وی پرځمکه کښیږ دی، بیادی مخ دغوږوپه برابری د دواړو لاسودخپړوپه مابین کښی کښیږدی سجده دی پر پوزه اوپرتندی وکړی، امام ابوحنیفه (رح) وایی چه یوازی پرپوزه یا یوازی پرتندی سجده روا ده مګریاران (رح) وایی که عذرنه وی یوازی پرپوزه سجده روانه ده، نارینه دی په سجده کښی ګیډه له ورونوپورته څنګلی له ځمکی پورته او متی له بغلو (تخرګو) څه لیری ونیسی، ښځه دی ګیډه دورنوسره څنګلی دځمکی سره اومتی له تخرګوسره ومښلوی دواړه نراو ښځه دی دپښوګوتی وقبلی ته مخامخ کړی، په سجده کښی دی سبحان ربی الاعلی چه کم شمیرئې دری ځلی دی ووایی بیادی سرراپورته کړی اوتکبیردی ووایی، د تشهد کولو په توګه دی کښینی کله چه ئې په دغه ناسته (جلسه) کښی دیوه تسبیح ویلو په اندازه آرام وکړ بیادی تکبیرووایی اودوهمه سجده دی وکړی سبحان ربی الاعلی دی دری ځله ووایی اوبل تکبیردی ووایی د پښوپرسینودی ددوهم رکعت وولاړی (قیامی) ته راپورته شی، د دوهمی سجدی نه و ولاړی ته د راپورته کیدوپه وخت کښی دی پرځمکه نه کښینی اونه دی لاس په ځمکه تکیه کوی، دوهم رکعت دی هم د اول رکعت پشان اداکړی، تکبیرتحریمه سبحانك اللهم اواعوذبالله دی په دوهم رکعت کښی نه وایی، کله چه د دوهم رکعت له دوهمی سجدی نه راپورته شی نارینه دی چپه پښه وغوړوی او پردغه پښه دی کښینی اوراسته پښه دی جګه ودروی دپښوګوتی دی وقبلی ته برابری کړی (حضرت بی بی عائشی (رض) د رسول (ص) دلمانځه دغه روایت کړیدی)، ښځه دی دواړی پښی راسته لوری ته وباسی لاسونه دی په خلاصو ګوتوسره پر ورنوکښیږدی نودی ووایی:

﴿التحیات لله والصلوات والطیبات السلام علیك ایهاالنبی ورحمة الله وبرکاته السلام علیناوعلی عبادالله الصالحین اشهدان لااله الا الله واشهد ان محمد عبده ورسوله﴾ په اوله ناسته کښی دی له دغه الفاظونه زیادت نه کوی، که دومره زیادت وکړی چه اللهم صل علی محمد دسهوی سجده پر لازمه شوه، په آخرو دوو(۲) رکعتوکښی دی (الحمدلله) ووایی بل سورت دی نه ورسره وایی، که په قدردالحمدلله پته خوله ودریږی لمونځ ئې روادی خوویل دالحمدلله ډیرفضیلت لری همدارنګه که دفرضوپه آخرو رکعتوکښی له الحمدلله نه وروسته بل سورت ووایی نودسهوی سجده نشته لمونځ ئې صحیح دی . کله چه په آخرکښی دلمانځه جلسه (ناسته) وکړی داناسته هم د اولی ناستی په ترتیب ده یعنی التحیات دی ترعبده ورسوله پوری ووایی بیادی درود﴿اللهم صل علی محمد وعلی ال محمدکماصلیت علی ابراهیم وعلی ال ابـراهیم انـك حمیدمجید﴾ اوبل درود ﴿اللهم بارك علی محمد و علی ال محـمـد کما بارکت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انك حمیدمجید﴾ او ورپسی دی دغه دعا ﴿اللهم ربنااتنافی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقناعذابنار﴾ ووایی یادی په مثال ددغه په قرآنی الفاظو بله دعاووایی بیادی اول ښی خواته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا کیږ خواته په دغه کلماتو سره سلام وګرځوی ﴿السلام علیکم ورحمة الله﴾، په سلام ګرځو لوسره دهغه طرف دباړخوسپینوالی باید ووینی، که دعادااللهم ربنا ونه وایی لمونځ ئې صحیح دی .

که ځوك دقمیص پرلمن، دلنګوټئ پرول، شمله، دپوړنی پرپلو او داسی نورچه دلمونځ کونکی جامه وی سجده وکړی رواده، پسله رکوع څخه په ولاړه (قومه) کښی بیله کوږوالی مستقیم دریدل، د دوو سجدوپه مابین کښی ناسته کول اوپه رکوع اوسجده کښی آرام کول دامام اعظم اوبوحنیفه (رح) او امام محمد (رح) په مذهب سره فرض نه دی بلکه مؤکدسنت دی، امام ابی یوسف (رح) او امام محمد بن ادریس الشافعی (رح) ئې فرض ګنی.

امام دی دسهارپه لمانځه، دماښام دلمانځه په اول دوو رکعاتو او دماخستن دلمانځه په اول دوو رکعتوکښی قرآئت په لوړآواز وایی اودماښام دلمانځه په آخر رکعت اودماخستن دلمانځه په آخردوو رکعتوکښی دی په قراره (خفیه) سره قرآئت وایی، که لمونځ ځانته وو نولمونځ کونکی اختیارلری چه دځپل قرائت داوریدلودپاره قرائت په لوړآوازوایی که ئې په خفیه سره وایی، همدارنګه امام دی دماپښین اومازدیګرپه لمونځوکښی قرائت خفیه وایی خو تصحیح دحروفوحتمی ده یعنکه ځوك پټه خوله ولاړوی او قرائت په زړه کښی وایی لمونځ ئی صحیح نه دی.

وترلمونځ په مذهب دامام اعظم اوبوحنیفه (رح) دری رکعته په یوه نیت اوپه یوه سلام ګرځولوسره واجب دی چه په دریم رکعت کښی وروسته له سورت فاتحی اوسورت څخه اومخکی له رکوع څخه به دعای قنوت وایی:

﴿اللهم انانستعینك ونستغفرك ونؤمن بك ونتوكل علیك ونثنی علیك الخیرونشكرك ولا نكفرك ونخلع ونترك من یفجرك اللهم ایاك نعبدولك نصلی ونسجد والیك نسعی و نحفد ونرجو رحمتك ونخشی عذابك ان عذابك باالكفار ملحق﴾، امام شافعی (رح) وتریورکعت، دری رکعته، پنځه رکعته اواوه رکعته روابولی لیکن دری رکعته افضل ګڼی، زموږ دلیل د حضرت عباس (رض) نه روایت دی چه رسول (ص) د وتر په اول رکعت کښی دسبح اسم ربك الاعلی سورت ووایه په دوم رکعت کښی ئې قل یاایهاالکفرون اوپه دریم رکعت کښی ئې دقل هوالله احد سورت ووایه، وتر دیارانو(رح) په نیزسنت دی که پاته شی قضاء ئې په اتفاق دټولوامامانوشته، دوترپه درو واړو رکعتونو کښی دی سورت فاتحه اویوبل سورت ووایی کله چه ددریم رکعت په آخرکښی د دعای قنوت اراده وکړی الله اکبردی ووایی او لاسونه دی ترغوږوپوری پورته کړی بیرته دی لاسونه ترنامه لاندی ونیسی دعای قنوت دی شروع کړی، په نورولمونځوکښی دی دعای قنوت نه وایی . امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایچه په لمانځه کښی تعین دقرائت نشته چه حتمی دی دسهاردلمانځه په اول رکعت کښی دغه سورت اوپه دوهم رکعت کښی دغه سورت یادماپښین دلمانځه په اول رکعت کښی دغه سورت اوپه دوهم رکعت کښی دغه سورت وویل شی که قرائت تعین کړی لمونځ ئې مکروه دی، د قرآنکریم سورتونه یادسورتونوآیتونه لکه څنګه چه په قرآن کښی لیکل شیویدی په هغه ترتیب سره به ئې وایی یعنی که په اول رکعت کښی یوسورت ووایی اوپه دوهم رکعت کښی بیاپه سهوه یاپه عذرسره هغه سورت ووایی څه حرج نشته که ئې په قصد سره ئې ووایی لمونځ مکروه شو، همدارنګه که په اول رکعت کښی دقرآن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوسورت ووايي اوپه دوهم رکعت کښې له هغه نه مخکنی سورت ووايي هم لمونځ مکروه شو، کمه اندازه دقرائت هغه ده چه له قرآنکريم نه شميرل کيږي مگرياران (رح) وايي قرائت به تر درې کوچنی آيتو يايواوږدآيت چه د درې کوچنې آيتوپه اندازه وی کم نه وي لکه آيت دمدائنة اوآيت کرسی . څوك چه اراده وکړی چه په بل چاپسې په جماعت لمونځ وکړي و دوه نيتوته احتياج لري يعنی يونيت دلمانځه اوبل نيت دمتابعت د امام چه وايي به اقتدامی ده پدغه حاضرامام پسی، مقتدئ چه په امام پسی لمونځ کوی هيڅ قرائت دی نه وايي مگرامام شافعی (رح) وايي که خفيه لمونځ وی که جهری لمونځ وی الحمد لله به حتمی وايي، زموږ دليل دغه حديث مبارك دی ﴿من کان له امام فقرائة الامام قرائة﴾ يعنىکه چاله امام وی دامام قرائت دده قرائت دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جماعت لمونځ

لمونځ کول په جماعت مؤکدسنت (ټينګ سنت) دی يعنی واجب ته نژدی دی حتی بعضی فقهاء وايی چه لمونځ په جماعت کول فرض دی اوکمال الهمام (رح) ئې واجب ګنی، مسلم شريف له حضرت عبداله ابن مسعود(رض) نه حديث رانقل کړيدی چه بيله عملی منافق څخه بل څوك دجماعت د لمانځه مخالفت نه کوی دجماعت د پريښيدودپاره شرعی عذرونه شته :

۱ .چه ډيرحاجت ورته پيداشی نوجماعت دی پريږدی خپل حاجت دی رفع کړی ځکه چه په ډير دروند اودس لمونځ مکروه دی

۲ .ويره له دښمن ياله ځيرونکوحيواناتونه ۳. ډيرباران ياختی یاډيره تاريکه یاسخت باد چه د مسجد دلاری په پيداکولوکښی خنډ کيږی ۴. داسی ناروغی چه مسجدته دتګ توان نلری ۵. چه د مسجد امام مبتدع وی اوبل مسجدليری وی . دامامت وړسړی هغه څوك دی چه دشريعت په احکاموښه خبروی، دغه حکم هغه وخت دی چه امام راتب دمسجدحاضرنه وی ځکه دمسجد امام که څه هم کم علمه وی تربيګانه ملاښه دی، که دشريعت په علم سره برابروه بياهغه څوك دامامت وړدی چه ښه قاری وی، که په قرائت کښی هم سره برابروه بياهغه څوك دامامت وړدی چه پر هيزګاروی، رسول الله (ص) فرمايی که چاپه پرهيزګارامام پسی لمونځ وکړلکه په نبی پسی چه ئې لمونځ وکړ، که په پر هيزګاری کښی هم سره برابروه بياهغه څوك دامامت وړدی چه په عمرمشر وی، امامت دمريي مکروه دی ځکه چه مريي دبادارله خدمت نه وزده کړی ته خلاص ندی همدارنګه امامت د صحرانشينه مکروه دی ځکه چه په صحراکښی جهل غالب دی، امامت د فاسق هم مکروه دی يعنی چه په کبيره ګنهونواخته وی لکه زنا، لواطت، غيبت، د شرابوڅښل، غلاکول اوداسی نور، امامت دړانده هم مکروه دی ځکه چه ړند خپلی جامی له نجاست نه نشی ساتلای امامت د ولدزنا (ارمونی) مکروه دی ځکه چه له ارمونی نه دهرچا نفرت کيږی، که دغه خلګ امامت وکړی لمونځ پسی روادی مګرمکروه دی. امام نبايدپرمقتديانوباندی لمونځ اوږدکړی (اوږد والی دلمانځه هله مکروه دی چه ترسنت قرائت بالاوی خوپه قدردمسنون دچالحاظ نشته).

دښځولمونځ په امامت دښځی مکروه دی بياهم که ښځوپه اما مت دښځی لمونځ کوی نوښځه امامه دی په مابين کښی د صف ودريږی لکه لوڅ نارينه چه لمونځ په جماعت کوی .

که دجماعت په لمانځه کښی يومقتدئ وی دامام وراسته طرف ته ترامام يوقدم وروسته دی ودريږی اوکه مقتديان له يوه نه زياد وه نودامام ترشاه دی په امام پسی ودريږی .

دنارينه اقتداپه ښځه یاپه نابالغ هلك پسی روانه ده، رسول (ص) وايی تاسی ښځی وروسته کوی لکه خدای (ج) چه دوی وروسته کړيدی، همدارنګه دنابالغ هلك لمونځ نفل دی نواقتدادمفترض په نفل کونکی پسی روانه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجماعت په لمانځه کښې دصف ترتیب داسې دی چه اول دی لوی خلګ بیانابالغه هلکان بیا نرښځیان او بیادی ښځې صف یا صفونه تنظیم کړی، د ردمختاراوهدایه په حواله که امام دنراو ښځودامامت نیت کړیوی اوښځه په صف کښې دنرپرڅنګ ودریدل دښځې لمونځ صحیح دی مګر د نارینه لمونځ فاسددی همدارنګه که امام دښځودامامت نیت کړی نه وی نودنارینه لمو نځ صحیح دی اودښځې لمونځ فاسددی، دغه رنګه دځوانانوښځو حاضریدل دجماعت لمانځه ته مکروه دی ځکه ویره دفتنې (زنا) شته .

امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی چه دزړوښځوحاضریدل دسهار ماښام اوماخستن لمانځه ته مکروه نه دی اونه څه حرج شته همدارنګه امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد(رح) وایی چه د سپین سرو ښځوحاضریدل دټولولمونځودپاره روادی ځکه چه سپین سری ښځې ته دچاشوق نه کیږی، مګر د کوکب دری په حواله په نننۍ فتوی سره دی زړی یاسپین سری ښځې هم دجماعت لمانځه ته نه حاضریږی ځکه چه فتنې ډیری دی دزنا اوربل دی پربعضو زناکاروخلګوځوانه اوزړه ښځه فرق نلری او په سپین سرو ښځوهم اعتمادنشته.

پاك سړی دی په هغه امام پسی لمونځ نه کوی چه دبولودڅڅیدو ناروغی ولری یائې بادونه جاری وی یاټپی (زخمی) وی اوله ټپ (زخم) نه ئې وینی جاریوی، همدارنګه پاکی ښځې دی په مستحاضه پسی لمونځ نه کوی، قاری دی په امی پسی لمونځ نه کوی (مطلب له قاری څخه هغه څوك دی چه دومره حفظ دقرآن کریم ئې کړیوی چه لمونځ په رواوی، امی هغه څوك دی چه دومره حفظ دقرآنکریم ئې نه وی کړی چه لمونځ په رواوی)، هغه څوك چه دومره جامی ئې اغوستی وی چه عورت ئې پټ وی په لوڅ اوبرمنډ پسی دی لمونځ نه کوی . امام چه تیمم ئې کړیوی د اودس کونکولمونځ پسی روادی، همدارنګه امام چه مسح ئې پر موزوباندی کړیوی دهغوکسانولمونځ ورپسی روادی چه پښې ئې پریولی وی، ولاړخلګ دی په ناست امام پسی لمونځ وکړی یعنی چه امام دناورغۍ په هکله په ولاړه لمونځ نشی کولای ځکه چه په حدیث شریف کښې دبخاری، مشکوة اومسلم ذکر شویدی چه رسول کریم (ص) آخرلمونځ په ناستی کوي اواصحاب کرام (رض) به ورپسی ولاړوه.

څوك دی لمونځ په داسی امام پسی نه کوی چه هغه لمونځ په اشاره کوی، همدارنګه فرض لمونځ دی په هغه امام پسی نه کوی چه لمونځ ئې نفلی وی، دقضائی لمونځ کونکۍ دی په هغه امام پسی لمونځ نه کوی چه داصلی وخت لمونځ کوی ځکه چه په اقتداکښې یووالی دلمانځه شرط دی، اونفل

کو نکۍ دی لمونځ وکړی په هغه امام پسی چه فرض لمونځ کوی، که چاپه امام پسی اقتداوکړه وروسته ورته معلومه شوه چه امام لمونځ بی اودسه راکړنودغه مقتدی دی خپل لمونځ بیرته راوګرځوی، دامام له بی اودسی نه خبریدل پخپله دامام په اقرارسره یا د دووکسانو شاهدی غواړی چه ووایی چه موږ دغه امام ولیدی چه بی اودسه شواوبیاپرلمانځه ودریدی، که امام په هیره سره لمونځ په بی اود سی ورکړ واجب دی چه مقتدیان له خپلی بی اودسی نه خبرکړی چه هغوی خپل لمونځونه راوګرځوی پدغه خبرتیاکښې دی امام شرم نه کوی. امام شافعی (رح)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وینه اودس مات نه بولی نوپه شافعی امام پسی دحنیفیانواقتدانه رواکیږی ولی چه دامام پوزه وینی شی دی اودس نه نوی کوی نواحتیاط پکاردی کله چه معلومه شی چه دغه شافعی امام دحنیفی مذهب مراعات کوی یعنی له وینی څه اودس نوی کوی نواقتدادی ورپسی وکړی همدا رنګه په داسی امام پسی اقتدا روا نده چه دهغه عقائد ستاپه مذهب کښی سبب دده دکفروی لکه (خوارج).

لمونځ کونکے چه په جامویابدن لوبی کوی لمونځ ئې مکروه دی لکه چه پرړیره لاس تیروی یاپه پوزه ګوتی وهی یاجامی څنډی او داسی نور، ځکه چه په صحیح حدیث کښی ذکرشویدی چه په تحقیق سره الله (ج) وتاسی ته دری عملونه مکروه ګڼلی دی : په لمانځه کښی په جامولوبی کول، په روژه کښی بی باکی اوبد ویل کول اوپه هدیره کښی خندل . په لمانځه کښی دی شګی یاډبری له سجدی له ځای نه نه لیری کوی که پردغه شګوسجده سمه نه لګیدل نویوځل یادوه ځلی دی پلاس برابری کړی، په لمانځه کښی دی په ګوتوټکان نه کوی اونه دی ګوتی سره جار باسی اونه دی پرتشی لاس نیسی ځکه چه دغه شیطانی عملونه دی، په لمانځه کښی دی جامی نه ځوړندوی لکه چه پټه پرځان واچوی اودواړه پلونه ئې ایله وی یعنی پراوږوئې نه وی راګرځولی یاچپنه یا پوستین یاکورتے ئې اغوستی وی مګرلستونې ئې نه وی اغو ستی، په لمانځه کښی دی دسرویښتان نه غوټه کوی اونه دی ښی اوکیڼ طرف ته ګوری (په لمانځه کښی کتل دری قسمه دی دسترګوترکنجانوکتل چه کراهت پکښی نشته لیکن دخشوع څخه دلمانځه مخالف عمل دی، بل دسرګرځول چه دا عمل مکروه دی دریم دځګرګرځول چه په دغه عمل لمونځ فاسدیږی) . همدارنګه په التحیات کښی دی دسپی په څیرنه کښینی، دامام ابوجعفرطحاوی (رح) فیقه دسپی په څیردناستی تفسیرداسی کړی دی چه کناټی پرځمکه کښیږدی زنګنونه جګ ودروی ځان سره ټول کړی اولاسونه هم پرځمکه کښیږدی چه په صحیح حدیث کښی هم له دغسی ناستی نه نهی راغلی ده همدارنګه په لمانځه کښی دی دچادسلام ځواب نه په خوله ورکوی اونه پلاس . په لمانځه کښی دی بیله عذره چهارزانونه کښینی ځکه چه سنت طریقه پاتیږی خورك اوچښنګ به هم نه کوی که دغه عملونه وکړی نوپه اتفاق سره لمونځ فاسددی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په لمانځه کښې بې اودسه کېدل

که لمونځ کونکی په لمانځه کښې بې اودسه شي یادبولوڅاڅکي ورنه خارج شي سلام دی نه ګرځوی له لمانځه نه دی راووزی خبرې، خورك، چښنګ یابل داسې عمل دی نه کوی خپل اودس دی نوی کړی بل نیت ته ضرورت نشته بیرته دی په لمانځه کښې شریك شي، کله چه امام سلام وګرځوی نودئ دی تیرشوی رکعت یارکعتونه داسې اداکړی لکه په امام پسې، که لمونځ ځانګړی وو داودس نوی کیدونه وروسته دی بیرته لمونځ له هغه ځای نه شروع کړی اوپاته لمونځ دی پای ته ورسوی، که پخپله امام بې اودسه شي سمدستي دی بیله خبرویومقتدئ پرخپل ځای ودروی چه قوم ته پاته لمونځ په جمع ورکړی اودئ دی خپل اودس نوی کړی، کله چه له اودس نه بیرته راستون شوکه جماعت باقي وو ګډون دی ور سره وکړی، که جماعت تمام شوی وولمونځ دی له هغه ځای نه شروع کړی چه ورنه خارج شوی وو، پاته لمونځ دی داسې اداکړی لکه په امام پسې، مګرلمونځ بیرته له سره راګرځول افضل کار دی، که څوك په لمانځه کښې ویده شواوشیطان احتلام ورپیښ کړغسل دی وکړی لمونځ دی لـه سره راوګـرځـوی، کـه چـاتـه په لمانځـه کښې لیونتوب ورپیښ شو یابیهـوښه شـو یائې پـه زوره

وخندل نواودس دی نوی کړی اولمونځ دی بیرته له سره راوګر ځوی، که چاپه لمانځه کښې په قصد یا په سهوه خبرې وکړی لمونځ ئې باطل شو، که په آخره ناسته کښې ترالتحیات وروسته بې اودسې ور پیښه شوه نوبیله سلام ګرځولودی له لمانځه نه ووزی خبرې، خورك، چښنګ یابل دلمانځه مخالف عمل دی نه کوی اودس دی وکړی بیرته دی بیله نیت نه لمانځه ته داخل شي فقط سلام دی وګرځوی ځکه چه دغه سلام واجب دی، که له التحیات نه وروسته په قصدسره اودس مات کړی یاخبرې وکړی یابل داسې عمل وکړی چه منافی دلمانځه وی لمونځ ئې پوره شو ولې چه دلمانځه له افعالوڅخه شي پاته نه شوکه څه هم واجب سلام پاته دی خوپه مابین کښې ئې منافی پیداشوه .

امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی که چاتیمم کړی وواوپه لمانځه کښې ئې له التحیات نه مخکې یائې له التحیات نه وروسته اوبه ولیدلی لمونځ ئې باطل شو ولې چه امام حنیفه (رح) له لمانځه نه وتل په صنع دلمونځ کونکی فرض ګڼی، مګریاران (رح) وتل له لمانځه نه په صنع دلمونځ کونکی فرض نه ګڼی نوداوبو لیدل ئې وروسته ترلمانځه شوه، همدارنګه که چاپرموزومسح کړیوه مدت دمسح ئې په لمانځه کښې تیرشو یائې موزه له پښې نه په لږ عمل سره وختل یا امی وو یوسورت دقرآن ئې زده شو (ورپیادشو) یالوڅ ووچاجامې ورکړی یائې په اشاره لمونځ کوی بیاپررکوع او سجده قادرشو یا ور پیاد شوه چه ترمخه ددغه لمونځ پرده بل قضائې لمونځ پاته دی یاقاری امام په لمانځه کښې بې اودسه شواو امی سړی ئې خلیفه کړیا دسهارپه لمانځه کښې لمرپرراوختی یا دجمعې په لمانځه کښې دمازدیګروخت پرداخل شو یائې مسح پرپنډکې کړیوه هغه پنډکې ولویده اوزخم جوړوو یا ښځه مستحا ضه وه استحاض ئې جوړشو ددغوټولولمونځ باطل شو، امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد (رح) وائې چه ددغو ټولوکسانولمونځو نه پوره شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوولس (۱۲) مسئلی دی چه امام اعظم (رح) اویاران (رح) اختلاف پکښی لری، اصل مقصددادی چه امام اعظم (رح) وتل له لمانځه نه په فعل دلمونځ کونکی فرض ګڼی که څه هم دغه عوارض له التحیات نه وروسته پیښ شوه، نوځنګه چه وتل له لمانځه نه په صنع پاته دی اودلمانځه په مابین کښی په پیښیدلو د دغو عوارضولمونځ باطلیږی نواودس هم باطل شو، یاران (رح) وایی چه وتل له لمانځه نه په صنع فرض نه دی نولمونځ کونکی چه په قدردالتحیات کښینستی لمونځ ئې پوره شو، دغه عوارض لکه د باندی ترلمانځه چه پیښ شوه نوله لمانځه نه دباندی په دغو عوارضولمونځ نه باطلیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قضايي، نفل او سنت لمونځونه

### د قـضائي لـمونـځـونـقـضاء راوړول

که له چانه لمونځ فوت (قضاء) شونوکله چه ورپیادشی دهغه لما نځه قضاء دی راوړی، قول دعلیه السلام دی ﴿من نام عن صلوة اونسیهافلیقضهااذاذکرها﴾ یعنی که څوك ویده شوله لمانځه څخه یائې هیرشونوکله چه ورپیادشی قضاء دی راوړی، قضائي لمونځ دی دوخت دلمانځه ترمخه وکړی، که ویره وه چه د قضائي لمونځ په کولودوخت لمونځ قضاء کیږی نودوخت لمونځ دی تر مخه کړی بیادی قضائي لمونځ وکړی، که له چانه ډیرلمونځونه قضاء شویوه نوپه ترتیب سره دی قضاء راوړی لکه څنګه چه په اصل کښی واجب شویدی، دبخاری اودحدیثونوپه نوروکتابو کښی ذکرشوی دی چه دخندق په مشهوره غزاکښی له رسول الله (ص) او اصحابانو(رض) څخه څلورلمونځونه قضاء شول نوعلیه السلام په ترتیب سره راوګرځول بیائې داسی وویل ﴿صلو کما رایتمونی اصلی﴾ یعنی لمونځ وکړی لکه څنګه چه زه مو ولیدم چه لمونځ می وکړ، څرنګه چه هغه لمونځونه په ترتیب وه نوپه امر د علیه السلام ترتیب واجب شو، که له چانه ترپنځه لمونځو ډیرقضاء شول نودقضاء راوړلودپاره ئې ترتیب ساقط شو مګر قضاء به ئې راوړی.

### په کوموختو کښی لمونځ مکروه دی

سهاردلمرراختلوپروخت، غرمه دلمردزوال پروخت، اومازدیګر د لمرلویدوپروخت هیڅ لمونځ روانه دی مګردهغی ورځی دماز دیګرلمونځ یادمازدیګرقضائي لمونځ دلمرلویدو پروخت روادی . د لمر لویدو پروخت دی ومړی ته لمونځ نه ورکوی اوهم دی دتلاوت سجده نه کوی، وروسته له سهارله لمانځه نه دلمرختومخ کښی نفل لمونځ مکروه دی، همدارنګه دمازدیګردلمانځه نه وروسته ترلمر لویدوپوری نفل لمونځ مکروه دی مګرکه په دغودواړو وختو کښی دهغه وخت قضائي لمونځ را وګرځوی یادتلاوت سجده وکړی یادمړی لمونځ وکړی نوڅه حرج نشته مګرپه مازدیګرکښی چه لمرضعیف شی دغه دی هم نه کوی، سهارله سپیدونه وروسته بیله دسهاردوه رکعته سنت نورنفل دی نه کوی همدارنګه دماښام دلمانځه نه مخ کښی دی نفل نه کوی.

### دنـفل اوسـنت لـمونـځـونوبـیـان

په حواله د۳۳صفحی دکوکب دری نفل دفرض اوواجب نه وروسته زائددی چه سنت هم پکښی شامل دی نوهرسنت نفل دی او هرنفل سنت نه دی، په ترمذی اونسائی کښی لیکلی دی چه رسول (ص) فرمایی که چاپه شپه اوورځ کښی پردوولس رکعتو همیشه توب وکړالله (ج) به په جنت کښی کور ورته جوړکړی، دوه رکعته دسهاردلمانځه ترمخه، څلوررکعته دماپښین دلمانځه تر مخه اودوه رکعته وروسته، دوه رکعته دماښام ترلمانځه وروسته دوه رکعته دماخستن دلمانځه وروسته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهارپسله سپیدونه دوه رکعته لمونځ سنت دی، څلوررکعته سنت دماپښین ترلمانځه ترمخه اودوه رکعته وروسته، څلوررکعته نفل دمازدیگردلمانځه ترمخه مستحب دی که څوك وغواړی دوه رکعته دی وکړی، دوه رکعته سنت دماښام دلمانځه وروسته او څلوررکعته نفل دماخستن دلمانځه ترمخه مستحب دی که څوك وغواړی دوه رکعته دی وکړی اودوه رکعته سنت دماخستن دلما نځه وروسته، که څوك غواړی چه نفل لمونځ دورځی دوه رکعته په یوه سلام وکړی اوکه ئې خوښه وی څلوررکعته دی په یوه سلام وکړی خوترڅلوررکعته اضافه په یوه سلام مکروه دی، امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی نفل لمونځ په شپه کښی اته (۸) رکعته په یوه سلام روادی مگراضافه تراته رکعته په یوه سلام مکروه دی، امام ابی یوسف (رح) اوامام محمد (رح) وایی چه په شپه کښی اضافه تردوه رکعته نفل لمونځ په یوه سلام روانه دی یعنی دوه رکعته افضل دی، دامام اعظم (رح) په نیزڅلوررکعته نفل دی دورځی او دشپی اوپه نیزدیارانو(رح) دورځی څلوررکعته نفل په یوه سلام دی اودشپی دوه رکعته نفل په یوه سلام دی، قرائت ویل د فرض لمانځه په اول دوه رکعتوکښی واجب دی اوپه آخردوه رکعتو کښی لمونځ کونکې اختیارلری که غواړی قرائت دی ووایی که غواړی تسبیح دی ووایی اوکه ئې خوښه وی خاموش دی ودریږی مگر قرائت ویل افضل دی ، قرائت ویل په ټولونفل او ترلمونځو کښی واجب دی، که چاپه نفلی لمونځ شروع وکړه اولمونځ ئې فاسدکړ نوبیرته دی قضاء راوړی، مگرامام شافعی (رح) وایی چه قضاء ئې نشته، داحکم هله دی چه په قصدسره داخل شی که په سهوه سره داخل شی بیائې قضاء نشته لکه چه څلوررکعته نفل پوره کړی په سهوه سره پنځم رکعت ته ولاړشی وروسته ورپیادشی هغه فاسدکړی نوقضاء ئې نشته، که چادڅلوررکعتونفل لمونځ نیت کړی وو اوله ناسته ئې وکړه وروسته لمونځ ورنه فاسدشونو د دوو رکعتوقضاء دی راوړی ځکه چه اول دوه رکعته ئې داولی ناستی په تکمیل سره صحیح شوه، که څوك په ولاړه سره دنفل لمانځه پرکولوقادروی ولی بیله عذره ئې په ناسته وکړی څه حرج نشته مگرثواب ئې نیم دی، امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی که چاپه ولاړی دنفل لمونځ شروع وکړه اوبیابیله عذره کښینستی لمونځ ئې صحیح دی ځکه چه ولاړه په نفل لمانځه کښی فرض نه ده نو کول اونه کول ئې برابردی، که څوك دښاردباندی وی یعنی تر آبادیووتلی وی پربوده (حیوان) باندی نفل لمونځ کول روادی هر طرف ته چه دبوده مخ وی وهغه طرف ته دی په اشاره لمونځ وکړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سهوي د سجـدي بيـان

سجده دسهوی په زیادتوب اونقصان سره وروسته له سلام نه لازم ده، امام اعظم اوبوحنیفه (رح) وایی دسهوی سجده پسله سلام نه ده که له زیادت نه وی که له نقصان نه، دامام شافعی (رح) په نیز دسلام نه مخکی ده اودامام مالك (رح) په نیزکه له نقصان نه وه مخکی ترسلام ده اوکه دزیادت نه وه وروسته ترسلام ده، اختلاف محضی په اولیت کښی دی مگردواړه روادی، دفقه شریفی په بعضی کتابوکښی ذکرشویدی که لمونځ کونکی ځا نګړی وونو د سجده سهوی ترمخه دی پر دواړو طرفو سلام وګرځوی بیادی د سهوی سجده وکړی، که امام وو نودراسته طرف له سلام ګرځو لووروسته دی دسهوی سجده وکړی ځکه که دواړو لوروته سلام وګرځوی ښایی هغه مقتدیان چه اول دلمانځه ورنه تیرشویوی وپاته رکعتوته ولاړشی، په فتاوای قاسمیه کښی په حواله دنورو فتاواوولیکلی دی چه ځانګړی لمونځ کونکی دی هم پسله راسته لوری سلام نه دسهوی سجده وکړی ځکه که پردواړه خوا سلام وګر ځوی نوله لمانځه څخه خارج شوبیاسجده نشی کولای.

دسهوی دسجدی ترتیت داسی دی چه په آخره ناسته کښی دی التحیات ترمحمد عبده ورسوله پوری ووایی نوپرراسته لور دی سلام وګرځوی په تکبیر ویلو سره دی دوی سجدی وکړی او په هره سجده کښی دی سبحان ربی الا علی ووایی چه کم شمیرئې دری ځلی دی بیادی التحیات ترآخره، درودونه اودعااللهم ربنا ووایی بیادی دواړه خواته سلام وګرځوی نولمونځ خلاص شو قبلیدل ئې دالله (ج) کاردی.

که دلمانځه واجب عمل په سهوه سره پاته شی یافرض عمل په سهوه سره وځنډیږی نودسهوی سجده واجبیږی لکه په سهوه سره دالحمدلله پریښودل، پریښودل ددعای قنوت، په آخره ناسته کښی د التحیات پریښودل، داخترپه لمانځه کښی پریښودل دتکبیرونو، په کوم لمانځه کښی چه قرائت خفیه ویل کیږی او امام ئې په لوړ آوازووایی یاپه کوم لمانځه کښی چه قرائت په لوړآوازویل کیږی اوامام ئې خفیه ووایی ځکه چه داټول واجب عملونه دی دسهوی سجده واجبیږی، که په قصدسره پاته شی لمو نځ فاسدشو، همدارنګه که په سهوه سره پسله اولی ناستی نه قیامه وځنډ یدل یاپه ولاړه کښی قرائت وځنډیدی یاله قیامی نه رکوع وځنډیدل یاله قومی نه سجده وځنډیدل یاپه آخررکعت کښی له سجدی نه وروسته ولاړشوآخره ناسته وځنډیدل په دغو ټولوعملونوسره دسهوی سجده واجبیږی، که دغه عملونه په قصدسره وځنډیږول شی نولمونځ فاسدشو، په سهوه دامام پرمقتدی باندی هم سجده دسهوی واجبیږی ځکه چه مقتدی دامام تابع دی که امام دسهوی سجده ونکړه نومقتدئ دی هم نه کوی ځکه چه له امام نه مخالفت روانه دی، که مقتدئ سهوه شی سجده د سهوی نه پرامام لازم ده اونه پرمقتدی ځکه که امام سجده وکړی نومتابعت دمقتدی ئې وکړاوکه مقتدئ سجده وکړی نومخالفت دامام ئې وکړ، که لمونځ کونکی په لومړی ناسته کښی سهوه شووروسته ورپیادشوه چه لومړی ناسته ده که وناستی ته نژدی وو ناسته دی وکړی التحیات دی ووایی اوکه ولاړی ته نژدی وو د ناستی هڅه دی نه کوی جګ دی شی پاته لمونځ دی پوره کړی په آخرکښی دی دسهوی سجده وکړی، که مقتدئ په آخره ناسته کښی سهوه شویعنی ناسته ئې ونه کړه وپنځم رکعت ته جګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو ترڅوچه دپنځم رکعت سجده ئې کړی نه وی بیرته دی کښینی د لمانځه په آخرکښی دی دسهوی سجده وکړی، که ئې دپنځم رکعت سجده وکړه لمونځ ئې باطل شواوفرض ئې په نفل سره بدل شول نولازم ده چه شپږم رکعت هم ورسره یوځای کړی ځکه چه په نفل لمونځ کښی طاق رکعتونه نشته، که ئې دڅلورم رکعت ناسته وکړه اوله التحیات نه وروسته ئې سلام ونه ګرځاوه دلومړی ناستی په فکروپنځم رکعت ته جګ شوپه قیامه کښی ورپیادشوه چه پنځم رکعت ته جګ شویدی نورکوع اوسجده دی نه کوی بیرته دی کښینی سمدستی دی ښی خواته سلام وګرځوی او د سهوی سجدی دی وکړی الحتیات، درودونه اودعا داللهم ربنادی ووایی دواړو خواووته دی سلام وګرځوی لمونځ ئې پوره شو، که ئې دپنځم رکعت سجده وکړه نوبیادی شپږم رکعت هم ورسره یوځانکړی دسهوی سجدی دی وکړی ناسته دی تکمیله کړی دواړوخواووته دی سلام وګرځوی لمونځ ئې پوره شو آخردوه رکعته ئې نفل شول، دسهاراوماښام په لمونځوکښی هم دغه ترتیب دی.

که څوك په ژوندکښی اول ځل دلمانځه درکعتوپه شمیرکښی شکمن شوچه دری رکعته می وکړه که څلورنولمونځ دی بیرته له سره راوګرځوی ځکه چه رسول (ص) وایی ﴿فلیستقبل صلوة﴾ یعنی لمونځ دی بیرته راوګرځوی، که شك اول نه وولمونځ کونکی ډیر شکمن کیدی نوکوم شمیرته چه ئې ګمان ډیر وو هغه صحیح دی ځکه چه رسول (ص) فرمایی ﴿ من شك فی صلوته فلیتحر الصواب ﴾ یعنی که څوك په لمانځه کښی شکمن شونوپه حق کښی دی فکر وکړی، که ګمان وهیڅ شمیرته ډیرنه وو نو پر کم شمیردی یقین وکړی یعنی که شك په دری اوڅلورکښی وویقین دی پردری وکړی که شك په دوه اودری کښی وویقین دی پردوه وکړی.

## د نـاروغـه لـمـونـځ

لمونځ کونکی که ناروغه ووپه لمانځه کښی ئې قیامه نه شوای کولای نولمونځ دی په ناسته اداکړی رکوع اوسجده دی کوی، که ئې طاقت درکوع اوسجدی هم نه درلودی نولمونځ دی په اشاره کوی خو سجده دی تررکوع کښته کوی اودسجدی دپاره دی کوم جنس مخ ته نه ورپورته کوی لکه بالښت یا داسی نور، نبی علیه السلام فرمایی ﴿ان قدرت ان تسجد علی الارض فاسجدوالا فامی برأسك﴾ یعنکه ئې قدرت ووچه پرځمکه سجده وکړی نو سجده دی وکړی که ئې قدرت نه وو په سرسره دی اشاره وکړی که ئې دناستی طاقت نه ووستونی ستخ (دشاپرتخته) دی وغزیږی پښی دی وقبلی ته کړی رکوع او سجده دی په اشاره کوی یادی پربغل پریوزی مخ دی دقبلی وطرف ته کړی رکوع او سجده دی د سرپه اشاره وکړی، که ئې دسرپه اشاره هم لمونځ کولای نشو نو په سترګو یا په ورځو یا په زړه دی اشاره نه کوی لمونځ دی وځنډوی ترڅوچه صحت مومی، امام ابوحنیفه (رح) فرمایی که لمونځ کونکی پرولاړه قادر ووخوپررکوع اوسجده قادرنه وو نوولاړه یا (قیامه) پرلازم نه ده لمونځ دی په ناسته اداکړی رکوع اوسجده دی په اشاره سره وکړی، که لمونځ کونکی څه لمونځ په ولاړه وکړ بیاپه همدغه لمانځه کښی ناروغه شود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړی قدرت ئې نه در لودی نوپاته لمونځ دی په ناسته ادا کړی رکوع اوسجده دی وکړی که ئې رکوع اوسجده هم ورته سخته وه نودواړه دی په اشاره سره وکړی که ئې په اشاره هم لمونځ کولای نشونوستونی ستخ دی وغزیږی په اشاره دی لمونځ اداکړی، که چا د ناروغۍ له کبله لمونځ په ناسته کوي رکوع اوسجده ئې هم کوله په همدغه لمانځه کښی په ولاړه قادر شو نوپاته لمونځ دی په ولاړه وکړی دغه لیکنه په قدوری کښی دشیخینو(رح) مذهب دی، دوی اقتدا د ولاړوخلګوپه ناست سړی پسی رواګڼی، په مسلم، بخاری او مشکوة کښی لیکلی دی چه رسول (ص) په ناسته امامت کوی او اصحابان (رض) ورپسی ولاړوه، که چاځه لمونځ په اشاره سره وکړ اوبیاپه همدغه لمانځه کښی پررکوع اوسجده قادرشونوټول لمونځ دی له سره راوګرځوی، پر دغه مسئله باندی ټولواماموناتفاق کړیدی ځکه چه اقتدادرکوع کونکی اوسجده کونکی په اشاره کونکی پسی روانه ده، که څوك بیهوښه شوپنځه لمونځونه یا ترپنځولمونځوکم ورنه قضاء شوه نو کله چه بیرته پرهوښ شی قضاء دی راوړی اوکه له پنځـولمـونځـونه زیادورنه قضاء شوه نو قضاء ور باندی نشته.

## د تـلاوت سجـده

په قرآن مجیدکښی څلورلس آیتونه دی چه دامام اعظم اوبوحنیفه (رح) په مذهب دهغوی په تلاوت سره پرقاری اواوریدونکی سجده واجب کیږی، دآیتونوپه شمیرکښی اختلاف دی بعضی علماوایی پنځه لس آیتونه دی اوبعضی وایی چه یوولس آیتونه دی چه دفقه په لویوکتابوکښی ئې تفصیل شته دتلاوت سجده په آخرکښی د سورت اعراف، په سورت رعد، سورت النحل، سورت بنی اسرائیل، سورت مریم، اوله سجده دسورت حج، سورت فرقان، سورت نمل، سورت الم تنزیل، سورت ص، سورت حم السجده ، سورت نجم، سورت والانشقاق اوسورت والعلق، په دغوځایوکښی پرتلاوت کونکی او اوریدونکی سجده دتلاوت واجب ده که ئې قصد د قرآن داوریدوکړیوی که ئې نه وی کړی ځکه چه رسول (ص) فرمایی ﴿السجدة علی من سمعهاوعلی من تلاها﴾ یعنی سجده د تلاوت شته پراوریدونکی اوپرتلاوت کونکی، که امام آیت دسجدی ووایه سجده به کوی اومقتدئ به هم سجده کوی که امام په خفیه لمانځه کښی آیت دسجدې ووایه سجده به کوی مقتدیانو که څه هم آیت نه دی اوریدلی خودامام په متابعت به سجده ورسره کوی، شخین (رح) وایی مقتدئ چه په لمانځه کښی دقرآن دتلاوت نه منع دی که ئې آیت دسجدې ووایه سجده نه پرامام واجب ده اونه پرمقتدی، مګرامام محمد (رح) وایی چه له لمانځه نه وروسته به ټوله سجده کوی ځکه چه سبب دسجدی پیدا شو امام اعظم اوامام ابی یوسف (رح) وایی مقتدئ چه په لمانځه کښی لـه قـرائت نـه منع دی نـو دا سبب دسجـدې سـبب نه دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل سنت اواهل جماعت چه حنیفی مذهب دی دخپل مذهب دری واړه امامان (رح) ائمه ثلاثه بولی، امام ابی یوسف اوامام محمد (رح) یاران بولی، امام اعظم ابوحنیفه اوامام ابی یوسف (رح) شیخین بولی یعنی سپین ږری، امام اعظم ابوحنیفه اوامام محمد(رح) طرفین بولی یعنی یوسپین ږری بل ځوان.

شیخین (رح) وایی که لمونځ کونکوله داسی چانه آیت دتلاوت د سجدې واوریدی چه په لمانځه کښی شریك نه وو دوی دی په لمانځه کښی دتلاوت سجده نه کوی چه له لمانځه نه فارغ شول سجده دی وکړی، که ئې په لمانځه کښی سجده وکړه کافی نه ده اولمونځ هم نه په فاسدیږی ځکه چه سبب د سجدی چه اوریدل د آیت دی پیداشواوسجده پرلازمه شوه، په لمانځه کښی ځکه روا نده چه آیت د سجدې په لمانځه کښی نه دی ویل شوی، لمونځ ځکه نه په فاسدیږی چه سجده دلمانځه جنسی عمل دی فتوی هم پردغه مذهب ده، مگرامام محمد (رح) وایی که لمونځ کونکو په لمانځه کښی ددغه آیت د اوریدوپه سبب سجده وکړه لمونځ ئې فاسدشو .

که چاله لمانځه نه مخکی آیت دسجدې ووایه سجده ئې ونکړه مجلس ئې بدل نکړ په لمانځه کښی داخل شواوپه لمانځه کښی ئې بیاهمهغه آیت ووایه اوسجده ئې وکړه نودغه یوه سجده د دواړو تلاوتودپاره رواده، که چابیله لمانځه نه تلاوت دسجدې وکړ اوسجده ئې هم وکړه کله چه په لمونځ کښی داخل شوبیائې هم هغه آیت دسجدې ووایه نوپه لمانځه کښی به بله سجده کوی چاچه په یوه مجلس کښی یوآیت دسجدې څوځلی تکرارکړیوه سجده وربانْدی واجب ده، که ئې څوآیتونه د سجدې وویل نو د هر آیت دپاره به سجده کوی، که ئې په یوه مجلس کښی یوآیت د سجدې په څو مختلفوځایوکښی ووایه نوپه هغه شمیربه دتلاوت سجدې کوی .

کله چه څوك نیت دتلاوت دسجدې وکړی الله اکبردی ووایی لاسونه دی نه پورته کوی سمدستی دی سجده وکړی په سجده کښی دی دری ځلی سبحان ربی الاعلی ووایی اوسردی راپورته کړی نه ناسته شته نه دوهمه سجده شته اونه تشهد شته، که چا آیت دسجدې ووایه له هغه ځای نه ولاړی اوبیرته هلته راغی بیائې هغه آیت تکرارووایه نودوی سجدې به کوی، همدارنگه که تلاوت کونکی آیت د سجدې ووایه اوریدونکی واوریدی له هغه ځای نه ولاړی اوبیرته هلته راغی بیاتلاوتکونکی هغه آیت تکرار ووایه اواوریدونکی واوریدی نواوریدونکې به دوی سجدې کوی دقرآن تلاوت که په لمانځه کښی وی یاغیرله لمانځه نه دآیتوویل په ترتیب سره واجب دی، پریښودل دتلاوت دسجدې مکروه عمل دی ځکه چه پریښودل دتلاوت دسجدې مشابهت دهغه چاسره دی چه له سجدی نه منکر وی په حقیقت سره منکردسجدی کافردی نومشابهت ئې مکروه دی، که قاری دخلگو په موجودیت سره د قرآن شریف تلاوت کوي اوآیت ته دسجدی راورسیدی په خفیه سره دی ووایی چه دغه شفقت پراوریدونکودی .

په روح البیان کښی ذکرشویدی که چاڅه مشکل درلودی دقرآن شریف څلورلس دسجدی آیتونه دی په ترتیب سره دوایی خو د هر آیت ترمخه دی مخکنی آیت ورسره ملگری کړی چه څورلس آیتونه او څلورلس سجدې خلاصی شوی نودالله (ج) څخه دی د مشکل دحل په باب غوښتنه وکړی انشاء الله مشکل به ئې حل شی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسافرلمونځ

دسفرقصداوپه قصدسره عمل کول چه په شرعی سفرسره یادیږی په احکاموکښی تغیرراوړی لکه د روژی خوړل او دڅلوررکعته لمو نځ په بدل کښی دوه رکعته لمونځ کول، که دسفرقصدنه وی چه پر ټوله نړۍ راوګرځی مسافرنه دی، همدارنګه که دسفرنیت وکړی اوپه سفرئې شروع کړی نه وی هم مسافرنه بلل کیږی، دسفرمسا فه دمقصد ترځای پوری پروچه لارداوښ په میانه تګ یا پیاده (پلی) میانه تګ د درو ورځولارده شپه نه حسابیږی ځکه چه شپه د اسراحت دپاره ده، په سفرکښی له سهار نه ترماښامه تګ شرط نه دی ځکه چه لمونځ کول، ډوډۍ خوړل اواسرحت کول هم په سفر کښی داخل دی لکه چه په فتاواووکښی وایی که څوك د ورځی له سره بیاترماپښین پوری تګ وکړی داسراحت ځای ته ورسیږی هلته شپه تیره کړی دوهمه اودریمه ورځ همداشان وکړی نوشرعی مسافردی، په هدایه کښی وایی چه اندازه په فراسخو سره معتبره ده چه په ضعیف روایت یوویشت (۲۱) فرسخه اوفتوی پراته لس (۱۸) فرسخه ده.

که څوك د درو ورځولاردموټرپه ذریعه په لس (۱۰) ساعته کښی یادالوتکی په ذریعه په یوه ساعت کښی قطع کړی شرعی مسافر دی .

د وچی دلاری تګ د اوبوله لاری سره برابرنه دی ځکه هره لارځان ته تعین دوخت غواړی، داماماعظم اوبوحنیفه (رح) په حکم مسا فربه څلوررکعتیزه فرض لمونځ دوه رکعته اداکوی اضافه تردوه رکعته روانه دی که ئې تردوه رکعته اضافه فرض لمونځ وکړ ګنهګاردی، که فرض لمونځ څلوررکعته داسی وکړی چه وروسته له اولو دوو رکعتوپه قدردالتحیات ناسته وکړی نواول دوه رکعته ئې فرض او آخر دوه رکعته ئې نفل شول مګردغه لمونځکونکی ګنهګارشوځکه چه د دوو رکعتوفرضوسلام وځنډی دی، همدارنګه که وروسته له اولو دوو رکعتوناسته ونه کړی اوڅلوررکعته فرض ادا کړی فرض لمونځ ئې باطل شواوپه نفل سره بدل شو، مګردامام محمدبن ادریس شافعی (رح) په حکم د مسافر څلوررکعته فرض لمونځ عزیمت دی او دوه رکعته ئې رصخت دی، دسهاراوماښام لمونځونه مسافر ندی ځکه کموالی هم پکښی نشته، په سفرکښی چه څوك آرام وی دلمانځه سنت دی نه پریږدی که ئې تلواروچه موټرورنه تلی یادسفرملګری ناراضه کیدل نوسنت دی پریږدی.

څوك چه په نیت دسفرله کوره ووت چه له خپل استوګن ښار یا کلی د آبادیونه تیرشی دسفرلمونځ به کوی، ترڅوچه داقامت نیت پنځه لس ورځی یااضافه ترپنځه لس ورځوپه کوم بل ښاریاکلی کښی کوی، دغه پنځه لس ورځی یا اضافه مذهب دامام اعظم ابو حنیفه (رح) دی اوروایت ئې عبداله بن عباس (رض) اوعبداله بن عمر(رض) کړیدی، دعسکرنیت دقبول وړنه دی بلکه دامیرنیت معتبردی همدارنګه د ښځی د اقامت نیت اعتبارنلری دمیړه نیت ئې معتبردی، دسفرلمونځ له نیت وروسته پر مسافرلازم دی، که مسافرنیت له پنځه لس ورځونه کم وکړنولمونځ به پوره نه کوی ځکه چه مسافردی یعنی دڅلور رکعته فرض پرځای به دوه رکعته کوی همدارنګه که دمقصد منزل ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسیږی اونیت د اوسیدوئې له پنځه لس ورځونه کم ووخوپنځه لس ورځې ئې تیری کړی بیائې هم داسی نیت ووچه نن یاسبابه ځم اوپه دغه ترتیب کلونه وربانډی تیرشول لمونځ به پوره نه کوی دوه رکعته د سفرلمونځ به کوی ځکه چه مسافردی، له بیهقی نه په صحیح سندسره روایت دی چه عبداله بن عمر(رض) په آذر بایجان کښی شپږ میاشتی او انس (رض) په نیشاپورکښی شپږ میاشتی تیری کړی لمونځونه ئې دوه رکعته مسافرانه کول، که موټرچلونکی کوم بل ښارته باروړی وی او د بیرته راتلودپاره دبارپه لټه کښی وی چه نن یا سبا به بارپیدا شی لدی ښارنه ځم پدغه امیدکښی میاشتی پرتیری شی لمونځ به دوه رکعته مسافرانه کوی، همدارازهغه دسوارلی وړونکی موټرچلونکی چه له خپل استوګن ښار نه ووزی لمونځ به مسافرانه کوی کله چه بیرته خپل ښارته راشی پوره لمونځ به کوی، داسلام عسکر چه دغزادپاره دکفروطن ته ننوزی ترڅوچه فتح ئې کړی نه وی په مابین کښې د قرار او فرار وی د اقامت نیت ئې صحیح نه دی، مسافرچه په مقیم امام پسی اقتداوکړی اودلمانځه وخت نورهم پاته وی نوپرځان ئې متابعت دامام لازم کړکه په اول دلمانځه کښې شریك شویوی که په آخرکښی لمونځ به پوره څلوررکعته کوی، د مسافر د قضائی لمونځ اقتدادمقیم امام په قضائی لمونځ پسی روانه ده ځکه چه دمسافرقضائی لمونځ په متابعت دامام څلوررکعته نشی کیدای، که امام مسافر وو او مقتدیان مقیم وه امام دی خپل دوه رکعته لمونځ وکړی سلام دی وګرځوی مقیم خلګ دی سلام نه ګرځوی خپل لمونځ دی داسی اداکړی چه په پاته رکعتوکښی دی هیڅ قرائت نه وایی په قدر د الحمد لله دی خاموش ودریږی ځکه چه دوی خلف الامام دی، پرامام باندی مستحب ده چه وروسته له سلام نه پرمقتدیا نو ږغ وکړی (زه مسافریم تاسی خپل لمونځونه پوره کړی) ددی ویناګټه داده چه مقیم خلګ پوه شی چه په پاته لمانځه کښی قرائت ونه وایی، په ابوداود او ترمذی کښی لیکلی دی چه رسول الله (ص) چه مکی ته مسافرراغلی وو اودمکی خلګوته ئې لمونځ ورکړ وروسته له سلام نه ئې داسی ویناوکړه، کله چه مسافرخپل داستوګنی ښاریاکلی ته راورسیږی لمونځ به پوره کوی که څه هم د اقامت نیت ئې کړی نه وی ځکه چه په خپل ښارکښی داقامت نیت ته حاجت نشته، که څوك داستو ګنی ښاریاکلی بدل کړی یعنی کوم بل ښاریاکلی ئې داستوګنی دپاره غوره کړبیاپه سفر ولاړی اوهغه اول استوګن ځای ته ورسیدی لمونځ به پوره نه کوی ځکه چه مسافردی، که حاجی نیت داقامت وکړ چه پنځه لس ورځې به په مکه شریف اومنی کښی تیره وم نیت داقامت ئې صحیح نه دی ځکه چه په نیت کښی دوه ځایه چه فاصله سره لری وویل شوه، همدارنګه که یوازی مکی شریفی ته ورغی اوپه مکه مکرمه کښی دپنځه لس ورځوداوسیدووخت نه وو داقامت نیت ئې صحیح نه دی لمونځ دی پوره نه کوی ځکه چه مسافر دی، دامام اوبوحنیفه (رح) په مذهب مسافرله جمع کول د دوو لمونځو دفعل په لحاظ روادی اودوخت په لحاظ روانه دی یعنی مسافرته روادی چه دماپښین لمونځ د وخت وآخر ته وځنډوی او دمازدیګرلمونځ دوخت په اول کښی وکړی، دغه رنګه دماښام او ماخوستن لمونځونه سره جمع کړی چه دغه عمل په جمع صوری سره یادیږی، جمع حقیقی (جمع وقتی) دوه ځایه رواده لکه په عرفات کښی چه دمازدیګرلمونځ دماپښین په وخت کښی اداکیږی چه دتقدم جمع بلل کیږی اودماښام لمونځ دماخستن په وخت کښی اداکیږی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دځنډ جمع بلل کيږي، په احاديثوکښې چه درسول الله (ص) دجمع روايت شويدی مقصدئې جمع صوری ده، په نورومذهبوکښې جمع حقيقی په هرعذر روا ده لکه سفر، باران، ناروغی اوداسی نور.

دغه راز دامام اوبوحنيفه (رح) په مذهب په کښتې کښې په هرحال لمونځ په ناستی روادی مګرامام ابويوسف (رح) اوامام محمد (رح) وايي چه بيله عذره روانه دی . که په سفرکښې لمونځ قضاء شی اوپه کورکښې ئې قضاء راوړی نود دوو رکعتودسفردلمونځ قضاء به راوړی، که له مقيم نه لمونځ قضاء شوغوښتل ئې چه په سفرکښې ئې قضاء راوړی دڅلوررکعتوقضاء به راوړی، فرمان وړونکی اوګنهګارپه سفرکښې يوشان رصخت دی يعنی دواړوته کسردلمانځه او د روژی خوړل روادی ځکه چه دقرآنکريم دالبقره دسورت په (۱۸۴) آيت کښې الله (ج) فرمايلی دی ﴿فمن کان منکم مريضااو علی سفرفعدة من ايام اخر﴾ يعنی که څوك ستاسونه په روژه کښې ناروغه وی ياپه سفرکښې وی روژه وخوری نو روژه نيول په شماردخوړل شوو ورځوپه نورو ورځوکښې وربانډی لازم ده پدغه آيت مبارك کښې د ګنهګاراو فرمان وړونکی توپيرنشته، په حديث شريف کښې راغلی دی د﴿صلوة المسافر رکعتان﴾ يعنی د مسافرلمونځ دوه رکعته دی، په حديث شريف کښې هم دفرمان وړونکی اوګنهګارتوپيرنشته، امام شافعی (رح) وايي چه ګنهګار ته رصخت نشته.

## د جـمـعـی دورځـی لـمـونـځ

دجمعی لمونځ په آيت، حديث اواجماع سره ټنګ فرض دی او منکرئې په اتفاق سره کافردی، دجمعی لمونځ بيله دښاردجامع اودښاردعيدګاه څخه بل ځای روانه دی، عيدګاه خاص شرط نده بلکه په ټولو طرفوکښې دښاردجمعی لمونځ روادی، دښار د اطرافو په پيژندنه کښې اختلاف دی څوك وايي اطراف د ښارهغه دی چه يوميل له ښارنه ليری وی څوك وايي چه دوه ميله له ښارنه ليری وی څوك وايي چه دوه فرسخه ليری وی څوك وايي چه دمؤذن اذان وروسيږی اوڅوك وايي هغه منطقه چه يو سړی سهارپلی ورڅه روان شی دجمعی لمونځ په ښارکښې وکړی مخکی د ماښام نه بيرته خپل ځاتوبی ته ورسيږی، امام اعظم اوبوحنيفه (رح) اوامام محمد(رح) وايي چه په يوه ښارکښې څوځايه دجمعی لمونځ کيدونکی دی چه دغه مذهب صحيح اوهم پردغه مذهب فتوی ده، دمصر(ښار) په تعريف کښې هم اختلاف دی امام ابو يوسف (رح) وايي چه ښارهغه ځای دی چه هلته اميراوقاضی وی او د شرع شريفی احکام اوحدود جاری وی دغه حکم امام کرخی (رح) هم غوره کړيدی، دامام ابويوسف (رح) بل روايت دادی چه دښارجامع هغه لويه جامع ده چه دښارترمسجدوډيرلمونځ کونکی پکښې ځايدلای شی دغه روايت هم امام کرخی (رح) غوره کړيدی، د جمعی لمونځ په کليوکښې روانه دی اوامامت د جمعی دورځی دلمانځه بيله پاچا يا اميرد وخت ياهغه څوك چه اميردوخت مامورکړيوی روانه دی

دجمعی دورځی دلمانځه شرطونه : دماپښين وخت دی وروسته له ماپښين نه روانه دی، امام به دلمانځه نه مخکی دوی خطبی وايي په ليږ ناسته سره به دخطبو په مابين کښې بيلوالی کوی چه پدغه باندی اجماع د امت ده اوهم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به امام خطبه په ولاړی اوپاك بدن سره وايی، امام ابوحنيفه (رح) فرمايی كه خطيب لنډه خطبه ووايی رواده يعنی كه خطيب دخطبی په نيت دومره ذكروو‌ايی سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله كفايت كوی ځكه چه خدای پاك دقرآنكريم دالجمعه دسورت په نهم (۹) آيت مبارك كښی ذكركړيدی ﴿فاسعوالی ذكرالله﴾ پدغه آيت كښی ذكرراغلی دی كه اوږدوی اوكه لنډوی، ياران (رح) وايی چه نوم د خطبی شونوداوږد ذكرڅخه چاره نشته، ديارانو(رح) دمذهب بناء پرعرف ده چه فقط سبحان الله والحمدلله خطبه نه شميری . خطبه په ناستی ياپه بی اودسی ويل رواده ځكه چه مقصد حاصل شومگرمكروه ده ځكه چه دنبی عليه السلام له سنت نه مخالفت دی، د جمعی دلمونځ بل شرط جماعت دی اودامام اوبوحنيفه (رح) په مذهب په جماعت كښی به بيله امام نه لږترلږه دری كسان نورموجودوی، ياران (رح) وايی چه بيله امام نه به دوه كسان نورموجودوی، امام دی په دواړوركعتوكښی قرائت په لوړآوازووايی اودقرآن شريف دسورت تعين نشته، دجمعی لمونځ پرمسافر، پر ښځه، پرناروغه، پرنابالغه، پرړانده فرض نه دی كه دوی دجمعی لمونځ دخلگوسره په جماعت وكړ دماپښين لمونځ وربآندی ساقط شويعنی دماپښين لمونځ دی نه كوی . مسافر، نارو غه اومريی لره روادی چه دجمعی په لمانځه كښی امامت وكړی ځكه چه د جمعی لمونځ ته حاضرشی نو وربآندی فرض شو، كه چابيله عذره په كوركښی دماپښين لمونځ دجمعدلمانځه دجماعت نه مخكی وكړلمونځ ئې روادی مگرمكروه دی، امام اوبوحنيفه (رح) وايی كه دغه لمونځ كونكی په كوركښی دماپښين دلمانځه وروسته فكربدل كړاودجمعی لمانځه ته روان شوهغه لمونځ چه كورئې كړيدی باطل شو، كله چه مسجدجامع ته ورسيدی دجمعی لمونځ هم ورنه تيرشوی وو نودماپښين لمونځ به بيرته راگرځوی، امام ابی يوسف (رح) اوامام محمد(رح) وايی چه دكوردماپښين لمونځ ئې هغه وخت باطل دی چه دجمعی دورځی په لمانځه كښی له امام سره گډون وكړی، په ښاركښی معذور كسانواو د زندان زندا نيانوته دجمعی دورځی دماپښين لمونځ په جماعت سره مكروه دی . كه څوك دجمعی لمانځه ته حاضرشوپه جماعت كښی دی له امام سره گډون وكړی وروسته له سلام نه دی ولاړ شی دتيرشوی لمونځ قضاء دی راوړی، دمثال په توگه كه دامام سره په دوهم ركعت كښی گډون وكړی نو وروسته له سلام نه دی د اول ركعت قضاء راوړی، امام اوبوحنيفه (رح) وايی كه امام په حال كښی دناستی وواوتشهدئې ويل يادسهوی په سجده كښی وو گډون دی ورسره وكړی، مگرامام ابی يوسف (رح) اومحمد(رح) وايی كه دغه سړی ددوهم ركعت ډيره حصه له امام سره ونيول دجمعی لمونځ دی ورسره پوره كړی كه ئې ددوهم ركعت لږ حصه له امام سره ونيول نودامام له سلام گرځولو وروسته دی دماپښين څلور ركعته فرض پوره كړی يعنی كه د دوهم ركعت په ركوع كښی په جماعت كښی گډون وكړی نودامام له سلام نه وروسته دی د ماپښين څلورركعته فرض پوره كړی، امام اعظم ابوحنيه (رح) وايی كله چه امام وخطبی ته حاضرشی نولمونځ كونكی دی سنت اونفل لمونځ پريږدی په دغه وخت كښی قرائت دقرآن، سلام اچول، دسلام ځواب وركول، سنت لمونځ ياتحية المسجد مكروه دی ترڅوچه امام له خطبی نه فارغ كيږی څوك دی خبری هم نه كوی دامام خطبی ته دی غوږشی ځكه چه دخطبی اوريدل واجب دی، ياران (رح) وايی ترڅوچه امام په خطبه شروع كړی نه وی خبری كول روادی، امام شافعی (رح) وايی سنت قبلی ياتحية المسجد يادسلام ځواب مكروه نه دی بلكه روادی . كله چه مؤذن اول اذان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناري کړي خلګ دي پلورل اوپيرودل بس کړي دجمعې لمانځه ته دي حاضرشي په دغه قول دالله (ج) چه دسورت الجمعه په نهم (۹) آيت مبارك کښې فرمايي ﴿ياايهاالذين امنوااذانودي للصلوة من يوم الجمعة فاسعواالى ذكرالله وذرواالبيع﴾ يعنى اى مؤمنانوكله چه دجمعې دورځې دلمانځه اذان ناري شو پلورل اوپيرودل بس کړي دالله دذكر و لورى ته منډې وهى، پدغه وخت کښې هرهغه عمل چه دلمانځه خنډ کيږي حرام دي لکه خوراك خوب، مجلس، پلورل، پيرودل اوداسى نور. امام چه دجمعې د ورځې د دووخطبوپه مابين کښې کښيني دغه وخت ددعا د قبليدو وخت دي هرڅوك دې يوه لنډه دعاوکړي.

## د اخترونو لمونځ

ددواړواخترولمونځونه واجب دي دکمکي اخترپه ورځ و عيدګاه ته دتګ نه مخکې څه شئ خوړل مستحب دي، دلمانځه دپاره دي غسل وکړي ځان دي خوشبويه کړي ښې جامې دي واغوندي که ئې دفطرصدقه (سرسايه) ورکړي نه وى هغه دي هم له ځان سره واخلي اودعيدګاه په لوردي روان شي، امام اعظم ابوحنيفه (رح) وايي چه دعيدګاه پرلاردي تکبيرنه وايي مګرياران (رح) وايي چه دعيدګاه پرلوردي تکبيروايي، داختردلمانځه نه مخکې دي نفل نه کوي کله چه په راختلودلمرپه قدر د دوو نيزودلمانځه وخت رواشو اودلمانځه دوخت ترختميدوترمخه چه دلمرزوال دي امام دي دوه رکعته واجب په جماعت دخلګواداکړي، دکمکي اختردلمانځه نيت داسى دي (نيت مى دى دزړه داخلاصه لمونځ کوم دوه رکعته واجب دکمکي اخترسره دشپږتکبيروپه دغه حاضروخت دڅاښت اقتدامى ده پدغه امام پسى مخ مى دي پرلوري دکعبى شريفي) دلوی اختردلمانځه په نيت کښې دکمکي اخترپه عوض کښې (لوی) اختروېل کيږي نورنيت ئې فرق نلري، لومړي رکعت دي په تکبيرتحريمه سره شروع کړي سبحانك اللهم دي ووايي بيادي لاسونه ترغوږو پوري لوړکړي بل تکبيردي ووايي او لاسونه دي ځوړند ونيسي بيادي دوهم تکبيروو‌ايي لاسونه دي ترغوږو پوري لوړکړي لاسونه دي ځوړندونيسي بيادي دريم تکبير ووايي لاسونه دي ترغوږوپوري لوړکړي اوترنامه لاندې دي ونيسي سورت فاتحه اويوبل سورت دي په لوړآوازووايي دنورولمونځوپشان دي رکوع او سجده وکړي، کله چه دوهم رکعت ته راجګ شي اول به سورت فاتحه اويوبل سورت په لوړآوازووايي بيابه داول رکعت پشان درى تکبيرونه ووايي لاسونه به ځوړند ونيسي په څلورم تکبيرسره به دنورولمونځوپشان رکوع، سجده اوناسته وکړي پسله سلام نه به امام دوى سنت خطبې ووايي دخطبې په لړکښې به خلګ دفطرپه صدقه اودهغه په احکاموخبرکړي اودعابه وکړي، دغه ترتيب له عبداله بن مسعود، حذيقه، دابوموسى اشعري اونوروصحابه کرام رضي الله عنهماڅخه رانقل شويدي، نوراحناف ئې هم معتبر ګڼي

که له چانه داختردلمانځه جماعت پاته شو قضاء ئې نشته ترك د واجب ئې وکړګنهګاردى . که داختر مياشت نه معلوميده په اوريځ کښې پټه وه وروسته له زوال نه دووکسانودقاضي ياحاکم په حضور کښې دمياشتى دليدلوشاهدي ورکړه نوپه سباورځ دي د اخترلمونځ اداکړل شي، که په کوم عذرسره په دوهمه ورځ دلما نځه مخنيوی وشى نوپه دريمه ورځ دى لمونځ نه کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحب دی چه دلوی اختردلمانځه دپاره غسل وکړی خوشبویی ولګوی اودلمانځه ترفراغت پوری خورك وځنډوی وعیدګاه ته دی روان شی پرلاری دی تکبیرونه په لوړآوازوایی په عیدګاه کښی دی امام دوه رکعته واجب لمونځ دکمکی اخترپشان په جماعت دخلګواداکړی، دلمانځه نه وروسته دی امام یوپه بل پسی دوی خطبی ووایی اوپه خطبه کښی دی خلګوته دقربانۍ احکام او د تشریق تکبیرونه بیان کړی، که دکوم عذرپه سبب داختردلمانځه مخنیوی وشی نوسباورځ دی لمونځ وکړی، په دریمه ورځ داختر لمونځ روانه دی، دامام حنیفه (رح) په مذهب دتشریق تکبیرونه دعرفات د ورځی دسهاردلمانځه وروسته شروع اوداختردلومړۍ ورځی دمازدیګروروسته ختمیږی چه ټوله اته (٨) لمونځونه کیږی ، دامام ابویوسف (رح) اوامام محمد(رح) په مذهب تکبیرونه د آخری ورځی دمازدیګردلمانځه وروسته ختمیږی چه ټوله درویشت (٢٣) لمونځونه کیږی، همدارنګه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) په مذهب دتشریق تکبیرونه دکلوپراوسیدونکو، پرمسافر، پرښځه پرهغه چاچه لمونځونه ئې په جماعت نه وی واجب نه دی، په مذهب دیارانو(رح) د تشریق تکبیرونه پر نراوښځه، پرمقیم او مسافر، دښاریادکلوپراوسیدونکوکه ئې لمونځ په جماعت وی یا په ځانګړه توګه وی پر ټولوواجب دی، ټولوشرحواوفتاواوو د یارانوپرمذهب فتوی کړیده، دتشریق تکبیرونه پسله فرض لمانځه نه دادی ★الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبرولله الحمد★ داختردلمانځه دپاره اذان اواقامة نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تراويح، د كسوف او استسقا لمونځونه

## د كسوف لمـونځ

كله چه لمرتورشي (تندري ونيسی) امام دی دخلگوسره په جما عت دوه ركعته نفل لمونځ وكړی په هرركعت كښی دی په خفيه سره اوږدقرائت وايی اويوه ركوع دی كوی، امام ابو يوسف (رح) او امام محمد(رح) وايی چه قرائت دی په لوړ آواز وايی بيادی په گډون دټولوخلگو دعا وكړی ترڅوچه لمرله تندری نه خلاصيږی امامت دی دجمعی دورځی امام وكړی، كه امام حاضرنه وو نو هريودی ځان ته لمونځ وكړی، كه سپوږمۍ توره شی (خسوف) دپاره دجماعت لمونځ نشته هرڅوك دی ځانته لمونځ وكړی همدارنگه دخسوف په لمانځه كښی خطبه نشته.

## د استسقـاء لـمـونـځ

امام اعظم ابوحنيفه (رح) وايی چه دباران غوښتلودلمانځه دپاره سنت لمونځ په جماعت سره نشته كه هرڅوك ځانته لمونځ كوی روادی، امام ابويوسف (رح) اوامام محمد(رح) وايی چه په جماعت سره دی دوه ركعته نفل لمونځ وكړی امام دی قرائت په دواړو ركعتوكښی په لوړآوازووايی وروسته له لمانځه دی پرځمكه خطبه ووايی يعنی خطبه دی پرمنبرنه وايی چه خلگ له گنهونه توبه وباسی، بيا دی مخ پرقبله ودريږی دعا اوزاریـ دی وكړی امام دی خپل څادر واړوی اومقتديان دی څادرونه نه اړوی، اړول دڅادر د نيك پالیـ دپاره كيږی كه څادرڅلوركنجه وو نولوړدی كښته او كښته دی لوړ كړی اوكه څادرگردئ وو راسته پلودی چپ اوړی ته او چپ پلودی راسته اوړی ته واړوی داستسقاء دپاره دی دكفارو اهل ذمه نه حاضيريږی.

## د روژی د ميـاشـتـی قـيـام (تـراويـح)

د روژی په مياشت كښی دماخستن وروسته دخلگوراغونډيدل مستحب دی امام دی پدغه خلگو سره پنځه ترويح لمونځ اداكړی (ترويح څلورركعته دی) او هره ترويح دی په دوه سلامه اداكړی او په مابين كښی ددووترويحودی په قدرديوی ترويح ناسته وكړی بيادی امام دخلگوپه گډون وترلمونځ اداكړی، بيله د روژی دميا شتی بل وخت دی وترلمونځ په جماعت نه كوی.

د قدوری ملاصاحب تراويح مستحب وگڼلی چه دا روايت ضعيف دی، په صحيح مذهب او روايت سره چه دحنيفيانودلوړو فقهاوو(رح) غوره دی شل ركعته تراويح سنت مؤكددی، همدارنگه و نارينو ته تراويح په جماعت سره سنت مؤكددی.

Download from: ketabton.com

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**